

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله :

دمصر کودتاچیان څوک حمایه کوي ؟

دمصر پوځي اوخونړي کودتا چي له امله یې دمصر ۲۰ زره تنه بې دفاع مسلمان ولس دخپلو برحقو غوښتنو په جرم ! قتل عام اوله امله یې دوینوویالي وبهولې ، ټول اسلامي امت یې دغم اودرد په ټغرکښیناوه .


دمصرکودتاچیانوچې ټول اسلامي اوانساني قوانین یې تر پښولاندې کړل اویومنتخب ولسمشریې له واک څخه لیري اوزندان ته ولیږه په هغه یې هم زړه یخ نشواوبالاخره یې دمصرپه هغه لوی اوکړیدلي مسلمان ولس چې له پیړیوپیړیوراهیسې دیوه اسلامي نظام اوملي حاکمیت ارمانجن وو ، نه یواځې ناهیلي اوپه پاکو ارمانونویې خاوري وروااړولي داحق یې هم ورنکړای شو چې دغه مومن ولس خپل غږ پورته کړي اوپه سوله ییزډول خپل فریادوباسي ، هماغه ووچې مصري کوتاچیانو داسرائیلوغاصب رژیم اوامریکایانو په ځانګړې قومنده له ځمکې اوهواڅخه دزرګونومسلمانانووینې تویې کړې اویوه لویه انساني تراژیدي یې رامنځته کړه .

که چیري امریکااوغرب دمصري ولس په روان ناورین کې لاس نه درلودی اودکودتاقومنده یې نه وای ورکړې ، نوبیاولې تردې دمه دغوشیطاني ځواکونو دزړه له تله جدي غبرګون په ډاګه نکړ، کودتاچیانوته یې ګوت څنډنه ونکړه اولږ ترلږه یې دمصردمنتخب دولت دنړولوامل کودتاونه بلله !!؟

دیوه هیواد دپوځ دنده هیڅکله دانده چې هغه په داخلي امورو کې تردې کچې مداخله وکړي چې برحاله اودخلکوپه غوښتنه راغلی اومسلط رژیم ونمړوي او قوانین تر پښولاندې کړي ، بلکې دنده اومکلفیت یې دادی چې دخپل هیوادله ارضي تمامیت او استقلال څخه دفاع وکړي اودخارجي یرغلګرومخه ونیسي ؛ نه داچې په خپل بې وسه اوسوله غوښتونکي ولس خپل استبداد وکاروي ، په جوماتوروغتونو ، کورونو ، واټونو ، لاراو کوڅوکې پرې دمرمیو بارانونه جوړکړي ، ټانګونه پرې وخیږوي اوژوندی انسانانوته اورونه واچوي !!

مونږ په داسې حال کې چې دمصر دوحشي پوځ دغه ورستی اوروان وحشت اوقتل عام په سختوالفاظو محکوموو او له مصري ولس سره خپله همدردي او خواخوږي په ډاګه کوو ، په هغو شقی القلب ضمیرونو اوانسانانو چې دمصري پوځ کړني اوجنایات توجیه کوي غږونه غږونه نفرتونه پرې وایو .

د متعال رب جل جلاله ، دربارته لاسونه لپه کووچې داسلام اوانسانیت ددښمنانوله شراوبربریت څخه نور اسلامي امت ته نجات ورکړي ، په ټاټوبوکې یې ددوی دخوښې اسلامي واکمنی حاکمي او نافذې وګرځوي اوپه خاص ډول دمصر دمظلوم ولس حافظ اوناصرشي (امین)



ګوډاګي میډیا او د تورخم برید!

عبید تنویر ....

باوروکړي پرون مې له یو مخلص ملګري سره په دې خبره بحث کولو چې مجاهدین اخرولې د کډه په شا امریکایانو په هغو وسایطو، ټانګونو او بارقیمتي وسایلو باندي برید نکوي چې د تورخم په یوې پوځي اډې کې راټول کړل شوي او هره ورځ تري یو شمیر کتارونه د پاکستان په لورروانیږي او د تیښتي لارخپلوي، زما ملګري ویل چې که په حساب ۳ مجاهدین کلک تصمیم ورته ونیسي، هغه ځوک یې چې ساتي هغوی ایمان او غیرت نلري، بلکل به ورته مسخرکیږي یا به تښتي او یا به سربایلي.


دالله تعالی کارونه ګوره چې نن سهار وختي همغه ملګري راته میسج ولیږلو چې خبرشوي کنه د تورخم په امریکایي اډي برید شوي او ټول ولاړ ټانګونه، ټیلر، وسلې او وسایل د مجاهدینو په یوه تاریخي برید کې داورلمبه اولولوپه ګرځیدلي چې پرون یې ما او تا ذکر کولو.

ورسته مې چې خبرونه واوریدل او د عیني خلکو خبري چې پیښنه یې په سترګولیدلې وه واوریدې ؛ نو ومې ویل، څنګه چې ما او ملګري مې هسې په ګپ شپ کې خاکه اونقشه برابره کړې وي، همغه ته ورته الله تعالی د ځوتنو مجاهدینو په مټو کې قوت او هیبت واچاو او له استعمارڅخه یې د تیښتې په ورستۍ ځاله کې لوی انتقام اوغچ واخیست اوزړه مو پرې یخ شو، ځکه له دغو ټانګو او جنګي وسایطو څخه به زمونږ د ملت په وړاندې ځومره مرمی وریدلي وي او ځومره جنایتونو د ترسره کیدا په لارکې به کاریدلي وي.

د تورخم برید په داسې یوې نقطه کې ترسره شوی چې هغه ځای له هیڅ چاپټ او په پرده کې نه دی، بلکې په راښه میدان کې امریکایانو د خپلو ټانګونو او وسایطو لپاره له ډیره وخته تم ځای او لوی مرکزجوړ کړی وو، خو په دومره توپیر چې پخوا به د پاکستان له لوري په ټیلروکې ټانګونه اونور جنګي تجهیزات دغې اډې ته راتلل او بیا به بګرام اونورسیموته وړل کیدل، سږ کال بیا له بګرام اونوروولایتونو څخه امریکایي ټانګونه او درنې وسلې اولوازم همدغې اډې ته راټولیدلي او بیا به هره شپه او ورځ له مهال ویش سره سم د افغانستان له پولې د پاکستان په



لاره د خلیج بحرته رسول کیدل.



کوموعاموخلکوچې دغه بريدپه خپلو سترګوليدلی وايي چې په اډې کې ولاړټول ټانګونه اووسايط چې شميرېې له سوونوهم اوړي له منځه تللي اوتورسکاره ګرځيدلي او په خواکې دملي اردومرکزته هم درون ځاني اومالي زيان رسيدلی ؛ خوپه ډالرومسته اوګوډاګی ميډيابياپه دغوټولو حقايقوغواړي پرده واچوي ، هغه تورې لوخړي اوداورلمبې پټې کړي چې په کلومترګردچارپيرخلکوليدلي اوننداره يې کړي.


ولې ډالرخوري ميډيابيا نوموړي پيښه دارنګه تبليغ کړه چې (د تورخم جګړه د بريدکونکوپه وژلوپای ته ورسيده)

ديرغلګروپه خدمت اوچوپړکې دغه ولاړه اومصروفه ميډيااورسنۍ دومره غلامي ته ملاتړلې چې اصلي حقايق څه چې وچ دروغ سره ګډوي اوپه رڼاورځ سپين په توراړوي ، تاسې ددې خبررنګ اوامريکايي پالش ته وګوری چې دتورخم جګړه دبريدکونکوپه وژلوپای ته ورسيده !! يعني په دغه جګړه اوبريدکې بل هيڅ هم ندي ترسره شوي اودمخالف لوري چې امريکايان اويااجيره اردوده دهغوپزه هم نده ويني شوي اودودانيو کوم ديوال اوښيښه يې هم نده ماته اونړيدلې !!!؟

زه دغې اجيرې ميډياته وايم که نورهيڅ هم نشی کولای اودخپلو بادارانوله ويرې دمجاهدينواوعيني شاهدانو هغه کره معلومات قدری هم نشی خپرولای دومره خونشرکړي چې دتورخم بريدلوی زيان اړولی خوامريکايي ويندويان يې له تفصيلاتوورکولونوره ډډه کوي !بيابه مويوڅه غاړي خلاصي شي اوکه غواړي چې دلسګونو ټانګوسکروټې اولوخړي پټې کړي دابه مولويه جفااوغداري وي.

دتورخم ورستی بريدلدې امله له ډيراهميت څخه ډک دی اوشايدامريکايان په جنون راولي چې دسوونوميلونو ډالروپه ارزښت ټانګونه اوقيمتي وسايل اوتجهيزات يې په داسې يوه نقطه کې راټول کړي وي چې هغه ځای يې مصؤن اوله هرډول خطرڅخه خلاص باله اوکوم تکتيک چې مجاهدينوپرې وکاراوه چې لومړی يې په اډه کې په ولاړ ويو شمير ټانکونو کې چسپکي ماينونه ځای پرځای کړل او وروسته يې انفجار ورکړ چې له امله يې دټانګونو او پوځي عرادجاتو په منځ کې سترې چاودنې رامنځ ته شوې او نه قابو کيدونکي اور بل شو ، بيامجاهدينو مخامخ وسلوال بريد پيل کړ اوپه اډه کې ميشت عسکر يې تربريد لاندې ونيول ، فکرکوم چې امريکايانو اوګوډاګيانو به په دې ډول د کوم بريداوتکتيک هيڅ سوچ اوتصورهم نه ووکړی.

زه ددغې ورستی بريااله امله افغان مجاهدولس ته دمبارکی ترڅنګ ترټولو زيات هغواتلانوته دعقيدت نذراني وړاندې کوم چې په خپل بې ساري جرأت اومتانت يې داستکبارغرورونړواوه اوپه يوه ساعت کې يې امريکايانوته دسرپه زيانوسربيره نيږدې ۲ سوه ميلونه ډالره زيان اوتاوان واړاوه ، الله تعالی دې دهغوی فداکاری اوقربانی په خپل دربارکې قبولې وګرځوي .امين



پرشام دامریکا یرغل دکومو اهدافو لپاره ؟

حسن مومند

په شام کې نېږدې راتلونکو ورځو کې څه کېدونکي دي ؟

پـدې الله تعالی ښـه پـوهېږي خـو دحـالاتو او قرایـنو نـه داسې ښکاري چې امریکااومتحدینوپې چې دداخلي جنګ پـه نتیجـه کې دشام کومه بربادي غوښتله او دشامي ولس ترمنځ يې کوم منافرت او دښمني خپروله خبره تر هماغـه حـده رسېدلې ده او اوس دوئ پـه خپل ګومان په شام دیرغل لپاره ټول حالات مناسب ګڼي او ددې وخت رارسېدلی بولي چې ولسمشر اوباما هم دولسمشر بش پـه پـل قدم کېږدي اوپه شام کې هـم دعـراق اولیبیـا تـاریخ ژونـدی کـړي ؛ بش په عراق دعامـه وژونکـو وسـلولرلو تورپـورې کـړ اوبیـاپې پـرې یرغل وکړ اوس دامریکا بل ولسمشـر بـارک اوبامـا د شـام پـه غوطـه نومې سیمې کې دکیمیاوي وسلو کارول او پکې د سونو ولسـي وګـړو مړینه او ټپي کېدل پلمه کوي او پر سور يـې حملـې کولـو تـه تیـارې نیسي ؛ پدې لړ کې يې پنځمه سمندري بېړۍ هم د روم بحیرې تـه رسېدلې ده ، فوځ دتیارسۍ حالت کې دی او دولسمشـر دقوماندې انتظار کوي .

اوباما ویلي چې ,,تراوسه يې په شام دحملې کولـو پرېکـړه نده کړی او په راتلونکي کې بـه پـرې پـه محدوده پیمانـه حملـه کافي شي ،، هغه پي.بي.ایس نیوز سره په مرکه کې وويـل چې ,,دشام دولت دمشق ته څېرمه پـه غوطـه سیمـه کې پـر ولسـي وګـړو دکیمیـاوي وسلو کـارولو کې ککـړ دی او پـرې بـه حملـه دځانـه سـره دا پیغـام ولـري چې دکیمیـاوي وسـلو کـارول ډېـر خطرناک عمل دی ،

دامریکـا ۲ مهمـو متحـدینو برتـانې او فرانسـې هـم خپلـې جنګې بېړۍ ،طیارې او نور جنګي وسایل سیمې تـه رسولي دي او دبرتانې لومړي وزیـر ډیویـډ کیمـرون ویلـي دي چې دامنیت دشوری له اجازې پرته هم پر شام حمله کول جواز لري .

دامنیت شوری ۲ دائمي غړو چین او روسې پر شام دحملې سـره خپـل سخت مخالفت ښکاره کـړی او لـه امریکـا لـه لـورې دامنیت شوری کې پرشام له حملې لپاره وړاندې شوی لوظنامـه هم له همدې دواړو هیوادونو له لورې ویټو شویده.

دملګرو ملتونو سرمنشي بان کي مـون ویلـي دي چې دامریکـا ولسمشر سره يې ټیلفوني تماس ټینګ کـړی او ورتـه يـې ویلـي دي چې ترڅو دملګرو ملتونو له لورې سیمې ته دکیمیاوي موادو پـه اړه دتحقیقاتي پلاوې راپور مخې ته نه وي راغلی پرشام دې حملـه نـه کوي او دحملې لپاره دې روان تیاری هم ودروي.


واتیکـان ویلـي دي چـې دشـام دمسـئلې يـوائینی حـل مذاکرات دي .

که څه هم ډېره نړۍ پرشام دحملې کولومخالفه ده خـو قـرائن او شواهد دا وايې چې پرشام دحملې پـه اړه پـه لویدیځ کې نغاره وهـل شـویده ،امریکا ،برتـانې او فرانسـې دحملـې لپـاره خپـل تیـاری بشپړ کړیدی او ددې قوي امکان دی چې پـه راتلونکـو لسـو دولسـو ورځو کې دناټو غړي یاد۳مځکښ هېوادونه پرشام یرغل وکړي .

د تېر یو کال په اوږدو کې په نړیوالو رسنیو کې دا خبـر بیا بیا تر غوږو کېدلو چې شام دخپلو ډیپوګانو نـه کیمیـاوي وسلې دجنګ تودو سیمو ته انتقال کړیدي او شاید دخپلو مخالفینو پرضد يې په سخت حالت کې وکاروي .

ددې خبرونو په اړه دعکس العمل ښکاره کولو پـه تـرڅ کې بشارالاسـد وویـل چـې ،،دولسـي وګـړو پرضـد بـه هیڅکلـه کیمیاوي وسلې ونه کاروي خوکه بهرنو طـاقتونو پـر شام حملـه وکړه نو دخپلې دفاع لپاره به کیمیاوي وسلې وکاروي ،،

بشارالاسد دلته نه یوائې دا چې دکیمیـاوي وسلو شـتون يې ومانه بلکې ددې وسلو دکارولو اراده يـې هـم ښکاره کـړه چې



دنړیوالـو قوانینـو لـه مخې داد جنګي جرمونـو پـه فهرسـت کې راځي بیا ۳ ځلې دولس پرضد ددې وسلو دکارولو شکایتونه هـم پورته شول خو دنړیوالـو لـه لورې پـدې اړه هیڅ معقـول عکس العمل رامخې ته نه شو.

دکیمیاوي وسلو د کارولو دګواښ او د بالفعل کـارولو پرتـه پـه تېرو کابو ۲۹ میاشتـو کې دداخلي جنګونـو پـه جریـان کـې ۷ میلیونه وګړي بی کوره شـول ، نـورو هیوادونـو تـه دکډه کونکـو شمېر درې نیم میلونـو تـه ورسېد او څلـور میلیونـه کوچنیـان غـذایي مرسـتو تـه سخت اړشـول ، دملګـرو ملتونـو دمهاجرینو ځانګه وایي چې په ۱۹۹۴ کې په نسلي بنسټونو دروندهاد قتل عـام پـه نتیجه کې درامنځته شوي هجرت نه پس دشام هجـرت تـر ټولو ستر هجرت دی.

ددرندو وسلو دکارولو له امله ډېرې سترې ورانۍ رامنځتـه شوې چې دبیا ودانولو لپاره به یې لسګونه کلونو ته اړتیا وي

اوس هم هره میاشت پـه شام کـې تـر ۵ زرو پـورې انسانان وژل کېـږي ؛ داډېـر سـتر بشـري نـاورین و خـو نړیوالـو سـترو ځواکونو او خصوصا امریکا ته دا هیڅ هم پـه نظر نـه راتلل او نـه یې هم ددې شدید بحـران نـه ددې هېـواد دراویستلو لپاره قـدم پورته کړ بلکې برعکس یې دشام دمسئلې دسیاسي حـل لپاره درامخې ته شوي هر کوښښ مخنیوی کړیدی چې پـدې اړه پـه نړیواله سطحه دسختو اعتراضونو لاندې هم راغلې ده ؛ دامریکا او اروپا جاسوسو ادارو دشام دسیاسي حل په لاره کې ددې لپاره خنډونه رامنځته کول او دشام دخپلمنځي جنګ اورتـه یـې لمـن وهله چې دعربوقومي اتحاد ټوټه ټوټه او دیني او قومي تشخص یې لـه منځـه ولاړ شي ترڅـو داسرائیلو پـه نـوم دغاصب دولت دټولو شومو صهیونستي پلانونـو دعملي کېدو پـه لار کې شتـه خنډونـه لـه منځـه ولاړ شي ، لـه هـرډول مزاحمـت پرتـه ددې غاصب رژیم پراښتیا غوښتونکي مقاصد ترلاسه او دتـل لپاره داناقانونه اوناروا دولت په امن کې شي .

دخپل ولس پرضد دکیمیاوي وسلو کارول خو را ډېر نـاوړه عمل دی چې ځومره زیاته غندنه یې وشي کمـه ده او دشام هغـه مشران چې ددې وسلو دکارولو حکم یې ورکړی وي بایـد چې خامخادمحاکمې مېز ته راښکل شي .

هـو! یـواځې هماغـه تنـان چـې واقعـي مجـرمین دي بایـد محاکمـه شي ؛ نـه داچې کـوم مظلـوم ولـس تـه چـې ددې سـتر جنایـت پـه نتیجـه کې لـوی تـاوان رسـېدلی دی وربانـدې حملـه وشي اوددې نه په زرونو چنده ستر نـور تاوانونـه ورواړول شي ؛ نودمسئلې دحل لار پرشام فوځي یرغل ،دلته یو بل قتـل عـام او ددې هېواد لا زیاته تباهي او بربادي نـده، نـه پـه فـوځي یرغلونـو مسائل حـل کېـږي او نـه یـې هـم کلـه مظلومـو ولسـونو تـه ګټـه رسـولې ده، فـوځي یرغـل پخپلـه یـو سـتر ظلـم او خپلـو شـومو اهدافو ته دغاصبو قوتونو درسېدلو یوه پلان شوې لار ده نـو بایـد ټوله نړۍ او په ځانګړې توګه عالم اسلام ددې یرغل دمخنیـوي لپاره خپل ټول کوښښونه په لار واچوي او پرینږدي چې دسیمې امن لاپسې خراب او دلته یو ستر بشري ناورین رامنځته شي.

په داسې وخت کې چې دامریکا ، نـور لویـدیځ او اسـرائیلو د دسیسو پـه نتیجـه کې پـه مصـر کې داخوان المسلمین دولت ړنګ او دلته دفوځ پـه لاس دعامـه وژنـې نـه پـس دبدامنۍ ،بې اطمینانۍ او ددولت او ولس ترمنځ دنفرت نه ډکـه فضارامنځته شوې دکیمیاوي وسلې کارېدل پلمه کول او په شام فوځي یرغل یـواځې او یـواځې دشام پـه څنګ کې دغاصب بزدلـه اسرائیلی دولـت تحفـظ او د اسـرائیلوله لـورې دخـوا اوشـالازیاتو سـیمو دغصب په لار کې دټولو خنډونو له منځه وړل دي .

ددې مذمومو اهدافو دلاسته راوړلولپاره به دوئ داکامیابـه لار ګڼې خوپه حقیقت کې دا خو راډېره ناکامه لار ده ځکه خـوېې دزیاتره لویـدیځو هېوادونـو ولسونه ،شـنونکي او باشعوره کـړئ مخالفت کوي اودا ډېر منفي اقدام بولي نو اوس ددې خبرې ډېـره ستره اړتیا ده چې امریکا او متحدین یې خپل ځانونـه لازیات بدنام نکړي او دټولې سیمې حالات د لازیات خرابوالي پـه لـور دوړلو پرځای دمسئلی حقیقي حل ولټوي .




حکومت استوار بر دیانت است نه بر سیاست

(سعیدی)

کشور های اسلامی با وجود دا شتن منابع طبعی و سر شار در این آواخر در هر گوشه دنیا دچار ور شکستگی و با چالش های پیهم روبرو بوده در قلمرو سقوط قرار دارد چرا ؟

آیا دولت مردان این کشور ها به سیاست آشنا نیستند ویا اینکه وسایل ترقی وپیشرفت وجود ندارد جواب واضحیست که مسلمانان همه را دارند اما از یک چیز یکه محور وهسته اصلی حکومت داری است عاری هستند او عبارت از دیانت داری وعدالت اجتماعی است . حاکم در اریکه حکومت نشسته هست ویا قاضی در کرسی قضاوت نشسته هست شک نیست که نظام امن را در اجتماع قایم کرده میتواند بشرطیکه دیانت داشته باشد وحکمش در قالب عدالت باشد بر عکس از فیصله هایش شایبه ازجور ، ظلم وزیادتی بر ملا میگردد وتمام امت را بر یک نگاه نمیبیند ودر بین خود ودیگران فرق میکند آن حاکم وقاضی حکومت را هم تباه میکند و در ضمن خود هم تباه میشود چنانچه الله متعال در کلام ملکوتیش در ارتباط عدل وانصاف چنین میفرماید (یایهاالذین امنوا کونوا قوامین بالقسط شهداء لله ولو علی انفسکم او الوالدین والاقربین) ای کسانیکه ایمان آورده اید شما قوام بالقسط باشید یعنی با عدل وانصاف فیصله کنید ودیانت داری را در احکام تان بگنجانید اگر چه دیانت داری بر خلاف مقتضیات نفس تان باشد واگر چه بر علیه والدین و اقربای تان باشد در زمانه خلافت امیر المؤمنین حضرت علی رضی الله عنه ایشا ن یک دعوی نمودند قاضی القضات آنوقت کسی بنام شریح بود وصورت دعوی را حضرت چنین بیان داشتند یک حلقه زره که من در هنگام جنگ بر سر خود میپوشیدم در نزد فلان یهودی میباشد بزبر دستی در پیش خود نگاه داشته است ومیخواهم بر زره مذکور تصاحب شوم البته دعوی امیر المؤنین بر حقانیت استوار بود قاضی شریح امیرالمؤمنین را در دفتر قضا احضار نمود با وجود اینکه قاضی شریح ما تحت حضرت علی رضی الله عنه خلیفة المسلمین بودند اما مقام عدل وانصاف آنقدر ازاهمیت والا بر خوردار است که امیر است یا شخص عادی اگر بر علیه کسی اقامه دعوی نماید باید در محضر قاضی بصفت مدعی ومدعی



علیه حاضر شود لهذا امیر بعنوان مدعی ویهودی بسمت مدعی علیه در یک مکان حاضر شدند وصورت دعوا را حضرت بیان نمودند سپس قاضی از ایشان سوال نمود که حضرت کدام بینه ویا شاهدی در اثبات دعوای شان دارند ؟ حضرت دو نفر شاهد را یکی پسر شان حضرت حسن رضی الله عنه ودیگری غلام شان را پیسش نمودند قاضی شریح فرمود گواهی پسر در حق پدر در شریعت اسلام مقبول نمی باشد وغلام یک نفر است نصاب شهادت را تکمیل نمیکند لهذا بر علیه حضرت وبر فایدهٔ یهودی فیصله صورت میگیرد این دیانت است که با وجود تفاوت مقام امیر المؤمنین و یهودی چنین حکم وفیصله صورت میگیرد واز جمله آثار عدل وانصاف اینبود که غیر مترقبه یهودی از جایش بلند میشود وبآواز بلند کلمه طیبه را که (اشهد ان لا اله الا الله واشهدان محمد رسول الله از اخلاص قلبش زمزمه مینماید ودر دایرهٔ اسلام داخل میشود ومیگوید دینیکه در اوچنین عدل وانصاف وجود داشته باشد که امیر وغریب بیک نگاه دیده شود ودر هنگام قضا میلان جزئی بیک طرف صورت نگیرد آن دین کامل واز حقانیت آشکار خبر میدهد و علاه میکند بیشک زره مذکور از آن امیر المؤمنین حضرت علی (رض) است ودر دعوای شان صادق میباشد حضرت این واقعه را مشاهده نموده میفر مایند وقتی تو مشرف باسلام شدی برایم همه چیز است اکنون بر زره ضرورتی ندارم وهمان زره از ان تو باشد همین است که در یک واقعه قضای حقیقی که در آن دیانت داری ،عدل وانصاف است چقدر مزایا معلوم میشود حقوق فرد رعایت ، حقانیت دین اسلام بر ملا ،عظمت صفت عدالت آشکار نتیجتا انقلاب عظیمی رادر عقیدهٔ یک انسان ببار میآورد و اعتماد عوام در برابر حاکم تحکیم میآبد شخصی دربین ملت احساس کمی ، مظلومیت و حق تلفی رانکندودر دین ومذهب خود وفا دار میماند وقتی در وجود عدالت متیقن باشدهیچوقت جرأت شرارت وبد امنی را کرده نمیتوانند از اوسد قوی بر نفوذ دشمنان اسلام ایجاد میشود ونمیتواند فکر ونظریه ملت را تغیر داده علیه نظام دولت استعمال نماید امروز که در کشور های اسلامی اغتشاش ،قیام های ملی ، کشمکش های سیاسی در اوج خود رسیده هما نا علت اساسی آن همین است که دولت مردان در دام استعما ر فرو رفته همانند غلامان حیات خود رادر پرتو منافع اجانب وبیگانگان احساس کرده شراب موقف وجاه طلبی عقل های شانرازایل نموده از حال ملت ونظام بیخبر وکشور را در امتداد بربادی وهلاکت میکشانند وآبادی های یک کشور ویک قدرت پارچه پارچه گردیده روزنه برای نفوذ دشمن ایجاد بالآخره دست خوش بیگانگان قرار میگیرد اگر مسند نشینان ممالک اسلامی دیانت ،عدل وانصاف در برابر ملت را در جای ظلم ،وبیداد گری علیه مردم انتخاب نماید ، اغیار گرای را در مقام خود گرای قایم نماید ، بر عکس هوس رانی وعیش پسندی تفکر وتحصن کشور را نصب العین قرار بدهد همانا هیبت وعظمت عمری پیدا شده ، اریکه قدرتش وسیع میگردد چنانچه در ابدان ، اجسام وظواهر ملت حکومت میکند قلب ها وضمایر عوام را نیز تسخیر مینماید . بلی مردم در حضور سردار جابر وجفا گر اگر چه اطاعت وفرمان برداری را تظاهر میکنند چون بخلوت میرود نفرین ولعنت ها را میفرستد وهمیشه در فکر نابودی آن میکوشد .

مثال واضحش در عصر کنونی سوریه ، مصر وغیره کشور های عربی است زمام داران این سر زمین ها بخاطر راضی نمودن آقایان غربیشان در برابر ملت از هیچ ظلم وجور دریغ نکردند جغرافیای که در آن نورالدین زنگی وصلاح الدین ایوبی (ح) مهرهٔ های عدالت اجتماعی را استوار نموده خطه وجغرافیای حکومت اسلامی را تا خاک اروپا رسانیده بود یهود ونصرانی ها در دامن مذلت وخواری سقوط کرده دست صلح آشتی را دراز نموده بود باتأسف امروز فر هنگ وکلتور غربی های گرگ صفت درآن سر زمین هاحاکم خلاصه دارایی ها وآلات حربی شان بر علیه ملت شان استعما ل میشود و باشارهٔ یهود ونصرانی های فرصت طلب هر روز خون هزاران مسلمان میریزد و از آنسوی مرز از فریا د بیوه زنان وایتام امت مسلمه لذت میبرند.

ډېر افسوس ! داسلامي نړۍ په حال ......!!

رحيمي


نن ورځ په نړۍ کې تر ټول هرچا دمسلمانانو وينه ډېره ارزانه او هرځای لکه داوبو پشان پريمانه بهول کيږي زمونږ لـه هېـواده نيـولي تر برما، کشـمير، مصـر ،عـراق ، شـام اوفلسـطين کفـري ځواکونـه پـه مسـتقيم اونامسـتقيم ډول دمسلمانانو په ټولوژنه لګيادي.

هغـه مسلمانان چې دخپلـو حقونـو لپـاره مبـارزه کـوي دکفارو له سلطي اسلامي امت ازادول غـواړي وربانـدې ټولـه زمکنۍ کره سور تنور ګرځول شوي ، هغوئ دزمکې پـه مخ دژوند له حقه محروم کړل شوي ،امريکايانواونور ودهغـوئ مظومـانو پـه وژلـو اونيولـو لـوږ، لـوږ انعامونـه ټـاکلي ، ددې څخه علاوه په پراخـه کچـه دمسلمانانو نسلي ټولوژنـه دوام لري ، هره ورځ په سوونو مسلمانان په ډېروحشت اوظلم سره دکـافرانو لخـوا وژل کيـږي ، پـه دې ارتـه اوپراخـه نـړۍ کـې هيڅـوک د مظلومـو مسلمانانو چيغـي اوکوکـاري نـه اوري ، دنـړۍ ټـول اسلامي اونـا اسلامي هېـوادو نـه دکفـر پـه پلـوۍ اوظلم په ملاتړ ولاړدي.

په دې وروستيو کې مصر کې ديوه غـلام جنـرال اوددې دور دفرعون (سيسي) لخوا ددغه هېواد دمشروع اوقانوني حکومت په ضد نامشروعه کودتا وروسته هلته هره ورځ دمظلومـواوبې دفـاع مسـلمانانو دقتـل غـام وحشـيانه لـړۍ دهمدې تور بهير برخه ده چې په کفري تالارو کې پلان اوجـوه شـوي ده ، ځودمصر پـه څېـر يـوه مهـم اسـلامي هېـواد کـې داسـلامي نشـأة ثانيـه لار وتـړي اوهلتـه چـې دمسلمانانو سره په زړونو کې دخپل راټلونکي په اړه کومي هيلي او ارزوګانې راټوکيدلي هغه زندۍ کړي په خاصه توګه پـه دې وروسـتيو کـې دمصـرلخوا چـې دغـزې دکلابنـدو مسلمانانو سره کومه دهمدردۍ روحيه راپيداشوي هغه لـه منځه يوسي ، له کومي ورځې نه چې د ولسمشر مرسي قانونې حکومت ړنګ شوی له مصر نه غزې ته تللي لار تـړل شوي اويووار بيا دغزې مسلمانانو له هره لوري کلابند پاتې دي

تر ټولو زياته دانديښنې اوافسـوس وړ داده چـې دمنځنـې ختـيځ يوشـمېرهېوادونو ددې پـه ځـای چـې دمصـر دنـوي فرعـون لخـوا دمرسـي دقـانونې حکومـت ړنګـول وغنـدي ، دمصر دمظلوم مسلمانانو سره خواخوږي اوهمـدردي وښيې هغوئ په ډېره بې شرمانه توګه دنوي فرعـون (سيسـي) پـه پلوۍ دافتوا صادره کړي چې دهغه په لاسو زرګونه شهيدان شوي مظلوم مسلمانان ترهګردي !

هغـوئ پـه ډېـره بيشـرمۍ دجنـرال سيسـي دکـړو وړو څخه نه يوائې ملاتړ اعلان کړلکې ښکاره يې داکرغيـړن هوډ هم ښودلی که پـه مصـر بانـدې لـه بيـرون څخـه مرسـتي بنـدي شـوي دوئ بـه سيسـي تـه هـرډول مرسـته اوکومـک ورسوي.



ددې تـش پـه نامـه اسلامي هېوادو واکمـن دامريکـا پـه محبت کې ښه ډېر مشـهوردي ، مسلمانانو تـرې دا تمـه نـه درلوده چې هغوئ به دامريکا په اشاره شوي ظالمانه کودتـا وغندي ، خو ددومره بزدلانا اومکروه دريځ څرګـندولو توقـع يې هم نه کوله چې په دومره سپين ستر ګی مخامخ هغو بې دفاع اومظلومو مسلمانانو ته دترهګرونسبت وکـړي چا چې پـه سوله يـز ډول دخپلـو روا غوښتنو لپاره احتجـاج کـا وه او دهغوئ په څېر دنورو خلکو دوژلو لپاره دسيسي ملعـون مـلا تـړ اعلانوي ، له دې امله نړی کې دهـر مسلمان سـر لـه ډېـره شرمه ټيټ شوی

دومره مردود جسارت خـو تراوسـه دامريکـا اواسـرايل لخوا هم ندی شوی چې په سوله يز شکل دخپلـو روا غوښتنو لپاره احتجاج کوونکو ته دې ترهګر ووايي !

ترهګـر خـو دمصـر نـوی فرعـون سيسي دی ، چې دبې دفاع مسلمانانو په سرونو يې ټانګونه وګرځـول ، پـه زرګـونـو ميرمني ،سپين ږيري اوکوچنيـان پـه مرميـو غلبيـل غلبيـل کـړل

هـو !دمنځني ختـيځ شـاهي رژيمونـه لـه دې څخـه ډار اواندېښنه لـري چې دنړۍپهمسلمانانو کې چې کومـه نـوي بيداري راټوکيدلي هسې نه هغه دومره غځوني وکـړي چې آن ددوئ ترديوالـــو يـــې څپـــه ورســـي اوددوئ دشـــاهي واکمنيودسقوط لامـل شي ، دې انديښنيوته پـه پـام هغـوئ کوښښ کوي چې دمصر څخه راپورته دبدلون اوانقلاب څپـه هم هلتـه کـراره اوکينـوي دغـه وجـه ده چې دملعـون سيسي ترشـا کفـري او اسـلامي هېوادونـه کلـک ولاړدي ، سيسـي دهغوئ په خوښه اورضا ديوه داسي حکومت په ړنګولـو لاس پورې کـړ چې هغه دمصر ي ولس استازی حکومـت و ، ترشا يـې دمصـري ولـس غـوڅ اکثريـت ولاړ و ، داحقيقـت کـرار ،کـرار ظهور مـومي چې دامريکـا اواسرائل دکـډ سازش پـه نتيجه کې داخوان حکومت پـه ضد کودتاشوي


اوولسمشر مرسي دزندان دتورو تمبو ترشا ليږل شوی

بل جوته شوه چې ديمکراسي يوغولونکی اومردود شعار دی ، نـړی کې لـه سـره ديمکراسي څنګـه چې تبليـغ کيـږي شتون نلري ، بلکې دا دزوراکوللخوا دمظلومـو دغلامولـو يـوه شـومه دسيسـه ده چـې پـه دې پلمـه امريکـا اونـور کفـري هېوادونه ځانوته په نورو خپلواکو هېوادو دبربنډې لاسوهنې چانس برابروي .

ولې که غرب چې په سر کې يې ستر ښکېلاک امريکا ده پـه رښتيا هـم دولسـونو داکثريـت اراوو تـه ارزښـت ورکـولی نوبيا ولې دمصر دهغه قانوني حکومت باندې دشوي ظالمانه کودتا په وړاندې چوپ پاتې شول ؟ ولې سيسي يې محکـوم نکـړ ؟ ولې يې ورسـره دديبلوماتيکواړيکو پريکـون ونکـړ ؟ ولې سيسي ته هرډول سياسي پوځې ،اومالي مرستي ورکوي ؟ دادمسلمانانو دپوهاوي لپاره کفايت لـري بايـد پـو شي چې ديمکراسي هيڅ حقيقت نلري ، دولسـونو داکثريـت اراوو تـه ددرناوي اواحترام شعار درواغ دی ، دنړۍ هيڅ يوهېواد کې هم دزورواک اقليت پـه مقابـل کې بې واکـه اکثريـت اراوي هيڅ وزن اوارزښت نلري

پـه مصر کې ديوه داسې حکومت له منځـه وړل (چې هغه اسـلامي و خوپـه نـوم ! اوډېـر يمکراتيـک و) څرګـندوي چې امريکا اوغـرب تـه داسلام نوم هم دزغملو نـدی ، هغـه يـواځې په نوم اسلامي حکومت سې بزداشت نکـړای شـو او دپـوځي کودتا له لارې يې نسکور کـړ ، پـه دې سره دا نړيوال منافقت ښه څرګند شو چې غربيان دوه مخې پاليسي لـري ،هغـو تـه هرځـای چې ديمکراسي دخپلـو استعماري ګټـو پـه وړانـدې مانع کيږي هلتـه بيا دکتاتوران پالي ، دهغوئ ترشا دريـږي ، دخلکو حقه حقوق ترپښو لاندې کوي ، دزرګونو انسانانو ټولوژنه ورته دمچ وزر اومـره هـم نـه ښکاري هلتـه بيـا دظلـم اوجبر په ژبه خبري کوي

دمصـر دې تـازه وحشتونو وښـوده چې سيکولرزم يـوه بشريت دښمنه مفکوره ده ، څنګـه چې ځوکالـه وړانـدې پـه همـدې مصر کې سيکولريست حسني مبـارک واکمـن هغـه دخپـل نامشـروع واک دټينګښت لپـاره بـې شمېـره انسـانان



داجل کومي ته ولیږل ، داوسنۍ ملعون جنرال سیسي پشان هغه هم دلاریونیانو دځپلو لپاره دهغوئ په سرونو ټانګونه وګرځول ، دزرګونو خلکو سینې یې په مرمیو سورې سورې کړي ،خو کله چې سیکولریستانو دځپلوخارجي بادرانو په اشاره داخوان حکومت په ضد لاریونونه وایستل ، اودهغه دړنګولو غوښتنه یې وکړه ،نونه یې په احتجاج کوونکې مرمۍ ورولي اونه یې دهغوئ په سرونو ټانګونه وخیژول...


ددې باجود هغه حکومت ړنګ کړای شو اویوسیکولر جنرال په واک قبضه وکړه ، هغه همداسي څوک چې دیوي یهودۍ ځوی دی ، اوله اسرائل سره ښه کلکه دوستانه اړیکي لري ، هغه سملاسي په نوي مصر کې دځپل فرعونیت نوی تور تاریخ ولیکه ، سیکولر نړۍ دهغه په ټولو ظلمونو تردې مهاله چوپه خوله ده ، ددې اصلي وجه داده چې هغوئ ګوري چې دظلمونو ښکار اسلام اومسلمانان دي که چېرې په مصر کې ددې زرګونه مسلمانانو په ځای یو قبطي عیسوي ووژل شي بیا به دلویدیځ انګولا اوغوغا وویني چې څومره ژربه دهغه وژنه محکوم کړي ، دوژونکو دنیولو اومحاکمه کولو لپاره به ګړندې ګامونه واخلي میډیا به یونه تم کیدونکی پروګند اوتبلیغ شروع کړي ټوله نړۍ به دهغه په سر وښوروي خوکه بل پلو زرګونه معصوم مسلمانان په ښکاره وژل کیږي نړیوال یې تماشه کوي هیڅوک دا پوښتنه نکوي چې اخر ولې اوپه کوم جرم؟

نه یوازې مصر کې په مسلمانانو باندې دځپل پوځ له لاسه زمکه سور تنور ده بلکې په بنګال اوبرما کې هم په مسلمانانو دژوند کړۍ تنګه ده ، دبنګله دیش سیکولر صدراعظمی حسینه واجد دځای دیني ګوندونو په ضد په نه بښونکو جنایتونو لاس پورې کړی دی ، امریکا اوغربي نړۍ په کلکه دهغې داسلام ضد پلانونوملاتړ کوي اوله امله یې هغه ستایي.

لنډه داچې داسلام اومسلمانانو په خلاف یوه پراخه پلان شوي چګړه په شدت سره روانه ده ، دیوولسم ستمبروروسته که یولورته کفري لښکروافغانستان کې یواسلامي حکومت ړنګ کړ ، عراق ته صلیبي عسکر ننوتل بل پلو ددې سره جوخت په یوشمېر اسلامي هېوادو کې ددوئ معاش خوارو عسکري جنرالانو په مسلمانانو باندې را ایښي اودهغوئ ويني تويوي ، تردې مهاله يوکفرې هېواد لخوا داغېږ بورته نشو چې نړۍ کې له مسلمانانو سره ولې ظلم اوناانصافي کیږي او باید نور پای ته ورسول شي

ددې لویه وجه داده چې دعثماني خلافت له سقوط وروسته کفرې چاراوکو دمسلمانانو ترمنځ دوحدت اویووالې روحیه له منځه ویوړه ، مسلمانان په نړیواله سطحه دځپلې لوي سیاسي واکمنۍ څخه محروم شول ، یوه متحده اسلامي نړۍ په کوچنیو ،کوچنیو هیوادونو وویشل شوه پکې پردې پال غرب پلوي واکمن کړای شول ، هغوئ دځپلو هېوادو الو په ځای دهغه چا ګټو اوخوشالیو ته لومړیتوب ورکوي چاچې پر دوئ داحسان کړی چې ترواک یې رسولي ،له دې وجې که کفرې هېوادونه په کوم اسلامې یرغل وروړي دوئ مجبوردي چې ملاتړیې وکړي دمخالفت په صورت کې دوئ له هغه ترخه عاقبت نه خبردي له کوم سره چې دایران رضاشا مخ شو...

نو اصلي ستونزه پخپله اسلامي نړۍ کې دننه ده څو چې دغه بې ضمیره پردې پال په مسلمانانو واکمن وي ترهغې به مسلمانان دکفارو څپېړ خواره وي اوهم به داسې کله په یوه اوکله په بله نیول کیږي او وژل کیږي به خوبیا هم که خدای کول هغه وخت ډېرلري ندی چې داسلامي نړۍ دننه راپورته دوښتابه څپه ټول امریکايي پلوي رژیمونه پړمخې نسکور کړي خوپه دې شرط که داسلامي امت ځوان نسل لږ خپل مسؤلیتونه درک کړل ؟ داغیارو دغلامۍ نه ووتل اوپه کلک عزم یې دځپل راتلونکې نجات پرېکړه اوتصمیم ګیري وکړه سره یوغږ اویو موټی شول ....



دا کوم ګوزار وو چې امریکایانو ۷۰۰ اډې تخلیه کړې ؟

خلیل الله

دناټو وياند جنرال هاينس فيلدمن ،له پژواک اژانس سره دزمري دمياشتي په ۲۸ په کابل ويلي چې دخارجي قواوو ۹۰ سلنه اډې په افغانستان کې تخليه شوي ، چې اکثره يې ويجاړې اوکم شميرېې دکابل رژيم قواووته په واک کې ورکړل شوي .

هغه که څه هم داډوويجاړول دکابل رژيم دتقويې ننبه وبلله چې امنيتي اوجنګي خلا دوی ډکه کړي اوډيره اړتيانه ليدل کيږي چې دناټولښکري په ګډوعملياتو کې برخه واخلي ، خو دغه بې حافظې وينددوی دمرکې په بل ځای کې په خپله خبره پښې ږدي اووايي : لويې اډې ځکه نړوي اوخپلې درنې وسلې رژيم ته په واک کې نه ورکوي چې لاهم دملي اردو ځواک اوچمتوالی په هغه اندازه کې نه ليدل کيږي چې بشپړباوروباندې وشي ، ځکه داويره شته چې طالبان به دغه اډې دخارجي قواووپه نه شتون کې د ملي اردوله لاسه و باسي اوکيدای شي وسلې طالبانو ته په لاس ورشي !!!


جنرال هاينس فيلدمن، دخبروپه مهال داراز هم رالوڅ کړ چې دوی لدې امله ۷۰۰ اډې تخليه اوله منځه يوړې چې دکابل رژيم کې دومره مالي وسه اوځواک نشته چې هغوي په خپلو تاسيساتو اومراکزوسربيره امريکايي اډې او جوړشوي تاسيسات هم کنترول اواکمال کړی شي ، يانې دده له خبروڅابته شوه چې امريکايان په هيڅ بيه تيار ندي چې حتی په امنيتي اوپوځي برخوکې هم لدې ورسته درژيم تشه ډکه اونقدي مرسته هم وکړي .

له بل لوری دکابل واکمنو اوپارلمان کومي وشليدل چې او امريکايانو ! ګوری داسې مکوی ، ياخواول اډې مه ويجاړوی مونږ ته يې وسپاری اوکه فرضاويجاړوی يې اوزړه مو طاقت نکوي نوهغه وسلې خو مونږ ته راکړې اوکه وسلې نه راکوی اوفکر کوی چې طالبان به يې بيارا څخه ونيسي نوداتجهيزات اووسايط خوراته وسپاری اوکه مووددغوټولومستحق نه ګڼې پروانکوي بادران مويي !! خوهغه کباړاوله ستاسې له کارلويدلې اجناس خورابانده ولوروی ؛

ولې امريکايانو ددوی دغه يوه سوال اومنت ته هم ارزښت ورنکړ اډې يې ويجاړې ، وسلې اومهم وسايط يې ګريس بند اوپه کانټينرونوکې مهرولاک کړل اوکباړ سامانونه يې ياويلي اوله ځای په ځای له منځه يوړل اويايې هم په خارجي شرکتو وپلورلو ترڅوله افغانستان څخه يې وباسي ، مطلب داچې امريکايان چمتوندی څوخپلو ګوډاګيانوته دخپلو وسايلو اوفضله جاتو هغه خاوري اوايري اوتش بوتلونه هم په اختيار کې ورکړي !!!؟

دکابل ددفاع وزارت ويندعظيمي هم تيره اونۍ له طلوع سره په مرکه کې سخته ګيله وکړه چې امريکايان لدوی سره ناځواني کوي دده په خبره حتی کومه اډه چې هغوی تخليه کوي دملي دفاع وزارت ته يوراپور قدری هم نه ورکوي ، بلکې ډيرې آډې داسې تخليه شوي چې سهاروي اوبيګاه نه وي !

خو دامريکايانو ددغې وارخطااوعاجلې تخليې اصلي وجه او لامل که څه هم هرچاته لکه لمرښکاره اوثابت دی چې په دريو څلورمياشتوکې د۸۰۰ مجموعي اډوڅخه ولې ۷۰۰ اډې په دومره بيړني ډول دوی وراني اوله منځه يوړې چې هغه له شک پرته دمجاهدينو اوفدايي اتلانو دتوري شرنګ اودخالدبن وليد دمبارکو عملياتو تکتيکونه وو چې دامريکاملايې ماته او رنځاورځ يې پرې توره شپه کړه ، خوپه هغه سربيره دنيوزويک امريکايي مجلې هم په دې ورستيوکې يوې مهمې خبري ته اشاره کړې اوويلي دي چې (د پنتاګون ، سی ای اې اودسپيني ماڼۍ) ګډه پريکړه داده چې له ۲۰۱۴ کال وړاندې بايد امريکايي قواوي له افغانستان څخه ارومروراوويستل شي ، دوی دری واړه دې نتيجې ته رسيدلې چې افغان ولس دکابل دواکمن رژيم اودهغه دسياسي اپوزيسون (ټلوالې) په نسبت طالبانو ته ډيرارزښت ورکوي اوطالبان نورله هغې مرحلې وتلي چې دکومې پوځي ستراتيژۍ په نتيجه کې دې شکست ووينې اويادې کمزوري شي ، همدغه علت دی چې امريکايانو تصميم نيولی وړاندې تردې چې دتباهی په دايمي لومه کې بنديانتي شي اوهسې خوشي په مليياردونو ډالرنورويلي کړي اودرنه مرګ ژوبله ووينې ، نجات په همدې کې ځای کې دی چې له افغانستان څخه پښې راسپکې اوملي اردواواربکيان ترهغو چې ددوی ټولي قواوي راباسي دمرګ کومې ته وغورځوي .



بدگمانی مرضی مهلک و خطرناک

مولانا محمدحنیف قاسمی
مترجم
عبدالهادی سیدزاده


بدگمانی بر خدا و بندگانش جرمی سنگین و عملی ناپسند است. از دیدگاه قرآن عاقبت و انجام آن تباهی و خسران است. ریشه ی این جرم در حقیقت فریب نفس، تحقیر دیگران و عیب جویی است و با اوّلین معصیت شیطان نزدیک تر است که اساس آن تکبر و غرور بود. خودپسندی و خودفریبی، خیانت و فریب کاری از آن جنایات مهلکی هستند که در حدیث نبوی به آن اشاره شده است» : **ثلاث مهلکات: شح مطاع، و هوی متبع، و إعجاب المرء بنفسه)** «. صحیح الجامع الصغیر : ۳۰۴۲)؛ سه چیز از اسباب هلاکت هستند:

۱ - بخلی که انسان مطیع آن باشد،

۲ - خواهشی که انسان تابع آن باشد،

۳ - غرور و خودنمایی انسان.

بنابراین بر هر مسلمانی لازم است از هر پست و مقام والا و شأن و شوکت رفیعی که باشد، پایین آمده و در جلوی مردم متواضعانه رفتار نماید. عینک سیاه خویش را در آورده و در میان بندگان خدا در تلاش خیره رستگاری و بهبودی فریضه ی خویش را ادا کند. حسن ظن را بر سوء ظن و برائت را بر تهمت ترجیح داده و با مردم چنان اخلاق و برخوردی داشته باشد که آن مناسب با شأن یک انسان باشد. آن ها بنابر تقاضای بشری می خورند و می نوشند و در بازار رفت و آمد دارند. انسان مخلوقی آسمانی یا فرشته نیست؛ خلقت او نه از نور است و نه از نار؛ بلکه از همین خاک» **من حمإ مسنون** «آفریده شده است. لذا این اصل فراموش نشود که در ما در مورد هیچ شخصی فقط بر ظاهر آن مجاز به قضاوت نیستیم. مسؤولیت باطن و اسرار دیگر به عهده ی خداوند هستند. برای تفتیش و تحقیق ما مسؤول پاره کردن گریبان و دل های مردم نیستیم، بلکه قلب ها را سپرد و حواله ی رازدار قلب ها و علام الغیوب بکنیم.




در این چهارچوب بر مردم احکام اسلام را اجرا نماییم. ما می دانیم که در میان این ها مسافر و معذور وجود دارد و گاهی از مسافر و معذور ظاهراً کاری که خلاف دینداری و شرع باشد، دیده می شود؛ لذا ما نباید بدون آگاهی به ظاهر حکم و قضاوت کرده بد گمان باشیم. هیچ مؤمنی از خیر خالی نیست گرچه ظاهر آن در منجلاب شر و معصیت فرو رفته باشد. معصیت خباثت و گَند گی است؛ مثال آن مانند آب قلتَین است که در آن احتمال ناپاکی باقی نمی ماند. همین‌طور انسانی که در شر و معصیت مبتلاست، اما خیر و خوبی هم در وجود او باشد، پس خیر و خوبی بر شرّ غالب می آید؛ «إن الحسنات یذهبن السیئات». نگاه ما باید بر مردم همانند نگاه دکتری شفیق و دلسوز نسبت به مریض باشد نه مانند نگاه یک پلیس بر مجرم! چه بسا مردم در رتبه و مقام از ما بالاتر اند.

از زند گی عملی و از درجات آن ها خداوند به خوبی واقف است. در میان اولیاء الله نیز از حیث مادی و معنوی سلسله مراتبی وجود دارد؛ بعضی غنی و بعضی فقیر، بعضی عالم و بعضی عابد هستند. هر گاه با دیگران نسبت به مسأله ای اختلاف نظر پیدا شود، پس آن نگاه مغرض و ناراض فقط بدی ها و خامی ها را می بیند و بس. علما می فرمایند: سعادت و خوشبختی انسان در این است که بر عیب های خویش نظر داشته و در پی اصلاح آنان باشد و هر کسی این‌طور عمل کند، قطعاً فرصتی برای عیب جویی و عیب گویی دیگران نمی یابد.

]هر زمان و هر لحظه که انسان کاملاً در اسلام دربیاید و قوانین و فرامین قرآن و سنت نبوی علیه السلام را اسوه و الگوی خود قرار داده و آن ها را در قلب خود جایگزین نماید، یقینا قلب او دیگر جایی برای هیچ گونه کراهت و بد گمانی پیدا نمی کند؛ چون شعار قرآن و سنت همیشه این بوده و هست که» **:إذا جاء کم فاسق بنبأ فتبینوا«، و» ظنوا بالمؤمنین خیراً .«بلکه خداوند متعال** خیلی دقیق و با ظرافت تمام، بر اعمال انسان ها نظارت و بدون کمی و کاستی مطابق اعمالشان با آن ها معامله می کند و نسبت به هیچ کسی بد گمان نیست.

همین‌طور رسول خدا- علیه السلام- با ذکاوت و فراست به امت نظر داشته و به کسی بد گمان نبود. تجربه نشان داده و تاریخ گواه است که بد گمانی در میان ملت ها و اقوام، زن و مرد، علما و آحاد بشریت هیچ گاه مسالمت و اصلاح به ارمغان نیاورده است، بلکه چه آشوب و فتنه هایی در میان آنان به پا کرده است که این جنایت عظیمی علیه بشریت و گناهی بسیار بزرگ است که اتحاد و همدلی مسلمین را بر هم می زند. چون وقتی که همه‌ی مسلمان ها بر یک‌دیگر بد گمان باشند، پس چگونه خدمت دین را انجام می دهند.

بر ماست که هیچ موقع هم چون اهل الظواهر نباشیم و بر ظاهر بند گان الهی حکم و فیصله ننماییم و در مورد هیچ کسی چنین فکر نکنیم و علم الیقین نداشته باشیم که چون ظاهر یکی است پس صد در صد باطنش نیز چنین است؛ بلکه همیشه «إن أکرمکم عندالله أتقیکم» را معیار قرار دهیم. از پرورد گار عالم، این امید را دارم که ما را بر منهج قرآن و سنّت و راه صحابه خادمان دین و سلف صالح استوار بگرداند و دل های ما را پاک و صاف نگه‌دارد[.



اهل سنت والجماعت

اهل سنت والجماعت


یاناجیه فرقه

دویمه برخه

مفتي شاهد حقاني

لکه څنګه چې مو په تېر بحث ورته نغوته وکړه، چې نن سبا د فتنو پدې بحراني دور کې محققین علماء په خپل اغلب اطلاق سره د (اهل السنة والجماعة) مصداق د څلورګونو مذاهبو پیروان بولې او ددې نه هم انکار نکوي چې هغه خوک هم (اهل السنة والجماعة) کیدای شي چې د سلفو صالحینو عقاید وته درناوی لري او د حضرت (مولینا غرغشتو رحمه الله) پر وینا هغه خوک (اهل سنت والجماعت) دي چې (سب سلف) نکوي، یعنې اسلافو پسې بد رد نه وایې او نه یې مسلوکې طریقې له سنتو خلاف بولې.

کتل کیږي چې د معاصرې نړۍ د اهل سنتو غوځ اکثریت چې هغوئ د مذاهب اربعه تر بیرغ لاندې راغونډ دي، د عقایدو په علم کې ددوو نامتو امامانو تر سیورې لاندې راټول شوي، چې یو (امام ابو الحسن اشعری رح) دی او بل (امام ابو منصور ماتریدی رح) دی، د علم عقاید د پوهانو د پخوانیو څیړنوله مخې د شام، عراق او خرسان خلک د امام ابو الحسن اشعری رح پیروان او د هند، پاکستان، افغانستان په ګډون د ماوراء النهر ولسونه چې غوځ اکثریت یې احناف دي، د امام ابو منصور ماتریدي رح پیروان دي، یا په بل عبارت د دې ګونو مذاهبو پیروان زیات (اشاعره) او د امام ابو حنیفه رح د مذهب زیات پیروان (ماتریدیه) دي، چې دوئ د سلفو صالحینو او صحابو و عقاید خپل کړي او خپل ځان لدې امله اهل السنت والجماعت بولي، خوله بده مرغه چې په همدغو اقالیمو کې نور داسې خلک هم شته چې سلفو صالحینو او مخصوصا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې راشدینو خلفاوو ته (العیاذ بالله) مبتدعین وایې، دهغوئ سنت او نیکې طریقې خلاف سنت معرفي کوي او په ډیره سپین سترګۍ ورته بدعت وایې، دا کار په څو معلومو مسئلو کې کوي، لکه د جمعې په ورځ دوهم اذان پیلول، رمضان المبارک کې د تراویحو د تجمع مسئله، طلقات ثلاثه مغلظه واقع کیدل،.... او داسې نور محدود مسائل، ددې لپاره چې د احادیثو د متونو او شروحو په مستنده حواله مو دې ډول خلکو ته ځواب موندلی وي، سندا او متنا به ورته د شبهې د ازالې په پار د منل شویو کتابونو حوالې، منقول دلایل له خلصې پښتو ترجمې او لنډې شرحې سره رانقل کړو، ځکه همدوئ خلفاء رضوان الله عنهم اجمعین دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ننګه یې کړې او د اسلام دین یې د خپلو وینو په بیه مونږ ته رارسولی، د سپین زړو محسنانو په بنه یې پر امت حق دی چې دفاع ترې وکړې او په باب یې شکوک ځواب کړي.



.صحابه کرام او مخصوصا خلفای راشدین رض هغه څوک دي چې دا سلام مبارک دین یې شرق او غرب پورې ورساوه او دعربو او عجمو وچې دښتې یې په خپلو سپیڅلو وینو سیراب کړي، خو بیا یې هم ځینې خلک پر احساناتو معترف ندي، اهل تشیع خو هسې هم دځینو صحابو و دښمنان دي خو هغه څوک چې ځانته اهل سنت والجماعت وایي بیا هم ترې داسې خبرې اوریدل ډیرې هیښونکي وي، څرګنده ده چې هغه څوک به داهل سنت والجماعت تر تعریف لاندې راځي چې دخلفای راشدینو رضوان الله تعالی عنهم اجمعین افعال بدعت نه ،بلکې سنت اوددوئ چاروته ددې نبوي صلی الله تعالی علیه وسلم ارشاداتوله امله سنت وایي چې فرمایي((حدیث العرباض بن سارية - رضي الله عنه - قَالَ: وعظنا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - مَوعظةً وَجلتْ منها القُلُوبُ، وذرفت منها العُيُونُ. وقد سبق في باب النهي عن البدع. لفظ الحديث: «وعظنا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - موعظة ذرفت منها العيون، ووجلت منها القلوب، فقلنا: يا رسول الله، كأنها موعظة مودع فأوصنا، قال: «أوصيكم بتقوى الله، والسمع والطاعة، وإن تأمر عليكم عبد حبشي، فإنه من يعش منكم فسيرى اختلافًا كثيرًا، عليكم بسنّتي وسنّة الخلفاء الراشدين من بعدي، تمسكوا بها وعضّوا عليها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور، فإن كل محدثة بدعة» .(تطريز رياض الصالحين).

لنډه ژباړه: عرباض بن ساریه رض وایې چې مونږته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې وعظ وکړ، چې له امله یې زړونه وویریدل او سترګې یې وبهولې، نو مونږ ورته وویل چې ای دالله ج رسوله! ګویا دادې وداعي یا وروستی وعظ دی، نو مونږته وصیت وکړه! نو هغه وفرمایل: چې زه تاسو ته وصیت کوم: دالله ج څخه په ویره، دخپل مشر په سمع او اطاعت، اګر که په تاسو یو حبشي مری مشروټاکل شي ،پس یقینا چې څوک تاسو کې ژوندی پاتې شو نوډیر اختلاف به وګوري، پرتاسو زما دسنتو التزام لازم دی او زمانه پس دخلفای راشدینو، پرهغې کلکې منګولې ولګوئ او پرنواجذو غاښونو(هغه چې دخولې په پای کې وي او غښتلي وي)یې ونیسئ، او تاسو دمحدثو(دین کې نوي کارونونه)نه ځانونه وساتئ، ځکه هرنوی کار په دین کې بدعت وي. دې حدیث کې دخلفای راشدینو افعالو ته سنت وویل شول او امت یې په پیروۍ مکلف شو.


وقال النبي عليه السلام: عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين. (الموطأ بروايتين)/ژباړه: رسول الله صلی علیه وسلم فرمایي چې پر تاسو باندې زما سنت او زما دخلفای راشدینو سنت لازم دي/دې پورتنو دواړو مرفوع احادیثو کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دځای ناستو یا خلفاوو سنت پر مسلمانانو لازم وګرځول شول، ددوئ طریقو او تګلاروته دسنت نوم ورکړل شو او واجب الاتباع وګرځول شول، دې وروستې حدیث شریف کې هم همدا مفهوم دځه نوراضافه والې سره تشریح کیږي.

دجمعې دورځې ددوهم اذان په هکله ددې لاندیني روایت نه په ډاګه څرګندیږي چې داسنت دی او که څوک ورته بدعت وایي له حدیث سره به یې خبره متصادم وي:

قوله (عن السائب بن يزيد) بن سعيد بن ثمامة الكندي وقيل غير ذلك في نسبه ويعرف بابن أخت النمر صحابي صغير له أحاديث قليلة وحج به في حجة الوداع وهو ابن سبع سنين وولاه عمر سوق المدينة سنة ۹۱ إحدى وتسعين وقيل قبل ذلك وهو آخر من مات بالمدينة من الصحابة قوله (كان الأذان على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبي بكر وعمر إذا خرج الإمام) أي للخطبة وجلس على المنبر (أقيمت الصلاة) كذا في النسخ المطبوعة في الهند وقد ذكر أبو بكر ابن العربي في عارضة الأحوذي هذا الحديث بلفظ وإذا أقيمت الصلاة وهو الصحيح وكذلك وقع في رواية أبي عامر عن ابن أبي ذئب عند ابن خزيمة إذا خرج الإمام وإذا أقيمت الصلاة وكذا للبيهقي من طريق ابن أبي فديك عن ابن أبي ذئب كذا في الفتح والمعنى كان الأذان في العهد النبوي وعهد أبي بكر وعمر أذانين أحدهما حين خروج الإمام

وجلوسه على المنبر والثاني حين إقامة الصلاة فكان في عهدهم الأذانان فقط ولم يكن الأذان الثالث والمراد بالأذانين الأذان الحقيقي والإقامة وفي رواية وكيع عن ابن أبي ذئب عند ابن خزيمة كان الأذان على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبي بكر وعمر أذانين يوم الجمعة قال ابن خزيمة قوله أذانين يريد الأذان والإقامة يعني تغليبا أو لاشتراكهما في الإعلام كذا في فتح الباري (فلما كان عثمان) أي خلافته أو كان خليفة (زاد النداء الثالث) قال الحافظ في رواية وكيع عن ابن أبي ذئب فأمر عثمان بالأذان الأول ونحوه للشافعي من هذا الوجه ولا منافاة بينهما لأنه باعتبار كونه مزيدا يسمى ثالثا وباعتبار كونه جعل مقدما على الأذان والإقامة يسمى أولا ووقع في رواية أن التأذين بالثاني أمر به عثمان وتسميته ثانيا أيضا متوجه بالنظر إلى الأذان الحقيقي لا الإقامة (على الزوراء) بفتح الزوراء موضع بالسوق بالمدينة قال الحافظ ما فسر به البخاري هو المعتمد وجزم ابن بطال بأنه حجر كبير عند باب المسجد وفيه نظر لما في رواية ابن اسحاق عن الزهري عند ابن خزيمة وابن ماجه بلفظ زاد النداء الثالث على دار في السوق يقال لها الزوراء وفي روايته عند الطبراني فأمر بالنداء الأول على دار له يقال لها الزوراء فكان يؤذن له عليها وفي رواية له من هذا الوجه فأذن بالزوراء قبل خروجه ليعلم الناس أن الجمعة قد حضرت كذا في الفتح وفيه أيضا زاد أبو عامر يعني ابن خزيمة عن ابن أبي ذئب فثبت ذلک حتى الساعة وفي رواية يونس يعني عند البخاري بلفظ فثبت الأمر كذلک والذي يظهر أن الناس أخذوا بفعل عثمان في جميع البلاد إذ ذاک لكونه خليفة مطاع الأمر لكن ذكر الفاكهاني أن أول من أحدث الأذان الأول بمكة الحجاج وبالبصرة زياد وبلغني أن أهل المغرب الأدنى الان لا تأذين عندهم سوى مرة وروى ابن أبي شيبة من طريق ابن عمر قال الأذان الأول يوم الجمعة بدعة فيحتمل أن يكون قال ذلک على سبيل الانكار ويحتمل أنه يريد أنه لم يكن في زمن النبي صلى الله عليه وسلم وكل ما لم يكن في زمنه يسمى بدعة لكن منها ما يكون حسنا ومنها ما يكون بخلاف ذلک وتبين بما مضى أن عثمان أحدثه لإعلام الناس بدخول وقت الصلاة قياسا على بقية الصلوات فألحق الجمعة بها وأبقى خصوصيتها بالأذان بين يدي الخطيب انتهى تنبيه قال بعض الحنفية الأذان الثالث الذي هو الأول وجودا إذا كانت مشروعيته باجتهاد عثمان وموافقة سائر الصحابة له بالسكوت وعدم الإنكار صار أمرا مسنونا نظرا إلى قوله صلى الله عليه وسلم عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين انتهى قلت ليس المراد بسنة الخلفاء الراشدين إلا طريقتهم الموافقة لطريقته صلى الله عليه وسلم قال القاري في المرقاة فعليكم بسنتي أي بطريقتي الثابتة عني واجبا أو مندوبا وسنة الخلفاء الراشدين فإنهم لم يعملوا إلا بسنتي فالإضافة إليهم إما صاحب سبل السلام أما حديث عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين بعدي تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ أخرجه أحمد وأبو داود وابن ماجه والترمذي وصححه الحاكم وقال على شرط الشيخين ومثله حديث اقتدوا باللذين من بعدي أبي بكر وعمر أخرجه الترمذي وقال حسن وأخرجه أحمد وابن ماجه وابن حبان وله طريق فيها مقال إلا أنه يقوي بعضها بعضا فإنه ليس المراد بسنة الخلفاء الراشدين إلا طريقتهم الموافقة لطريقته صلى الله عليه وسلم (تحفةالاحوذى لمحمد المباركفورى)

/ لنډه ژباړه او خلص مفهوم :سائب بن يزيد رضى الله عنه چې خورا کوچنی صحابي او په اوکلنۍ کې يې حجة الوداع کړی او بيا تر ټولو روستی صحابي دی چې وفات شوی ،فرمايې چې په نبوي دور ،دابوبکرصديق رض او عمررض دخلافت په پېرکې به دوه اذانونه کيدل ،يو پرمنبر دخطبې پروخت او بل اقامت (تغليبا ورته اذان وويل شو)وروسته دعثمان رض په دورخلافت کې دريم اذان دخلکو دااعلان لپاره (لومړی اذان)و شو اوددې اذان امريې وکړچې په (الزوراء) وشو ،دا(الزوراء)يادمدينې منورې بازارکې دکوم ځای نوم دی ،دبخاري په روايت دمسجدنبوي ص مخکې يوه ستره تيږه ده ،يادمدينې بازارکې دکوم کورنوم دی ،يادا چې دده دخپل کورنوم الزوراء دی.چې دابه ترقيامته




پوره وي، په (تحفة الاحوذي) کې (محمد مبارکپوري) ليکي: چې ځيني احناف وايي چې دادريم اذان دعثمان رض په اجتهاد پيل شو او نورو صحابوو پرې دموافقت له امله چوپتيا غوره کړه او کوم ډول انکاريې پرې ونکړ، نو دادې حديث شريف ته په کتو يو مسنون عمل وګرځيد، ((عليکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدين المهديين))، دبخاري شريف په روايت هم دا امر ثابت پاتې شو، ترقيامته پورې به دا مسنون عمل پاتې وي، که څه هم دفاکهي د روايت له مخې دادريم اذان مکه کې حجاج او مدينه کې زياد) پيل کړی ((خو داکمزوری روايت دی)) په عثماني دروخلافت کې دادريم چې لومړی اذان دی شروع شوی او ترقيامته پورې به پاتې وي، ځکه حضرت عثمان رضی الله عنه خليفه مطاع او حکم يې ټولو ته دمنلو وو، نو دا به دسنت په ډول پاتې وي، هو ابن عمر رضی الله عنه دې دريم اذان ته بدعت ويلی خو جواب يې دادی چې دا په نبوي ص دورکې نه وو، نو ځکه ورته نوموړي دبدعت کلمه کارولې، يا هم دبدعت نه دلته بدعت حسنه مراد دی نه سيئه، او دا مذموم نوي بلکې ممدوح وي.

دالعرف الشذی عبارت دا سې دی چې:

المشهور أن الأذان في عهده عليه الصلاة والسلام كان واحداً وخارج المسجد عند الشروع في الخطبة، وكذلك في عهد الشيخين، ثم قرر عثمان أذاناً آخر قبل الشروع في الخطبة خارج المسجد على الزوراء حين كثر المسلمون، والزوراء قيل: حجر، وقيل: سوق، وقيل: بناء، وهذا الأذان كان قبل الأذان بين يدي الخطيب بعد الزوال، فانتقل الأذان الذي كان في عهده عليه الصلاة والسلام إلى داخل المسجد، هذا هو الصحيح، وفي فتح الباري ما يدل على أن هذا الأذان شرع في عهده عليه الصلاة والسلام واشتهر في عهد عثمان، وفيه ما يدل على أن هذا الأذان من عهد عمر، وبعضها تدل على أن الإضافة هذه من أمراء بني أمية، ولكن هذه كلها ضعاف، ثم الأذان الثاني وإن حدث في عهد عثمان ولكنه لا يقال بأنه بدعة ـ عياذاً بالله ـ فإنه من مجتهدات عثمان، وأما وجه الاجتهاد فظاهر على مذهب الشافعي فإنه صرح بجواز تكرار الأذان لصلاة واحدة ولو أربع مرات عند الضرورة، وأما على مذهب الأحناف فيقال: أولاً إن التكرار مشروع للضرورة مثل التكرار في الفجر، فإنه كان أحدهما للتسحير، كما صرح محمد في كتاب الحجج بأن الأول كان للتسحير، وأيضاً في الحديث: < عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين.. إلخ > وفي شرح هذا الحديث قولان، قيل: إن سنة الخلفاء والطريقة المسلوكة عنهم أيضاً سنة وليس ببدعة، وقيل: إن سنة الخلفاء في الواقع سنة النبي - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وإنما ظهرت على أيديهم، ويمكن لنا أن نقول: إن الخلفاء الراشدين مجازون في إجراء المصالح المرسلة، وهذه المرتبة فوق مرتبة الاجتهاد، وتحت مرتبة التشريع، والمصالح المرسلة: الحكم على اعتبار علة لم يثبت اعتبارها من الشارع، وهذا جائز للخلفاء الراشدين لا للمجتهدين، وزعم البعض أن الخلفاء الراشدين ليس لهم إلا ما للمجتهدين، وهذا غير صحيح، وبعض مسائل أبي حنيفة تدل على أن لهم مساغ إجراء المصالح المرسلة، وعض عليها بالنواجذ:

منها ما اعتبر الدرهم السبعي، والحال أنه ليس عنه عليه الصلاة والسلام، وفيه تبديل حكمه عليه الصلاة والسلام ظاهراً وليس هاهنا وجه الاجتهاد ظاهراً، وكان الدرهم في عهده عليه الصلاة والسلام درهماً تكون عشرة منها قدر عشرة مثاقيل، ودرهماً تكون عشرة منها قدر ستة مثاقيل، ودرهماً تكون عشرة منها قدر خمسة مثاقيل، ثم اختلف العاملون والمتصدقون في عهد عمر، فقال عمر: يجمع عشرة وستة وخمسة فيحصل إحدى وعشرون، ثم يؤخذ الثلث أي السبعة، فقدر الدرهم الذي تكون عشرة منها قدر سبعة مثاقيل، فاعتبر أبو حنيفة الدرهم السبعي في الزكاة، وهذا المذكور موجود في كتبنا. (العرف الشذی للکشمیری) ج۲/ص۶۹

لنډه ژباړه او خلص مفهوم: هغه چې مشهوره ده، هغه داده چې په نبوي صلی الله عليه وسلم دوريا عهد کې يو اذان وو، چې دجومات نه به بهر دخطبې دشروع کيدو پر وخت ويل کيده




،همدالړی ددواړولو مړنیو شیخینو رض په دور خلافت کې هم روانه وه ،دریم خلیفه عثمان رضی الله عنه دخلکو ډیروالي له کبله دوهم اذان مقرر کړ، چې دنبوي صلی الله علیه وسلم د دور اذان دننه جومات تـه ننـوت ، اوداد وهـم اذان دجومات نـه بهرپـاتې شو ،همداتحقیق سم اوپرځای دی ،فتح الباری لیکلې چې دا اذان په نبوي صلی الله علیه وسلم دور کې هم و ،خو دعثمان رضی الله عنه په وخت کې مشهورشو ،نوروایې چې داااذان دعمررضی الله عنه په وخت هم و ،نوربیا وایې چې دادوهم اذان دبني امیه ووپه دورکې و ،خوداټولې کمزورې خبرې دي ،که څه هم دا دوهم اذان دعثمان رضی الله خلافت کې راپیدا شوی ،خوهیڅوک دې ته بدعت نشي ویلی (العیاذبالله) ،بلکې دادعثمان رضی الله عنه له مجتهداتو څخه دی ،دشوافعو په نزدیې داجتهاد وجه څرګنده ده، چې دوئ دیوه لمانځه لپاره آن تر څلورو اذانو نوپورې هم رواوایې ،او احناف داذان تکرار دضرورت پـه اسـا س روا بـولي ،لکـه دپیشنمي اوسهار دوه اذانونه.

اودې حدیث کې ((علیکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدین المهـدیین...))دخلفاوولـه سـنتونه مراد یا پخپلـه ددوئ مسـلوکه طریقـه اوسنت دي ،یا تـرې درسول الله صلی الله علیـه وسلم هغـه سـنت دي ،چـې دخلفاوو پـه لاس ښـکاره شـوي وي ،خـوددې شونتیا شته ،چې مونږ ووایو چې خلفاء پـه مصالحو مرسله ووکې مجاز دي چې اجرآت وکړي ،اومرسله مصالح هغه حکم دی چې په اعتبار دعلت سره وي خو اعتبار یې لـه شارع نـه نـوي راغلـی ،دامرتبـه لـه اجتهادنـه فـوق اولـه تشـریع نـه تحت یـا لانـدې ده ،اودامرسـلـه مصـالح اجراءکـول یـوازې دخلفاوو لپـاره وي دمجتهدلپاره نوي.

د امام ابوحنیفـه ځینې مسایل ښیې چې خلفاوو تـه دمرسله مصـالحو اجراء جـواز لـري لکـه (الـدرهم السـبعی)یعنـې ددرهـم مثقالي اندازه ټاکل ،چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پکې څه نشته اوهم ظاهرا پکې دهغه صلی الله علیه وسلم دحکم نقض دی او کوم اجتهادي تومنه هم نلري ،لکه په نبوي صلی الله علیه وسلم پېر کې ،درې دراهم مروج وو ،یو ډول داسې درهم و ،چې لس دراهم یې دلسو مثقالو په اندازه وو ،بل قسم داسې دراهم وو ،چې لس دراهـم یې دشپږو مثقالو په اندازه برابر وو ،بل قسم داسې وو ،چې لس دراهم یې دپنځو مثقالو په اندازه کېدل ،ددوهم خلیفه پـه وخـت کـې دمتصـدقینو او عاملینو ترمنځ اخـتلاف پیدا شو ،نوعمر رضـی الله عنـه پریکـړه داسـې وکـړه چـې داټـول عددونـه دې سره جمع شي ،نـو یوویشـت بـه تـرې جوړشـي ،(۱۰+ ۵+۶=۲۱)ددې نه پس به ددې دیوویشتو ثلث راواخستل شي ،چې هغه اووه کیږي ،دابه دلسو دراهمو مثقالي اندازه شي ،یعنې دده پـه فیصلـه لـس دراهـم اووه مثقالـه کیـږي ،نوهمـدا انـدازه امـام ابوحنیفه رح دزکات لپاره وټاکله اوهمدا (الدرهم السبعی)نن سبا دزکات معیارشو.دلته هم دزکات لپاره یو داسې درهمې معیار ټاکل چې په نبوي ص دورکې نه وه، دبدعت اطلاق پرلویه بې ادبي ده، بلکې دا دمرسله مصالحو داجرآتو ترحکم لاندې راځي او خلفای راشدین ترهرچا مخکې په سنتو عالمان وو.

بل دلته دجمعې ددوهم اذان په باب پوره وضاحت وشو ،چې ددریـم خلیفـه پـه حکـم پیـل شـوی او دې تـه بـدعت ویـل دصحیح حدیث نه مخالفت دی ،اګرکه ځینې خلک اوس داسې شته چې دادوهم اذان نکوي ،په څرګنده له(عرباض)لـه صحیح حدیث نه تخلف دی ،باید دوئ خپل ځانونه له دریم خلیفه نه فوق ونه شمیري ،ځکه نن سبا استقرار په همدې دوهم اذان شوی چې تخلف ترې نا مناسب دی.


ته ځیرمه او داچین په ولسوالیو کې څه موده وړاندې دګډ دښمن لویه قوه ددرندو تلفاتو په لیدلو سره په شا تمبول او دبټي کوټ ولسوالي دچهاردهي په سیمه کې دګډ دښمن ستره قوه دزیاتو تلفاتو په لیدلو سره د سیمې نه تیښتي ته اړ کول ، دده بالا او چپرهار په ولسوالیو کې ددښمن دسترو قواوو په کراتوماتول ، دحصارک په ولسوالي کې دخارجي اوداخلي دښمنانو درې ورځني لویو عملیاتو په مقابل کې کلک مقاومت چې بالاخره ددښمن په ستر زیان او ناکامۍ باندې تمام شول ، دطورخم او جلال اباد لویه لاره دمهمند درې ، غني خیل او بټي کوټ په ولسوالیو کې ددښمن دنظامي قواو او اکمالاتي کاروانونو په وړاندې هر وخت بندول او تهدیدول چې په نتیجه کې یې دښمن ته درانده مالي او زیاني تلفات اوړي ، او په دا نږدې کې دخوګیانو او شیرزاد ولسوالیو کې ددښمن ستره قوه مکمله ختمول ، حتی په بعضې ولسوالیو کې ددښمن سره په شواروزونو جګړې تر سره کول ، همدارنګه دبټي کوټ په ولسوالي کې ددښمن دلویې لارې څلور پوستې او دچپرهار په ولسوالي کې یوه پوسته دیو زیات شمیر عسکرو په وژلو او یو شمیر غنایمو په نیولو سره فتحه کول ، دجلال اباد ښار د رینګ روډ په سر یوه پوسته دیوې درندې چاودنې په نتیجه کې په مکمله توګه له منځه وړل ، همدارنګه هغه ولسوالۍ چې تر ننه پورې خاموشه وې او یا هم پکې کوم دپام وړ کارونه نه و شوي لکه سرخرود ، بهسود ، دره نور ، خیوه ، کامه ، ګوشته ، رودات ، لعلپوره ، کوټ ، پچیراګام او دور بابا ، لله الحمد اوس پکې په دښمن دانفجاراتو او یا په تعرضي شکل منظم بریدونه کیږي ،

همداراز دیادونې وړ ده چې دغني خیل په ولسوالي کې یوه تنکي ۱۲ کلن مجاهد د یوې برچې په واسطه یو امریکایي یرغلګر په ورمیږ وواهه او ځای پر ځای یې وواژه.

پورته ذکر شوي عملیات هغه څه دي چې دننګرهار ولایت په جهادي بهیر کې دچټکتیا ، پرمختګ او کامیابي ښکارندویي کوي.


دپوښتنې ددوهمې برخې په اړه باید ووایم چې دننګرهار ولایت اړونده ولسوالیو زیاتې سیمې داسلامي امارت دمجاهدینو دولکې اوادارې لاندې دي یواځې او یواځې دولسوالیو انګړونه او پوځي مرکزونه ددښمن په واک کې دي لکه: دنازیان ، اچین ، سپین غر ، ده بالا ، چپرهار ، بټي کوټ ، خوګیاني ، شیرزاد ، حصارک .

همدا راز د پچیراګام ، کوټ ، لعل پوره ، مهمند دره ، غني خیل ، رودات او سرخرود ولسوالیو غرنۍ او اطرافي سیمې داسلامي امارت دمجاهدینو دحاکمیت او کنترول لاندې دي.

بعضې نورې هغه ولسوالۍ لکه کامه ، خیوه ، دره نور ، ګوشته ، بهسود او دور بابا اګر چې دمجاهدینو تر سلطې لاندې نه دي مګر وخت ناوخت پکې دچریکي بریدونو تر څنګ په دښمن باندې انفجارات هم تر سره کیږي .

لنډه دا چې دننګرهار په ولایت کې دښمن هیڅ وخت او په هیڅ ځای کې ارام ، مطمئن او مصئون نه دی.

د پوښتنې ددریمې برخې په اړه باید ذکر کړم چې لله الحمد دننګرهار باشهامته ولس داسلامي امارت دمجاهدینو سره په خورا زیاته پیمانه مرسته او تعاون کوي که دولس ملاتړ مونږ ته حاصل نه وای نو داسلامي امارت مجاهدینو به دومره پراخ کنترول نه درلودای ، همدا وجه ده چې دتیرو کلونو په پرتله سږکال ددښمن له لورې چاپې په سلو کې ۱۰ فیصده ته را کمې شوي ، په زیاتره ولسوالیو کې بعضوقومونو په پټه یا هم په علني ډول داسلامي امارت دمجاهدینو سره ملاتړ او حمایت اعلان کړی همداوجه ده چې دامریکایانو او دکرزي دګوډاګي رژیم دزیات کوشش او په ولس باندې دزیات فشارسره سره بیا هم اربکي پروسه پیاوړې نه ده .



۲ . **پوښتنه**: په دې ورستيوکې دننګرهار اړوند دخوګيانو او شيرزادوولسواليو په مربوطاتوکې له خارجي يرغلګرواو ددوی له غلامانوسره مجاهدينولويه جګړه ترسره کړه اودمعلوماتوله مخې دښمن ته پکې دروندزيان اوستره رسوايي واوړيده ، تاسې که په دې باب توضيحات راکړي ، چې ددغې پېښې اصلي علت څه وه ، مجاهدينوله څه ډول تکتيکونوکاروا خيستو اوغليم ترکومې کچې وځپل شواواوس هلته مجاهدين په کوم حالت کې قرارلري ؟

ځـــــواب : بايد ووايم چې دا پوښتنه په څلورو اجزاؤو مشتمله ده :

اول جزء : دشيرزاد او خوګيانو ولسوالۍ دجګړې اصلي علت ؟


دوهم جزء : مجاهدينو دڅه ډول تکتيکونو کار واخيست ؟

دريم جزء: غليم ترکومې کچې وځپل شو ؟

څلورم جزء: اوس هلته مجاهدين په کوم حالت کې قرارلري ؟

داول جزء په اړه : وخت ناوخت مجاهدينو ته داسې اطلاعات رسيدل چې دښمن ځو ميله اسلحه د شيرزاد په ولسوالۍ کې توزيع کړې او غواړي چې اربکې پروسه په کار واچوي دا چې مجاهدينو کوم دقيق معلومات نلرل په همدې خاطر يې کوم عکس العمل نه ښوده خو مسلسل دکره معلوماتو په راټولولو بوخت و ، څو ورځې وروسته (دورځې) داسلامي امارت دمجاهدينو له جملې څخه دوه تنه پياوړي مجاهدين هر يو فضل ولد تور او عبدالله ولد حاجي روژه ګل دشيرزادو دمرکيخيلو دشنډي توت په سيمه کې په داسې حال کې چې په موټر سايکل سپاره و په ناځاپي ډول دکمين سره مخ شول چې په نتيجه کې دواړه مجاهدين ورونه په شهادت ورسيدل دا چې ددوی په متقابلو ډزو دقاتلينو دډلې څخه يو تن (رفيق ولد وردګ) زخمي شوی و او پاتې نور يې دپيښې دځای څخه وتښتيدل داچې دمجاهدينو له پخوا څخه په نوموړي کورنۍ شک و چې داربکي مليشو لپاره يې اسلحې اخيستي وي اوس نو مجاهدينو ته يقيني شوه چې نوموړې کورنۍ ددولت څخه داربکي مليشو لپاره اسلحه اخيستي او نور هم په دې کوشش کې دي چې خلک داربکي مليشو لپاره جذب کړي په همدې خاطر مجاهدينو ټوله سيمه محاصره کړه بالاخره زخمي دمجاهدينو لخوا ووژل شو او پاتې تښتيدلي کسان دحاجي وردګ کور ته ورغلل مجاهدينو نوموړی کور محاصره کړ دبعضو قومي سپين ږيرو په منځګړتوب يې ترې دقاتلينو دتسليميدو غوښتنه وکړه هغوی انکار وکړ او دمجاهدينو سره يې په مسلح مقاومت لاس پورې کړ مجاهدين مجبور شول چې نوموړې کلا دبريد لاندې ونيسي چې دغې جګړې يوه ورځ او شپه ونيوله ،ديادونې وړده چې په همدې شپه دخوګيانو دوزيرو په سيمه کې داربکيانو پوسته دمجاهدينوله لوري محاصره شوه دمحاصرې سره سمدستي اربکيانو دپوستې څخه وتښتيدل مجاهدينو پوسته له کوم مقاومت پرته ونيوله ، ددوی دحمايت او خلاصون لپاره دکرزي د مزدورې اداري سرحدي لواء ، ملي اردو ، ملي پوليس ، دچټک غبرګون قطعه او دخوګيانو او شيرزاد ولسواليو اربکيان دګڼ شمير رينجر موټرو او ټانګونو او نورو جنګي وسايلو په مرسته سهار وختي دشيرزادود مرکيخيلو سيمې ته راورسيدل ددې قوي درانګ سره سم دخوګيانو او شيرزادو ولسواليو نور مجاهدين هم نوموړې سيمې ته راورسيدل او په جګړه يې لاس پورې کړ .

ددوهم جزء په اړه دومره وايم چې مجاهدينو دمختلفو تکتيکونو څخه کار واخيست لومړی مجاهدينو سيمې ته ورتلونکې دخوګيانو او شيرزادو ټولې لويې لارې وتړلې او هم يې دراتلونکو قواوو دځپلو لپاره دلارې په اوږدو کې کمينونه ونيول او هم يې انفجاري مواد ځای پر ځای کړل ددښمن راغلې قوه سيمه کې محاصره او دوتلو لاره ترې ورکه شوه ، لنډه دا چې دمجاهدينو اخلاص ، تقوی ، صبر ، وحدت ، اطاعت او په مبارکه روژه کې دومره لوړ همت کول هغه اسباب و چې الله تعالی خپل نصرت شامل حال کړ او دښمن يې دسترې رسوايۍ او ناکامۍ سره مخامخ کړ .



ددریم جزء په اړه درته دومره ویلی شم چې دجګړې په جریان کې دشیرزادو په مرکیخیلو سیمه کې ددښمن شپاړس عرادې رینجر موټرې روغې رمټې ونیول شوې (چې وروسته یې ځینې وسوځول شوې او نورې یې مجاهدینو دځان سره بوتلې) او دوه ټانګونه یې وویشتل شول وسوزیدل ، دخوګیانو دخدرخیلو په سیمه کې یو ټانګ او یو رینجر وسوزول شول او یو رینجر روغ رمټ ونیول شو . یو شمیر عساکر یې ووژل شول او یو زیات تعداد نور یې ټپیان او څه نور یې دخلکو په کورونو ننوتل چې وروسته دکورونو څخه دوتلو په مهال یې بعضې ووژل شول او بعضو نورو یې یوې کلا ته پناه یوړه چې دمجاهدینو له لوري دسیمې دمخورو کسانو په منځګړتوب تري دتسلیمۍ غوښتنه وشوه هغوی دتسلیمیدو نه انکار وکړ مجاهدین مجبور شول چې دکلا په داخل کې دښمن باندې برید پیل کړي په دې دوران کې ددښمن ډیر عساکر ووژل شول او بعضې نور یې دشپې دتیارې څخه په استفادې وتښتیدل ،

ددښمن دمرستې لپاره خوګیانو ولسوالۍ لخوا نوره قوه راروانه وه چې دخوګیانو دقیلغو په سیمه کې تري دوه رینجر دماینونو په واسطه انفجار کړای شول او دوه ټانګونه یې دخوګیانو دزاوې په سیمه کې وویشتل شول ، ددې مرستندوې قوې دشکست څخه بعد امریکایې برغلګر دخوګیانو لخوا مرستې ته راروانه شوه چې دخوګیانو دزاوې دتور راغه په سیمه کې تري یو ټانګ دماین په واسطه انفجار کړای شو ، نو ددې کبله یې جرآت ونکړ چې مخکې تګ وکړي بلکه ځای پرځای ودریدل او دشپې بیرته وتښتیدل .

دلومړیو معلوماتو په اساس دخوګیانو او شیرزادو په دغه ستره او مخامخ جګړه کې ددښمن ۸۴ کسان ووژل شوي او ۸۹ تنه یې ټپیان شوي او دورستنیو معلوماتو له مخې دمړو شمیره د ۱۰۰ تنو څخه هم زیاته ښودل شوې ځکه چې داختر نه وروسته هم دجوارو په پټو او نورو پټنځایونو کې ددښمن مړي پیدا کیږي ، **۲۵** میله غټه او وړه اسلحه او څلور پایې مخابرې او نورګڼ شمیر مهمات او پوځي توکې مجاهدینو په غنیمت نیولي .


برسیره پر دې چې دولس خلکو ددښمن څخه کومه وسله په غنیمت نیولې دهغې کره شمیره معلومه نه ده ، دمرکیخیلو په سیمه کې ددښمن زیات شمیرسوزول شوي رینجرموټراو ټانګونه اوس هم پراته دي ، دقیلغو او زاوې په سیمو کې ویجاړ شوي رینجر موټر او ټانګونه دښمن دځان سره انتقال کړي .

دجګړې دشروع نه تراخره پورې **۵** تنه مجاهدین دشهادت لوړ مقام ته ورسیدل او **۴** تنه زخمیان شوي .

دپوښتنې دڅلورمې برخې په ځواب کې چې مجاهدین اوس په کوم حالت کې قرار لري وایم چې لله الحمد دمجاهدینو مورال او حوصله لوړه ده او دخوګیانوپه اطرافي او دشیرزادو په ټولو سیمو کې حتی دولسوالۍ دتعمیر په ۲۰۰ مترۍ کې په هغه رینجر موټرو کې چې ددښمن څخه په غنیمت نیول شوي ګرځي او هم پیاده مسلح مجاهدین ګرځي او پهرې ، دولس په منځ کې عادلانه فیصلې ، دولس دبچو دتربیت نظارت او ولس ته داصلاح او ددین او داسلامي امارت منافع ورپه ګوته او داسلامي امارت لوایح او فرامین عملي کوي .

۳ . **پوښتنه** : له شیرزادوسره په خواکې دحصارک ولسوالی په باب دکابل اجیررژیم له ډیره موده راهیسي تبلیغات کوي چې په حصارک اوازري ولسوالیوکې یې پراخ تصفیوي عملیات پیل کړي اوګنې سیمې یې له مجاهدینونیولي ، ښاغلی والي صاحب لطفاکه دحصارک ولسوالی په باب کې معلومات راسره شریک کړي چې اوس حالت هلته څنګه دي ؟

ځواب : ریښتیا هم دکابل اجیر رژیم دحصارک ولسوالۍ ته دپراخ تصفیوي عملیاتو لپاره خپل عساکر دزیات شمیر هیلي کاپټرو په مټ دولسوالۍ



ودانۍ ته نږدې ښکته کړل چې سمدلاسه دمجاهدینو له لورې دکلک مقاومت سره مخ شول چې ټوله ورځ سخته جګړه وشوه چې ۹ تنه ترې ووژل شول او ۱۵ نور یې سخت ټپیان شول دجګړې په جریان کې دښمن سخته بې رحمانه بمباري وکړه چې په نتیجه کې یې ۴ تنه مجاهدین ، درې تنه ملکي وګړي او درې تنکي ماشومان او یوه زنانه شهیدان شول او ۵ ماشومان او درې زنانه ټپیان شول. بیا هم مجاهدینو په پوره استقامت او شهامت خپلو سنګرونو او سیمو ته دښمن پرینښود ، دشپې دښمن څه عسکر دچورلکو په واسطه ولیږدول او څه نور یې پاتې شول سبا ورځ دښمن دولسوالۍ دودانۍ څخه دهاوانونو په وسیله شاوخوا سیمې دبرید لاندې ونیولې چې ملکي خلکو ته پکې مرګ ژوبله واوښته او دمجاهدینو له لورې هم ورباندې د درندو وسلو بریدونه شروع شول چې دښمن ته یې ځاني او مالي تلفات واړول چې کره شمیره یې په لاس کې نه لرو ، ددې نه وروسته دښمن جرآت ونکړ چې دپوځي ودانیو څخه دباندې راووځي او دمجاهدینو په لور حرکت یا جګړه وکړي ، او دمجاهدینو له لوري وخت ناوخت بریدونه پرې کیدل ، بالاخره دپراخو تصفیوي عملیاتو لپاره راغلی دښمن څه دپاسه یوه میاشت وروسته دشوال دمیاشتې په ۲۰ مه نیټه له یوې فاحشي ماتې سره مخ او له سیمې څخه په داسې حال دچورلکو په واسطه ووتل چې دمجاهدینو دبرید لاندې وه ، چې په دې ترتیب دمجاهدینو دواک سیمې لا پسې وغځیدې.

داچې دنړۍ مطبوعات او خبرې رسنۍ ددښمن تر مستقیم تاثیر لاندې دي نو همیشه داسې تبلیغات کوي چې ددوی په نفع اوګټه وي دمیډیا تبلیغات هسې بې بنسټه دي بلکه حالات چې دښمن څنګه ارزول هغه ورته معکوس شول ددوی دارنګ پوچ تبلیغات دخوګیانو او شیرزاد په ولسوالیو کې هم دنیاوالو ته په ډاګه شول او همدارنګه نړیوالو رسنیو کاروکوونکې کولی شي چې دحصارک ولسوالۍ ته لاړ شي تر څو حقایق په سترګو ووینې.

۴. پوښتنه: دجلال اباد ښار اوپه خاص ډول په هوایي ډګر اوهم جلال اباد - تورخم په لویې لارې دمجاهدینوکاري عملیات څه ډول ارزیابي کوي ؟

ځواب: وړاندې له دې چې دجلال اباد ښار او طورخم جلال اباد دلویې لارې دمجاهدینو کاري عملیاتو باندې رڼا اچوو باید ووایو چې په نوموړو ځایونو کې عملیات داسې حیثیت لري لکه دیوانسان په زړه ، سر او دملا په تیر چې ګوزار کوې داچې دطورخم جلال اباد لویه لاره ددښمن داکمالاتو لپاره یواځینۍ لویه لاره ده چې دښمن پرې اکثرو ولایاتو ته پوځي او خوراکي توکي لیږدوي ددې لارې په ناامنه کیدو سره ددښمن ته سخته نظامي ، اداري ، اقتصادي ، سیاسي او روحي ضربه رسیږي . نو په همدې وجه ورته زیاته توجه پکار ده نو مجاهدین هم دخپل وس سره ورته قوي متوجه دي.

لکه مخکې مو چې هم یادونه وکړه دجلال اباد په ښار کې دګډ دښمن په چټک غبرګون قطعه چې دا یو دخارجیانو دروزنیزو مرکزونو دجملې نه دی فدایي عملیات او په دښمن وخت ناوخت انفجارات او په هوایي ډګر توغندییز بریدونه دمجاهدینو له لورې تر سره کیږي ، دطورخم او جلال اباد لویه لاره دبټي کوټ ، غني خیل او مهمند درې په ولسوالیو کې په مکمله توګه دتهدید لاندې ده خصوصا دبټي کوټ په ولسوالي کې هر وخت او هر ځای یې دبندولو توانمندي لري حتی چې ځینې وختونه دلویې لارې څخه ددښمن رینجر او سراچه ډوله موټرې دمجاهدینو لخوا دغنیمت په توګه لاسته راوړل کیږي ، همدا راز لکه څنګه مو چې یادونه وکړه چې دبټي کوټ په ولسوالي کې دلویې لارې څلور پوستې فتحه شوي ، لنډه دا چې دطورخم جلال اباد په لویه لاره دښمن دنظامي ، اقتصادي او روحي فشار لاندې دی او ټولې چارې یې دځنډ او خنډ سره مخ دي.

۵. پوښتنه: محترم والي صاحب ، کله ناکله په ننګرهارکې دملکي تلفاتوراپورونه ورکول کیږي اودکابل

اجیررژیم ګوته مجاهدینوته نیسي ، تاسي دملکي تلفاتو دمخنیوي اوکمولوپه برخه کې څومره جد ي اومتوجه یاست اوخپل ماتحت مسؤلین اوافرادوخت په وخت دعالیقدرامیرالمؤمنین حفظه الله دغه امر ته چې (ملکي تلفات په هیڅ بیه دتوجیه وړندی اوباید مجاهدین تري ځان وساتي) متوجه اواګاه کړي مودي ؟

ځـــــواب : دا پوښـــتنه تقریبـــا پـــه دوه برخومشتمله ده ، اوله دا چې ملکي تلفات دمجاهدینو له لورې رامنځته کیږي که ددښمن له لوري ؟

دوهم دا چې مونږ دملکي تلفاتو دمخنیوي په اړه څومره متوجه یو او مجاهدین مو څومره اګاه او ځیر کړي دي ؟


زما په اند ملکي تلفات ټول ددښمن له لوري رامنځته کیږي ځکه چې ملکي تلفات یا دچورلکو او نورو جنګي الوتکو دبمبارۍ او دتوپونو او هاوانونو او نورو غټو وسلو دکارولو په نتیجه کې رامنځته کیږي او یادا چې انسان دنشي په حالت کې وي دملکي او نظامي توپیر نشي کولای نو جنګي الوتکې دوی، سره دي توپونه هاوانونه او نوري غټې اسلحې دوی، کاروي شراب دوی، څښي چرس او پوډر دوی، څکوي چې بیا دملکي او نظامي توپیر نشي کولای اوس دې نړیوال قضاوت وکړي چې دملکي تلفاتو عاملین څوک دي ؟ او ایا څوکاله وړاندې دده بالا په ولسوالي کې دواده په ورا باندې بمباري ، دخوګیانو په هاشم خیلو کې دجنازې په یو موټرو باندې بمباري ، دبټي کوټ دشینواري کلا سیمه کې دطورخم جلال اباد په لویه لاره دسپرلیو په موټرو بې رحمه ډزې ، دبټي کوټ ولسوالي په مال منډې کې دلویې لارې پر سر په عوامو وحشیانه ډزې ، دسپین غر ولسوالي په قومي خلکو چې دیوې قومي شخړې په سر راټول شوي و ناتاره بمباري ، دسرخرود په ګرم کلي کې بمباري اودحصارک په ولسوالي کې په ملکي خلکو هاوانونه ویشتل او بمباري او همدا ډول دهیواد په ډیرو ولایاتو کې په عوامو وحشیانه بمباري او په مرمیو ویشتل ، دا هم مجاهدینو کړي ؟

لنډه دا چې دوی، ددوست او دښمن دومره تفکیک نشي کولای حتی په ډیرو ځایونو کې یې په خپلو او اجیرو قواوو باندې هم بمباری کړې نو ایا دوی به دملکي خلکو دتلفاتو خیا ل وساتي ؟

دپوښتنې ددوهمې برخې په اړه په لنډه توګه یادونه کوم چې مونږ دملکي وګړو دحفاظت لپاره دومره زیار باسو چې حتی دډیر وداسې اهدافو دله منځه وړلو څخه صرف نظر شوي یو چې هلته دملکي تلفاتو داوښتو حتمال وي او خپل مجاهدین مو وخت په وخت دغونډو او لیکلو پیغامونو له لارې پوهولي چې دداسې عملیات څخه ډډه وکړي، چیرته چې ملکي خلکو ته زیان رسیږي ځکه چې داملت زمونږ او مونږ ددې ملت یو زمونږ ملت ډیر ځوریدلی او کړیدلی باید ډیر پام ورسره وشي ، اوتل مودملکي تلفاتو دمخنیوي په اړه خپلو ټولو مجاهدینو ته دعالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله امر اورولی او په لیکلې بڼه مو ورته رسولی.

۲. پوښتنه: دننګرهاروالي صاحب ! تاسي ته بهتره معلومه ده چې که عام ولس له مجاهدینوسره همکارنـــه و ای ، نوســـخته وه چـــې امریکـــا ، ناټواودهغوغلامانوتـــه مـــاتې ورکـــړل شـــوي وای اومجاهـدین لـه دومـره نفوذاوسـلطي څخـه بـرخمن ګرځیدلي وای ، مطلب مې دادی چې له ولس سره په ننګرهـارکې دمجاهدینوبرخورداوچلند څنګـه ځیـږي ، یاني مشوري یې اوري ، په ستونزویې چې څومره موپه وس کې وي غورکوی ؟ اوکه فرضادکوم مجاهد اودلګی له لوري په ولسي خلکو ظلم اوزیاتی وشي ، تاسي یې غږ اوفریاداوری کنه ؟

ځـــــواب : دمجاهدینو رویه چال چلن او سلوک دعام ولس سره د اسلام او اسلامي امارت داصولو په رڼا کې سرته رسیږي خپلو ماتحتو ملګرو ته مو توصیه کړې چې دقومي مشرانو سره مشوري کوئ او مشوري یې اخلی



او په درانده نظر ورته ګورئ ځکه چې دولس مرستي او ملاتړ ته دنظام ډیر ضرورت وي ځکه الله تعالی فرمایي:

{هُوَ الَّذِيَ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ}الأنفال۶۲

{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ}الأنفال۶۴

او دهمدې ولس په مرسته او ملګرتیا مونږ لله الحمد دبریالیتوب پړاو ته رسیدلي یو او افغاني ځوریدلي ټولنه هغه زخم ته ورته والی لري چې پټی، او مرهم ته اړتیا لري باید ددوی خبرې او ستونزې واوری، او په حل کولو کې یې ورسره پوره همکاري وکړی، مجاهدین دخپل اولس سره پراخه روابط لري مشورې یې اورې او په نیک نظر ورته ګوري، دمجاهد یا ډلګۍ مشر یا دیو مسؤل له لورې په اولس باندې دظلم او تیرې برداشت او تحمل نشو کولای ځکه زمونږ مبارزه دالله (جل جلاله) درضا او داسلامي



نظام دقیام لپاره ده چې په هغې کې دظالم مخنیوی او د مظلوم نصرت وشي تر دې چې ملت حتی ذمیان په آرامه فضاء کې دژوندانه چارې پر مخ یوسي.

که احیانا کوم مجاهد یا مسؤل په اولس باندې ظلم زیاتی وکړي داسلامي امارت دمربوطه مقام منګولو ته به یې وسپارو او داولس دمظلومیت غږ ته مونږ په توره شپه لبیک وایو.


۷- **پوښتنه:** په ننګرهارکې اوس دښمن ددې لپاره چې دولس اومجاهدینوترمنځ خدای مکړه بدګمانی وزیږوي په کوموحربواودسیسوکاراوفعالیت کوي ؟

ځواب : رینښتیا هم واقعیت دادی چې دښمن داولس او مجاهدینو ترمنځ واټن او فاصلې پیدا کولو لپاره یو شمیر حربې او وسائل په کار اچولي تر څو دبدګمانی، او بې اعتمادی، فضاء رامنځته کړي دهغې له جملې څخه دکرزي درژیم داستخباراتي ادارې او اربکیانو او دامریکایې جاسوسانو له لورې دطالب په جامه کې دخلکو تښتونې او په زوره دعشر او زکات اخیستنه یا دتلیفون او لیک له لارې دپیسو غوښتنه او دنه ورکړې په صورت کې په مرګ تهدیدول او یا وژل ، په عامه ملکي ځایونو کې چاودنې همدا راز په مساجدو او مکاتبو کې چاودنې ، وژنې او بریدونه ، په لویو لارو کې دطالبانو په جامه کې دعوامو تالاشي کول او ربړول ،

داټول هر هغه څه دي چې دوی یې دطالب په نوم تر سره کوي ترڅو زمونږ او داولس ترمنځ واټن رامنځته کړي خو لله الحمد داسلامي امارت مجاهدین ددښمن دې ټولو توطیو ته پوره متوجه دي حتی په ډیرو ځایونو کې یې ددا ډول دسیسو مخنیوی کړی.

۸ . **پوښتنه:** داچې تاسې تازه دننګرهارتاوده مورچلونه کتلي ، که کومه داسې عجیبه خاطره چې یاتاسې لیدلي وي اویامولـه مجاهدینواوریدلي وي راته وکړی ، لورینه به مووي ؟

ځواب : دیوې تلپاتې او نه هیریدونکې خاطرې په اړه باید ووایم چې مونږ دننګرهار ولایت دنازیان ، سپین غر ، ده بالا ، شیرزاد او حصارک په ولسوالیو کې درنې او پراخه جلسې ترسره کړې چې تقریبا اووه اته ساعته به یې دوام کاوه ، دا په داسې حال کې چې کلونه وړاندې چا دا فکر هم نشو کولای چې دهیواد دننه



دي داسلامي امارت مسؤلين دخپل اولس سره دومره په پراخه پیمانه غونډې ترسره کړي ، او دښمن په یوه ځای کې هم ونه توانیده چې زمونږ دا فعالیت کشف او مخنیوی یې وکړي ، داسې احساس مو کاوه چې هیواد مو نور دصلیبې ښکیلاک څخه پاک او اسلامي امارت پکې حاکم دی. سوال به در درته پیدا شوی وي چې په دومره پراخه غونډو کې مو څه ویل غواړم چې په دې باب مختصر او اجمالي انداز کې توضیحات درکړم ، په هره جلسه کې به دمختلفو ولسوالیو دمجاهدینو او مسؤلینو سربیره قومي مشرانو او علماء کرامو برخه واخیسته دیادونې وړ ده چې دجلسې افتتاح به دقران پاک دمبارکو ایتونو په لوستلو سره وشوه او بیا به تقریبا دوه یا درې ساعته دجهاد دبهبود او دساتنې داخلاص ، صبر ، تقوی ، کلک عزم ، استقلال ، وحدت ، اطاعت او په ولس باندې دمرحمت او شفقت او داسلامي امارت دحقانیت او منافع او په اسلامي امارت باندې دتل لپاره دراټولیدو او دتنظیمي مفکوري داضرارو او خپلومسؤلیتونو ته دمتوجه کیدلو او دعالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله ورعاه هغه هدایات چې څه وخت وړاندې دولایاتو دمسؤلینو په نامه و ولوستل شول ، بیا به دملکي تلفاتو دمخنیوي په اړه داسلامي امارت دمحترم نائب هدایات ولوستل شول ، او بیا به داسلامي امارت درهبري شورا او مرکزي کمیسیون لخوا هغه لیکلي هدایات لوستل کیدل چې پکې عامو مجاهدینو ته دخپل حفاظت او عوامو سره دښه سلوک په اړه لیکلي شوي و ، بیا به داربکي پروسې په نامه یوجوړشوی مضمون چې پکې داربکي پروسې اضرار لیکلي شوي و او داولس څخه پکې غوښتنه شوي وه چې دددې پروسې دناکامي لپاره هلې ځلې وکړي ، او بیا به یوائې مسؤلینو ته دولایت لخوا لیکلي نظامي لارښووني واورول شوي ، بیا اجتماعي جهادي ضروریات او مشکلات واوریدل شول ، ددې نه بعد جهادي سنګرونه ولیدل شول.

همدا راز په هره سیمه کې دمجاهدینو نظامي حضورزیاتوالي او په منظمه توګه ګرځیدل پهرې کول او دهغوی په منځ کې مینه او محبت ، همغږي او رابطې هغه څه و چې زمونږ ورسره ایمان تازه کیده ، دحیرانتیا وړ خبره داوه چې ددښمن چورلکې او نورې ډول ډول جنګې الوتکې به په هوا کې دګرځیدلو سره سره به مجاهدین په پوره اطمنان او لوړو حوصلو اوسیدل.

۹ . **پوښتنه**: جناب والي صاحب ، که دفرهنګي کمیسون نشراتي اومطبوعاتي چارودبهبود په اړه څه مشوري ولري مهرباني وکړي ؟

ځواب : دفرهنګي کمیسیون نشراتي او مطبوعاتي چارې خورا ښې او په زړه پورې رواني دي خوبیا هم ستاسې دغوښتنې په اساس غواړم چې یو څه عرض کړم:

لومړی: دا چې تاسې داسلامي امارت دمسؤلینو سره او دهیواد دمشهورو جیدو علماء کرامو ، قومي مشرانو ، دعصري علومودباتجربه استادانو او دهغه اشخاصو سره چې سیاسي بصیرت ولري وخت په وخت مرکې ترسره کړی ، همدا راز داسلامي تاریخ او دافغان او انګلیس دجنګ او افغان او او روس دجنګ او داوسنی صلیبي ټلوالي پر خلاف دمقدس جهاد دمجاهدینو په زړه پورې کارنامې نشر ته وسپاری او همدارنګه چې په نړیوالو مطبوعاتو کې داسلامي امارت په خلاف کوم تبلیغات کیږي چې داولس ذهنونه مشوش کوي باید ددې د رد لپاره سیاسي پوهان جذب کړای شي چې په غیر رسمي ښه درادیوګانو دګردې میزونو له لارې په مدلل ډول سره ځواب شي ترڅو عامه اذهان دحقایقو په درک سره روښانه شي.

زما په فکر دا هغه څه دي چې د فرهنګي کمیسیون دنشراتي او مطبوعاتي څانګې دپرمختګ او بهبود لامل ګرځیدلای شي ان شاء الله.

غـــــزل

درویش درانی

مجنون غوندې څه خلک، دلیلا غوندې څه خلک
هـر دور دي لیـدلي ، مـا او تـا غونـدې څـه خلـک

لـه ښـاره دهنـدارو سـوداګر باسـي پـه زوره
خپـل شـکل ویرولـي دي بـلا غونـدې څـه خلـک

زیـاتیږي ورځ پـه ورځ دلتـه د درد غونـدې وګـړي
پیـدا کـړې لویـه خدایـه د دوا غونـدې څـه خلـک

د اوښکو پـه شـان تـت کانـدي نظـر زمـا دسترګو
همـیش راځـي ومـا تـه د ژړا غونـدې څـه خلـک

ژوندی ده ، پـه ژوندون کې یې شک مـه لـره درویشه
لا شتـه پـه دې ټولنـه کـې د سـا غونـدې څـه خلـک



اوس به په کومه لاره وځي
هیواد په هره لار زلمي ور ته لرینه

دسندر غاړې پیکاغږ دی
پــه دښمنانو اجلونه نڅوینه

دخپلواکۍ امام ترمخ دی
بیا اولسونه دسرونو نیت تړینه

دسپینو تورو په برېښناوو
دکفر وریځې له وطنه ګرځوینه

سپین طالبان ترشیدو سپین وو
دبم لوګو یې توربخون کړل سپین مخونه

دترخوبي په غاړه جنګ ده
زیړي ځوانان په مرګي غیږې بدلوینه

هلمندکې ټولو توره وکړه
خو دسنګین له جبهې ګرده ورده شمه

بوشه په ټانګ دې مه نازېږه
په ریموټي بم یې ځلوېښت ټوټې کومه

غرب اشغالگر

شعر عصمت الله "سلحشور"

غرب اشغالگر به دالر خلقی قارون کرد ورفت
عـده ای را هـم بـه عیاشی دگر گون کـرد ورفت

بـا دموکراسـی و تبلیغـات واهـی روز و شب
مردمـانـی را تهـی از دیـن و ملعون کـرد و رفت

عفت از زنهـا و غیـرت را ز مـردان کـرد جـدا
دختـران را از حجاب و ننـگ بیـرون کـرد رفت

بـا شـعار محـو کوکنـار داد جهـانی را فریـب
خود تجارت بر سر تریاک و افیـون کرد ورفت

رهزنـان و دیـن فروشـان را بـه قـدرت برنشـاند
ظلـم و غـارت را اسـاس و درج قـانون کرد ورفت

زرق و برقش عقل و فهم از عـامی و عـالم ربـود
زور و تزویرش بسا خلقی که افسون کرد ورفت

از کمونست و مجاهد وز همـه اضداد ورنـگ
یـک نظـام کفـری و بـی دیـن معجون کرد ورفت

مــردم دینــدار را در هرکجــای ایــن دیــار
یـا اسیر و یا شـهید در هـر شبیخون کرد ورفت

از بـرای محـو اسلام روز و شب بـر بست کمر
آخرالامر دوست و هم پیمان جگر خون کرد ورفت

اقتـدار و مـال و شـأنش را بـه جنـگ مؤمنـان
باشکست و روسیاهی ثبت و واژگون کرد ورفت


تاب ایستادن دیگر اینجا برایش چون نماند
تـرک دوسـت و نـوکر و یـاران مدیـون کـرد ورفت

کــرزی و کابینــه و دلباختــه گــان پــر امیــد
جملـه گـی را تـرک و آهنـگ امـازون کـرد ورفت

تعبیـر امنیـت و صـلح از شکسـت خویشـتن
ادعاهـای دروغ پشـت تریبـون کـرد ورفـت

لشکر خونخوار غربـی هـم بعـون ذوالجلال
ملـت مـؤمن او را رسـوا و مجنـون کـرد ورفت

ای سلحشـور نیـک و بـد را تـانمود ازهـم جدا
حـق تعـالی امریکـا را بـاب آزمـون کـرد ورفت



انقلاب

عزت الله مخلص

انقلاب دی یرغلګر راباندې وړنې
دا بدمخې بلواګر راباندې وړنې

د روسانو لګری لا خاوري نه دي
اوس د غرب یاغي عسکر راباندې وړنې

د یتیم فریاد مې دومره په غوسه کړي
هر ظالم هر اشغالګر راباندې وړنې

دا غربي فرعون ولې نه پوهیږي
چې سرزوري جاودګر راباندې وړنې

فدایي جذبه مې دومره پورته شوې
چې د غرب سوېر یاور راباندې وړنې

دا زمونږ د شهیدانو انتقام دی
هر کافر هر ستمګر راباندې وړنې

په عزت مخلصه څوره سینګار کړی
خو د به مینه دګودر راباندې وړنې

غزل

قاري سعید

بیا مې له ژونده دي راتاو د مرګ په خبر لاسونه
لکه ماښام له مازدیګره کړي چاپېر لاسونه

خدایه یوځوك درنه ربنا غواړي دې تورو شپو ته
اول کړي لپه بیاپه مخ باندې راتېر لاسونه

طالبه ! خدای خو دې نېزه له لاسه مه غورځوه
ګني پرې ټیټ به شي دستا په نامه ډېر لاسونه

وخت وو ، بې شمیر اورمیږونه مې تر ځخ لاندې وو
ځکه ګریوان ته رالویدلي دي بې شمېر لاسونه

سعیده داچې دوطن غمشریکان یې بولي
ګنی یې لاس کې خو ورپورې دګنېر لاسو

تور پټکی

ته چې مرګ په ورین تندي اخستی نه شې
هغه مسته زندګي اخستی نه شې

چې د صبر سرمایه در سره نه وي
د غم ښار کې خوشحالي اخستی نه شې

د مجاز مکتب چې نه یې ناکام کړی
حقیقت کې کامیابي اخستی نه شې

ستا په عقل او شعور کې ډېر کمی دی
ته لقب د لېوني اخستی نه شې

چې په تورو زندانونو مئین نه یې
بیا نو سپینه ازادي اخستی نه شې

تا په سرو سترګو صحرا لوستلې نه ده
د جنون لویه هستي اخستی نه شې


ته به څنګه د ګلونو شونډې ښکل کړې
چې لاسونو کې اغزي اخستی نه شې

ستا په سترګو کې تصویر د ښکلا نشته
ته له ژونده بدرنګي اخستی نه شې

ځان به مړ ځان به ذلیل، ځان به تباه کړې
خو طالب نه مې مستي اخستی نه شې

ته په خپله په پلورلو اموخته یې
ته دا سپین او تور پټکي اخستی نه شې

ای په خپله بادشاهۍ باندې مغروره
د (مفتون) نه ملنګي اخستی نه شې





المراء: مصدر يې ماريةً، مراءً و مماراةً راځي. معنی يې مجادله او شخړه ده، لکه چې ويل کيږي: دع المِراء لقلّة خيره. (له دې امله چې خير يې کم دی، نو مراء، شخړه پرېږده)
په يو قرائت کې د الله په کلام کې هم راغلی دی، الله تعالی فرمايي: "أفتُمارُوْنَه علی مايَری" همداسي يو شاعر وايي: أمّا المُزاحةُ والمِراءُ فدَعْهما ... خُلُقان لا أرضاهما لصديقِ **ژباړه**: هر څه چې مسخرې او مجادلې دي، دواړه ترک کړه- ځکه دا دواړه داسي خويونه دي چې زه يې د ملګري لپاره نه خوښوم.

بل شاعر بيا داسي وايي: إيّاكَ إيّاكَ المِرَاءَ فإنّه ... إلی الشّرِّ دَعّاءٌ وللِشّرِ جَالِبُ پام کوه، پام کوه! ځان له مراء څخه وساته، ځکه دا سړی شر ته دعوتوي او شر ته يې جلبوي.

په روانه پېړۍ کې د مسلمانانو په منځ کې مراء يعني په ديني مسائلو، قرآن او حديث کې د شک او احتمال په بنياد جګړه او بې ځايه بحثونه وروستي بريد ته رسيدلي دي. د دې کار ګڼ لاملونه کيدای شي، ګڼ کافران په دې هڅه کې دي، چې د مسلمانانو په منځ کې د اختلافاتو او جنجالونو تخم وشيندي او خپل حکومت پرې وکړي، د همدې موخې د لاسته راوړو لپاره يې ګڼي فرقې را منځته کړي.


مسلمانان په ناخبرۍ کې د کافرانو د دسيسې ښکار شوو، په خپل منځ کې يې کرکه او کينه په ستره کچه زياته شوه، تر دې چې ځيني مسلمانان د نورو مسلمانانو په نسبت انګريزان، يهوديان، صليبيان او هنداوان خپل دوستان ګڼي خو له خپل مسلمان ورور سره د جزوي اختلافاتو له امله په يوه لاره نه ځي، د مسلمانانو د بې اتفاقۍ، پاتيوالی ستر عامل همدا بې ځايه اختلافات دي، کنه دا علمي اختلافات خو په صحابه کرامو او تابعينو کې هم موجود وو، ولې هغوی په خپل منځ کې شخړې او جنجالونه نه کول، علمي څېړنې به يې کولې، د يو بل درنښت او احترام به يې کول، په خپلو کتابونو کې به يې د يو بل نوم په خورا احترام له دعائيه الفاظو سره اخست.

په ګنو ځايونو کې مونږ ډيرۍ کسان ليدلي، چې د علم، تقوی او ديانت د نيستي او کموالي سره سره د يوې داسي ديني اختلافي مسئلې لپاره په شد او مد سره دلائل وايي کومه چې د صحابه کرامو او تابعينو په مهال کې هم موجوده وه، خو دوی خپل لوری سل په سله کې حق او مقابل لوری باطل ګڼي، د همدې موخې د پاره بيا مناظرې کوي، چې مطلب يې د حق ثابتول او د مسئلې شرعي څېړنه نه وي، بلکې هڅه کوي چې د خپلې فرقې موقف تائيد او هغه حق ثابت کړي او مقابل لوری ناحقه او باطل.

رسول الله ﷺ د خپل امت حکيم دی، هغه ته خپل امت دا رنځ معلوم دی، نو ځکه يې خپل امت له ديني شخړو څخه منع کړی، ترټلی او داسي يې فرمايلي دي:

قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: «لا يستكمل عبد حقيقة الإيمان حتی يدع المراء وإن كان محقاً ويدع كثيرا من الحديث مخافة الكذب»

ژباړه: يو بنده د ايمان حقيقت تر هغه مهال پوري نشي پوره کولای، تر څو له شخړو لاس په سر نشي، اګر که په حقه هم وي او د دروغو د احتمال له امله له ډيرو خبرو (حديثونو) لاس په سر نشي.



په بل حدیث کې یې داسې فرمایلي دي: «وجبت وجبت وجبت» فقال أصحابه: ما هذا الذي قلت یا رسول الله؟ قال: «من ترك المراء وهو محق بني له في ربض الجنة، ومن ترك الكذب بني له في ربض الجنة، ومن حسن خلقه بني له في ربض الجنة»

ژباړه: لازم شو، لازم شو، لازم شو اصحابانو عرض وکړ، یا **رسول الله** ﷺ څه مو وفرمایل: هغه وفرمایل: چا چې شخړې پرېښودې او دې پر حق وو، د هغه لپاره به په لاندې برخه د جنت کې ځای جوړ کړل شي، چا چې دروغ پرېښودو، د هغه لپاره به په لاندې برخه د جنت کې ځای جوړ کړل شي او چا چې خپل اخلاق سم کړل د هغه لپاره به په لاندې برخه د جنت کې ځای جوړ کړل شي.

همداسې **رسول الله** ﷺ خپل امت ته وایې چې علم د الله لپاره تر لاسه کړئ، دا کوشش مه کوئ، چې د علم په مټ له عالمانو سره جنجال وکړئ، ساده ګانو سره پرې شخړې وکړئ، یا د خلکو مخونه خپل لوري ته را واړوئ، چې د ستر عالم په سترګه مو بدرګه کړي، کنه نو الله تعالی به مو په اور کې داخل کړي. **رسول الله** ﷺ داسې فرمایلي دي:

«من طلب العلم لیجاري به العلماء أو یماري به السفهاء أو یصرف به وجوه الناس إلیه أدخله الله النار»

همداسې بل ځای فرمایي: چا چې له علم څخه پرته په یوه شخړه کې جنجال وکړو، تر هغه مهال پورې به د الله په غضب کې وي، تر څو ځان ترې خلاص نکړي. په بل حدیث کې یې بیا هغه کسان د الله تعالی مبغوض کسان ګرځولي چې سخت شخړې کونکي او جګړه مار وي.

«من جادل في خصومة بغیر علم لم یزل في سخط الله حتی ینزع»

«إن أبغض الرجال إلی الله عز وجل الألد الخصم»

روایت دی چې **لقمان حکیم** خپل زوی ته داسې نصحیت کړی: «أي بني لا تعلم العلم تباهي به العلماء أو تماري به السفهاء أو ترائي به في المجالس» **ژباړه**: **اې** زویکیه! داسې علم مه تر لاسه کوه، چې پر علماوو پرې فخر کوې، له ساده ګانو سره پرې شخړې وکوې او په مجلسونو کې پرې ځان ښکاره کوې.

همداسې **مکحول له محمد بن علي** څخه روایت کوي:

عن مکحول، عن محمد بن علي، قال: «لا تجالسوا أصحاب الخصومات فإنهم الذین یخوضون في آیات الله عز وجل»

له جګړه مارو سره مه کینئ، ځکه دوی هغه کسان دي چې د الله په آیاتونو کې بې ځایه مباحثې کوي.

همداسې **ابو جعفر** وایي: ځان له جګړو څخه وساتئ، ځکه دا جګړې دین ختموي، بدبیني را منځته کوي او اجتهاد له منځه وړي.

قال: سمعت أبا جعفر، یقول: «إیاکم والخصومات فإنها تمحق الدین» وحدثني من سمعه یقول: «وتورث الشنآن وتذهب الاجتهاد»


حضرت عمر بن عبدالعزیز وایي چا چې خپل دین د جګړو لپاره هدف او مقصد وګرځول په داسې حال کې به مړ شي چې زیات تنقل او بدلونونه به یې په دین کې راغلي وي، یعني له زیات تنقل څخه دې مړ شي.

قال عمر بن عبد العزیز: «من جعل دینه غرضا للخصومات مات أکثر التنقل»

ویل کیږي چې **سلیمان بن یسار** چې به کله په کوم مجلس کې مراء (شخړه) واوریده، نو مجلس به حتما پرېښود. کان سلیمان بن یسار «إذا سمع في مجلس مراء قام وترکهم»

ابو جهیم وایي: دوه کسانو د قرآن شریف په یو آیت کې اختلاف وکړ، دواړو دعوه کوله چې له **رسول الله** ﷺ څخه مو همداسې اوریدلی دی، دواړو له **رسول الله** ﷺ څخه پوښتنه وکړه. **رسول الله** ﷺ ورته ځواب ورکړو، قرآن په اوو قرائتونو لوستل کیږي، نو تاسو په قرآن کریم کې مراء او شخړه مه کوئ ځکه په قرآن کریم کې مراء کفر ده.

قَالَ أَبُو جُهَيْمٍ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَلَفَا فِي آيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ فَقَالَ هَذَا تَلَقَّيْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ الْآخَرُ تَلَقَّيْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى



اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْقُرْآنُ يُقْرَأُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَلَا يُمَارُوا فِي الْقُرْآنِ فَإِنَّ مِرَاءً فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ

همداسي په ګڼو احاديثو کې راغلي چې په قرآن کريم کې مراء او شخړه کفر ده.

يو بل حديث کې له **انس بن مالک** او نورو صحابه کرامو څخه روايت شوی، چې **رسول الله** ﷺ د مراء په اړوند داسي فرمايلي دي:

حدثني أبو الدراء وأبو أمامة وواثلة بن الأسقع وأنس بن مالك قالوا: خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوما ونحن نتمارى في شيء من أمر الدين فغضب غضبا شديدا لم يغضب مثله ثم انتهرنا فقال: مهلا يا أمة محمد إنما هلك من كان قبلكم بهذا أخذوا المراء لقلة خيره ذروا المراء فإن المؤمن لا يماري ذروا المراء فإن المماري قد تمت خسارته ذروا المراء فكفاك إثما أن لا تزال مماريا ذروا المراء فإن المماري لا أشفع له يوم القيامة ذروا المراء فأنا زعيم بثلاث آيات في الجنة في رياضها ووسطها وأعلاها لمن ترك المراء وهو صادق ذروا المراء فإن أول ما نهاني عنه ربي بعد عبادة الأوثان المراء وشرب الخمر ذروا المراء فإن الشيطان قد يئس أن يعبد ولكنه قد رضي منكم بالتحريش وهو المراء ذروا المراء فإن بني إسرائيل افترقوا على إحدى وسبعين فرقة والنصارى على ثنتين وسبعين فرقة، وإن أمتي ستفترق على ثلاث وسبعين فرقة كلهم على ضلالة إلا السواد الأعظم قالوا: يارسول الله ومن السواد الأعظم؟ قال: من كان على ما أنا عليه وأصحابي من لم يمار في دين الله ومن لم يكفر أحدا من أهل التوحيد بذنب غفر له (الحديث)

ژباړه: انس بن مالک رضي الله عنه وايي يوه ورځ **رسول الله** ﷺ په داسې حال کې په موږ راغی، چې موږ په يوه ديني امر کې جنجال کول، نو هغه ﷺ داسې په قهر شو، چې هيڅکله مو هم داسې نه و ليدلی، بيايې موږ ورټلو او داسې يې وويل: صبر! اې د **محمد** ﷺ امته! يقيناً له تاسو څخه مخکې خلک په همدې هلاک شوي دي، د لږ خير لپاره يې مراء(**شخړي او جنجالونه**) غوره کړو،

شخړي پريږدئ! ځکه مؤمن جګړه مار نه وي.

شخړي پريږدئ! ځکه مماري (جګړه مار) له تاوان سره مخ وي.

شخړي پريږدئ! کنه نوستا دشخړو اومراء ګناه به ستاليپاره کافي وي.

شخړي پريږدئ! ځکه دقيامت په ورځ زه دجګړه مار شفاعت نه کوم.

شخړي پريږدئ! نو زه په جنت کې د هغه د درې نښو ذمه وار يم، د جنت په لاندي، منځ او لوړه برخه کې.

چاچې **شخړي** پرېښودې هغه صادق دی.

شخړي پريږدئ! ځکه د بتانو له عبادت څخه وروسته لومړی زه له شخړو او شراب څښلو څخه منعه کړی شوی يم.

شخړي پريږدئ! ځکه شيطان له عبادت څخه نااميده ده، ولې هغه له تاسو څخه په تحريش او شخړو باندي خوشحاليږي،

شخړي پريږدئ! ځکه بني اسرائيل يو اويا فرقې شوي وو، عيسايان دوه اويا فرقې شوي وو او زما امت به په درې اويا فرقو باندي تقسيم شي، **له سواد اعظم څخه پرته ټول به ګمراهي کې وي**، صحابه کرامو عرض وکړو، سواد اعظم څوک دي؟ ويې فرمايل: داسې خلک، چې په هغه لار روان وي، په کومه چې زه يم او زما اصحابان دي، داسې خلک: چې د الله ﷻ په دين کې **شخړي** نه کوي (لانجمار نه وي)، هغه خلک! چې د ښښني وړ په ګناه د توحيد اهل نه کافر کوي،

په همداسي توګه د امت ټول عالمان تاکيد کوي، چې متحد اوسئ او تفرق څخه ځانونه وژغورئ، د ځان ځاني له بحثونو څخه ځانونه وساتئ، تر څو چا د دين له ضرورياتو څخه انکار نه وي کړی کافر او مشرک ورته مه وايه، ځکه په تفرق او اختلاف کې د مسلمانانو د تباهۍ او د دښمن له کاميابۍ څخه پرته بله هيڅ ګټه نشته.

وقد أكد علماء الأمة وجوب التزام الجماعة وترك الخلاف والتفرّق لكونه يضرّ ولا ينفع ويهدم ولا يبني ويخرّب ولا يصلح. يقول ابن أبي العز الحنفي في عقيدته:

﴿ونرى الجماعة حقّاً وصواباً، والفرقة زيغاً وعذاباً﴾.

ژباړه: د امت علماء په دې خبره ټينګار کوي، چې له جماعة سره ملګري شئ، اختلاف او تفرق پرېږدئ، ځکه په هغې کې هيڅ ګټه نشته، اسلام ته نقصان رسوي او له منځه يې وړي، د ابادي په ځای تخريب را منځته کوي او هيڅ قسم اصلاح نه روالي.

ابن ابي العز الحنفي په خپله عقيده کې وايي:

موږ په يووالي کې حق او صواب وينو = په جداوالي کې ګمراهي او عذاب وينو

محمد بن الحسين وايي:

رحم الله عبدا حذر هذه الفرق، وجانب البدع ولم يبتدع، ولزم الأثر فطلب الطريق المستقيم، واستعان بمولاه الكريم

ژباړه: الله جل جلاله دې په هغه بنده رحم وکړي، چې له دا ډول ډلو څخه ډارېږي، له بدعت څخه ځان ژغوري، بدعتې نه جوړېږي، د صحابه کرامو او اسلافو په اثر روان وي، نو ده صراط مستقيم طلب کړه او له کريم ښښتن څخه يې مرسته وغوښته.

روايت نقل شوی چې **رسول الله** ﷺ فرمايي:

﴿فَإِنَّ يَدَ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ يَرْكُضُ﴾

ژباړه: د **الله تعالی** جل جلاله مرسته له جماعة سره ده، شيطان له هغه چا سره ملګری او ګرځي، کوم چې ځانته شوی دی.

د **رسول الله** ﷺ له ارشاد سره سم بايد مسلمانان له مراء او شخړو څخه چې په پايله کې يې اختلاف او جداوالی را منځته کيږي ځانونه وژغوري، د مسلمانانو وحدت ته زيان ونه رسوي، له سواد اعظم يا جماعة سره ملګري شي. له مطلق اختلاف څخه ځان وساتي او له داسي اختلاف څخه چې د صحابه کرامو او تابعينو په منځ کې هم وو، په طريقه اولی ځان وساتي. يو ملګری په يو مسجد کې امام دی، ټول مقتديان د خفيه امين طرفدار دي، يو کس پکښې جهري امين والا را پيدا شو، په جهري امين او اته رکعتونو تراوو باندي خبره ستر جنجال، اسلافو ته ښکنځل، وهل ټکول، د مسجد بې عزتي، پوليس او آن مړو او دښمنۍ ته ورسيده.

د **رسول الله** ﷺ له ارشاد سره سم يې دين د تعمير په ځای تخريب کړ او د ګټې پر ځای يې نقصان ورته واړول او مرتکب د کبيرې ګناه هم شو، همداسي په سلګونو پېښې هره ورځ را منځته کيږي. يا ښه مثال يې د روژو او د اختر دی، چې هر لوری خپل اختر او روژه په حقه ګڼي او د مقابل لوري بې ځايه او عبث، نو ځکه خلک يو بل ته وايي چې د اختر په ورځ خو د شيطان روژه وي، هغه بل بيا ورته وايي چې تا فرضي روژه وخوړه قضايي يې راوړه او داسي ګڼ نور. له پورته ګڼو احاديثو څخه ثابته شوه چې مراء او شخړي منع دي، شخړي او فساد کونکې کس ته د خپلې مراء ګناه د جهنم اور ته د ليږلو لپاره کافي او بس ده.

يو کس دي د مجلس، مسجد او ماحول د اکثريت وګړو په خلاف دي د فتنې په صورت کې په اختلافي مسئله عمل نه کوي، او د مقابل لوري احترام دي وساتي. په ټول امت کې له **رسول الله** ﷺ څخه څوک غيرتي نشته، هغه د خپل قوم د فتنې د رامنځته کيدو د احتمال له امله حطيم چې د بيتې حصه ده په بيته کې داخله نکړه. حضرت عائشې ته يې وفرمايل: که زه ستا د قوم له فتنې څخه نه ډاريدای نو حطيم به مې ارو مرو په بيت الله کې داخل کړی وای. چې **رسول الله** ﷺ سره له خپل شجاعته او دا چې هغه شارع دی، په دومره ستره کچه محتاط دی، نو ته بيا څوک او څه کاره يې چې په اختلافي مسئله کې ستره فتنه را منځته کوې او ترينه نه تيرېږې او په سلګونو مسلمانان په غم اخته کوې؟

هم همدې ځوانانو د انګليسانو په خلاف جهاد کړی او استقلال يې تر لاسه کړی، په تير لنډ تاريخ کې دوه نړيوال طاغوتي ځواکونه برتانيه او شوروي له ځواک څخه را پرزولي او دريم ځواک سره له پنځوسو هيوادونو هم ان شاء الله په ګونډو کيدونکی دی.

راټولوونکی :خ -د

د شهید مولوي عزت الله عارف رحمه الله

ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

دکاغذپه مخ مې پورته بیت دیوداسې شخصیت په باره کې ولیکه چې هغه داسلام په غم غمجن اود مسلمانانوپه درد دردمند، داتفاق اواتحادپه هیله دسیدجمال الدین افغان اومولاناعبیدالله سندهی په څیر ملنګ ، دمسلمانانودازادی اوخپلواکی دقافلومخکښ اوپه عین وخت کې دعلمي ، سیاسي اوجهادي میدانونونومیالی اتل ، په نبوي اخلاقوباندې مزین ، همیشه یې په خوله باندې مسکا، نوراني اودروڼ تندي ښبتن ، های ! څومره عظیم انسان ووچې دسختوتکالیفواومصایبوپه وخت کې هم دصبراوزغم نه پرته پکې بل هیڅ نښولیدل کیدای .


دعلم ، عمل ، سیاست اوجهاددائځلانده ستوری دافغانستان دننګرهارولایت دچهاردهي اوسیدونکی چې دخپل نوم نه زیات په خپل تخلص (عارف صیب) باندې مشهوروو

مرحوم مولاناحافظ محمدعزت الله (عارف) نورالله مرقده ، دننګرهارولایت دمشهورجهادي اوعلمي شخصیت مولاناعبدالکافي رح ځوی په ۱۳۴۶ه ش کال چهاردهي کلي کې زیږیدلی ، ابتدایي زدکړه یې د خپل کلي په جومات اوښونځي کې ترسره کړه ، له هغه ورسته دمتوسطي دورې دپاره دبهتي کوټ ولسوالي ، دفارم غازي ابادپه ښونځي کې داخل شو.

ورسته دجلال ابادپه مشهوره دیني مدرسه نجم المدارس کې داخله واخیسته هلته یې ایله یوکال زدکړه پوره کړې وه چې دروسي پلوه ګوډاګي رژیم لخوادګران هیوادپه حقاني علماووظلمونه شروع شول، چې پکې دنجم المدارس دمدرسې جیداستاداودعارف صاحب نیږدې خپل (مولوي غلام سبحاني) سره دخپلو نورو ملګرو مدرسینو دظالم اوبې دینه حکومت لخواګرفتارشو، له بل لوري دمرحوم عارف صاحب والدګرامي چې دسیمې یومخورمشر ، عالم اولوی مجاهدووپه هیواد کې داوسیدودایره پرې تنګه شوه نوګاونډي هیواد پاکستان ته سره له کورنی په ۱۳۵۸ کال کې په هجرت کولو مجبوراوداوسنی خیبرپښتونخواایالت اړوند دمهمند خیل په سیمه کې خپل قوم سره یوځای کې میشت شو

دیني زدکړې

شهیدمولوي عزت الله عارف صاحب چې دمرحوم مولوي عبدالکافي صاحب کشری ځوی ووهغه یې داسلامي علومودزدکړې لپاره په کال۱۳۵۹ ش کې ددارالعلوم احناف امیرزو مدرسه کې داخل کړ اوړومبی درجه کتابونه یې هلته وویل ، دویمه درجه یې دتنګي په دارالعلوم اودریمه درجه کتابونه یې بیرته داحنافوپه دارالعلوم کې ولوستل ، ، څلورمه درجه یې دتخت اباد په دارالعلوم هدایت الاسلام کې ، پنځمه درجه یې دپیښور دباړې په دارالعلوم



هاشـمیه کې دوخـت لـه مشـهوروعلمای کراموهریـو سـیدقریش باباواوقاضي محمدامین صاحب نه وویله ، په دغه کال دخپل جهادي شـوق لــه مخــې دمدرســې دطالبانودقومنــدان پــه حیــث دهیواددنامتوجهـادي مشـر مولـوي جـلال الـدین حقـاني جبهوتـه دجهادلپاره لهٔ لسګونوملګروسره دهغه وخت دجهادتاوده سنګرد(دپکتیا سټوکنډو) ته ولاړ .

تکمیلیه درجه یې دطورودارالعلوم سعادت خان مدرسه کې پـه ښـه شـوق اوذوق دمولاناغلام محبوب صاحب نـه ترسـره کـړه ، ریاضي اودفلسفې زدکړې یې دغزني ولایت لـه مشـهورعالم دیـن مولانامحمدمستقیم صاحب نه ترلاسه کړې، میراث علوم یې دمردان په بخشایي کې دمیراثي باباڅخه ولوستل ، موقوف علیه دوره لپاره بیادارالعلوم هدایت الاسلام تخت اباد تـه راغی اوهلتـه یې کتابونه لـه شیخ الحـدیث مولناعنایـت الله صـاحب (فاضـل دیوبنـد) اوشـیخ الحدیث مولانامطلع الانوار صاحب (فاضل دیوبند) څخه وویل ، لویه دوره یې پـه کال ۱۹۸۹م کې داکوړې پـه حقانیـه دارالعلوم کې پـه داسې حـال کې ترسـره کـړه چـې دسـوونوطالبانوله جملې نـه هغـه دمسلم شریف اوترمـذي شریف قـاري غوره شوی وو، همدغـه ډول یې دلوی دورې پـه دریوواړوامتحـانو کې لوړې نمبرې اودویمـه نمـره ګی حاصلـه کـړې وه چې پـه ډیرامتیازسره دنامتواسـتادانوله لوري ور ته دفضلیت دستارورپه سر کړای شو.

دقران مجید تفسیراوترجمه یې دپښتونخوا په صوابي کې لهٔ شاه منصورباباجي رحمـه الله څخـه وکـړه ، دغـه ډول یې دقرانکریم حفظ له قاري سیدغني صاحب څخـه وکـړ ، دیادونې وړ ده چې عـارف صاحب ته دخپلې قوي حافظې پـه برکت الله تعالی دټول قرانکریم دحفظ توفیق په ۳میاشتوورپه برخه کړي وو.

تدریس :

دفراغت په اول کال یې دپیښور دفقیراباد په (رشیدیه) مدرسه کې ددریمې ، څلورمې اوپنځمې درجې کتابونـه تـدریس کـړل ، دهمـدې کـال پـه پـای کې سـعودي عربسـتان تـه ولاړ اوالله تعـالی دعمـري اوحـج سـعادت ورنصـیب کـړ ، دفراغـت پـه دوهـم کـال دامــدادالعلوم دمشــهورې مدرســې داســتادکل شــیخ الحــدیث شهیدمولناحسـن جـان مـدنی رح پـه درخواسـت اولطـف پـه نومـوړې مدرسې کې دممتازواستادانوپه جملـه کې شـامل کـړل شواوپه زړه پورې تدریس یې وکړ ، په دریم کال یې دنمک منډیی دقاري فیاض صاحب په مدرسه کې داستادپه حیث په داسې حال کې چې یوزیات شمیرشاګردان ورسره ووومنل شواوتدریسي کال یې سرته ورساوو .


جهادي اوسیاسي ژوند :

شـهیدعارف صـاحب چـې داسـلامي ټـولنې یـوښې ریاخـادم اودعملي ، جهادي اوسیاسي فکراوعمل نه مالامالـه شخصیت وو ، کله به یې دسرورسوانوپه مقابل کې دجهادګرم سنګرته ځان رسولو، کله به دمسلمانانوترمنځ دوحدت اوخیرخواهې هڅې کولې اوسـتره هیلـه یـې داوه چـې مسـلمانان بایدپـه خپلـو منځـو کې متحدورونـه اودیوه شعاراوهدف څښتنان وي

عارف صاحب کله چې خپل منځي تنظیمي جګړې پـه هیواد کې پیـل شوي وي دهغودخاموشولوادسولې اوروغې دراوستوپه هیلـه یوځل داتحادعلمای افغانستان له مشرمولوي عبدالله ذاکري اوبل ځل دمولوي جلال الدین حقاني سره یوځای سفرونه کړي وو .

هرکلـه چې انقلاب اوړدشواودهجرت پـه کور کې دمهاجرینوپـه کمپونـو کې یوشمیرفسـادونه رامنځتـه شـول نوهغـه دخپلـو اسـتادانوپه مشوره اودملګروپـه مرسـته پـه کمپونـو کې یودعـوتي اواصـلاحي منظمـه جوړه کړه چې علمای کراماو دطالبانو اومخلصومسلمانانوباندې مشـتمله وه اودامربـالمعروف ونهـی عـن المنکردنـده اوخـدمت یـې دکمپونوپـه مساجدودجلسواودعوتي ناستوپه شکل کې سرته رساوو.

ددغواصلاحي هڅونتیجه داشوه چې دافغانستان پـه هرولایت کې داهل سنت والجماعت پـه نوم منظمې جوړې شوي اودهرولایت طالبانواوعلماوو کرامودخپـل ولایـت پـه نوم دفسـاداومختلفو فتنوپـه خلاف دعوتي اواصلاحي هلې ځلې جلسي اوعلمي غونډې وخت پـه وخـت دایرولې ، چې بـاالاخره الله تعـالی همدغـه اصـلاحي ولایتـي ټولي چې په اخلاص سره یې رادانګلي وودیوه سرتاسري جهادي یون اومخلصانه حرکت ځواک اوفهم وروبابنه .



دشهیدعارف صاحب دځانګړي کردار په پایله کې دټول افغانستان په سطحه داهل سنت والجماعت اتحادیه رامنځته اونوموړي اتحادیه دمسلمانانواومجاهدینو دخپل منځي شخړوداواري اوله منځه وړلو په برخه کې ستر رول ولوباوه ،نوشهیدعارف صاحب ترپایه دنوموړي اتحادیې دمرکزي شورا ریس اومشروو.

کله چې په ۱۹۹۴ کال د۱۱ میاشتې په ۱۳ نیټه په کندهارولایت کې دعالیقدر امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد حفظه الله ترمشرۍ لاندې دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک اعلان اوعملایې دفساداومنکراتوپه خلاف یې مبارزه اوجهادپیل کړ، نوشهیدعارف صاحب هغه څوک ووچې دخپلې اتحادیه اجلاس یې دپیښورپه (دارالقراء مدرسه) کې راوغوښت او دافیصله یې په ډیراخلاص سره وکړه چې دافغانستان دطالبانو له اسلامي تحریک سره یوځای کیږواومرسته به یې کوو، هماغه ووچې عارف صاحب خپل تدریس ته دپای ټکی کیښوداو داهل سنت والجماعت دزیاتره ولایتي مشرانوپه ملتیایې قافله کندهار ته ورسیدهاو هلته یې له محترم ملامحمد عمر مجاهدسره بیعت ترسره اواعلان کړ.

دعارف صاحب نیږدې ملګری اوداسلامي امارت په مهال دسرې میاشتې دټولنې مشرښاغلي مولوي عصمت الله عاصم وایي چې کله مونږ له جناب عالیقدرامیرالمومنین سره بیعت ترسره کړ زمونږ په ډله کې دمشرقي ولایتواکثره طالب مشران ملګري لکه (مولاناعنایت الله برهاني صاحب ، مولوي نورجلال جلالي، مولوي عزت الله حقاني ، مولوي نجیب الله حقاني، مولوي عبدالقدیر صاحب ، مولوي رستم حنفي، مولوي رحیم الله حقاني اومولوي رحمت الدین) شامل وو ،په دغه وخت کې مولوي عبدالباقي حقاني دملګروپه مشوره په پیښور کې دملګرودتنظیم اونشکیلاتوبرابرولو په منظورغوره اوپاتې شوي و ، عاصم صاحب وایي مونږ ټول ډیرخوشحاله اوپه جاموکې نه ځایدو، خوعارف صاحب دومره متاثره ووچې ترډیره وخته به یې ویل چې افغانانواوپه خاص ډول علمای کراموطالبانوچې دکوم امیر تلاش کاووهغه اوس الله تعالی پرې لوورولی دي.


څرنګه چې الله تعالی عارف صاحب ته داستعداداو اطاعت ځانګړي خزانې اوانعامات وربښلي وو په عالیقدر امیرالمومنین اومرحوم ملامحمد رباني صاحب اونورو مشرانوباندې خوراګران اوشفقت به یې پرې کاوه ، ددعوت اوجلب کاربه یې ځینې اخیسته ،سیاسي او اداري اموروپه برخه کې به یې مشورې ورڅخه اخیستې دختیځوولایتونوله ولس دارتباط اوهلته دتحریک دورتګ دزمینه سازی په باب به یې دعارف صاحب رول اواغیزته په درنه سترګه کتل .

خوالله تعالی ته مقدره اومحبوبه داګرځیدلې وه چې د بصیرت ، تقوا، عرفان اوکمال دغه ستوري نورله دې فاني دنیاڅخه ابدي دنیاته غواړي اولدې هسکه یې راټیټول غواړي ، هماغه ووچې دملاصاحب حفظه الله اودحاجي معاون صاحب رحمه الله په مشوره عارف صاحب سره له ګڼوملګرودنیمروزولایت ته واستول شوتر څوهلته دنوموړي ولایت اداري اوجهادي امور تنظیم اوهلته یوه اداره جوړه کړي ، خوچون داسلامي امارت هرملکي نظامي وي اوهرنظامي ملکي اوله هریوه تن اومسول سره دااحساس وي چې څنګه مصدردخدمت اواطاعت وګرځي ، نوعارف صاحب به هم دولایت دنوروامورودپرمخ بیولو ترڅنګ په جهادي اوعملي برخه کې هم فعاله برخه اخیستې

هماغه ووچې په نیمروزولایت دشراوفساددلښکرو له لوري دیوه سخت تعرض او مخامخ جګړې په نتیجه کې جناب عارف صاحب د۱۹۹۵م کال دمی میاشتې په ۱۵نیټه دلوی اخترپه ۴ ورځ دشهادت لوړمقام ته ورسید(اناالله واناالیه راجعون)

دیادونې وړده چې دعارف صاحب په داسې حال کې شهیدشوچې له نیمروزولایت څخه طالبانوعقب نشیني کړې وه ، کله چې په دوهم ځل دنیمروزولایت فتح شو، نوبیادعارف صاحب ددفن ځای پیدااوجسدمبارک یې ړومبی کندهار ته نقل اوبیادهغه والدګرامي په ډیراصرار خپل ابایي سیمې چهاردهي ته راوړل شو، الله تعالی دې ددغې عظیمې هستې جهادي اوعلمي کارنامې ، سیاسي اواجتماعي خدمتونه په خپل دربار کې قبول وګرځوي ،لاردې له لارویوډکه اوجنت الفردوس دې یې نصیب وګرځي امین

دژوندورستی ورځې :



جبل‌الطارق؛ کوه اختلاف میان اسپانیا و انگلیس

منابع خارجی

تنش میان اسپانیا و انگلیس بر سر تنگه جبل‌الطارق بار دیگر به اوج خود رسیده است. اختلاف میان اسپانیا و مقامات انگلیسی جبل‌الطارق زمانی دوباره بالا گرفت که دولت محلی این منطقه طرح خود را برای ساخت یک صخره مصنوعی در دریا اعلام کرد. این، برای مقامات مادرید به معنای آن بود که آنها می‌خواهند با ساخت این صخره، مانع از ورود کشتی های ماهیگیری اسپانیا به آب‌های آزاد شوند. از این رو، اسپانیایی‌ها نیز دست به کار شدند و تردد وسایل نقلیه میان مرز اسپانیا و جبل‌الطارق را تحت کنترل شدید خود در آوردند.

آنها همچنین قصد دارند به عنوان بهای مرزی ورود و خروج، عوارض ۵۰ یورویی برای هر وسیله نقلیه مقرر کنند و همچنین حریم هوایی خود را به روی هواپیماهایی که به مقصد فرودگاه جبل‌الطارق پرواز می کنند، ببندد. این امر واکنش تند مقامات انگلیسی منطقه را برانگیخت تا آنجا که یکی از مقامات جبل الطارق، این رفتار اسپانیا را به کره شمالی تشبیه کرد. اما اسپانیایی‌ها هدف از این بازرسی‌ها را مبارزه با قاچاق اعلام کردند.

اما ماجرای درگیری این دو بر سر جبل‌الطارق به ۳۰۰ سال پیش باز می گردد یعنی از جولای سال ۱۷۱۳ میلادی تاکنون. جبل الطارق نام عربی کوهپایه‌ای شبه جزیره‌ای است که با دامنه آن مساحتی ۶.۵ کیلومتری را در بر می گیرد. این کوه واقع در بخش شمالی تنگه جبل‌الطارق و متصل به خاک اسپانیاست.

نام این تنگه از سردار مشهور اسلام، «طارق بن زیاد» گرفته شده است که از این تنگه به خاک اسپانیا حمله برد و دولت اسلامی را در جنوب آن کشور تشکیل داد. این منطقه قرن‌ها تحت سلطه مسلمانان قرار داشت و در اواخر قرن پانزدهم میلادی با وحدت اسپانیا و بیرون رانده شدن آخرین بقایای خلافت اندلس، تحت کنترل دولت مرکزی اسپانیا درآمد.

جبل الطارق سرانجام متعاقب جنگ‌های سال ۱۷۰۴ میلادی به اشغال انگلیسی‌ها در آمد و این اشغال گری در سال ۱۷۱۳ بر اساس پیمان تحمیلی «اوترحت» رسمیت یافت. تلاش اسپانیا برای باز پس گیری جبل‌الطارق از طریق محاصره ۳ سال و نیمه این منطقه با کمک نیروهای فرانسوی، طی سال‌های ۸۳ - ۱۷۷۹ موفقیتی در پی نداشت. پیشنهاد



متعاقب انگلیس برای تعویض جبل‌الطارق با بخش دیگری از سرزمین اسپانیا، از سوی مادرید نیز رد شد.

در رفراندوم سال ۱۹۶۷ نیز بر اساس ادعای وزارت کشور انگلیس، غالب اهالی جبل‌الطارق به حفظ ارتباط نزدیک خود با انگلیس رأی دادند. با این وجود، مادرید سال‌هاست خواهان مالکیت مجدد بر جبل‌الطارق است.

اما اینکه چرا این دهکده از این اندازه اهمیت برای اسپانیا و انگلیس برخوردار است، به موقعیت استراتژیک آن باز می گردد زیرا این اراضی تنها مسیر آبی بین دریای مدیترانه و اقیانوس اطلس محسوب می‌شود.

از این رو بود که وقتی اسپانیا کنترول خود بر مرزها را افزایش داد، به دلیل کُند شدن تردد و تاخیر در جابه‌جایی افراد، فریاد انگلیسی‌ها برآمد. دیوید کامرون، نخست وزیر انگلیس پس از تماس تلفنی با «ماریانو راخوی»، همتای اسپانیایی خود اعلام کرد: «بین مردم جبل‌الطارق و اسپانیا اختلاف بر سر ماهیگیری وجود دارد و نیاز دارد تا حل و فصل شود و ما توافق کردیم که چنین شود. تشدید کردن این موضوع به روشی که انجام گرفته، درست نیست.»

او همچنین بار دیگر تاکید کرد که حاکمیت انگلیس بر جبل‌الطارق غیر قابل تغییر است. البته سازمان ملل متحد نظر دیگری دارد. این نهاد بین‌المللی این منطقه راهبردی را که مشرف به ورودی اقیانوس اطلس به دریای مدیترانه است، در فهرست «مناطق منتظر برای استعمارزدایی» قرار داده و به طور رسمی جبل الطارق را یکی از ۱۰ قلمرویی قلمداد می کند که انگلیس به طور غیر قانونی آنها را اشغال کرده و پرونده حاکمیتی این اراضی تا زمانی که لندن آن را به صاحبان اصلی‌اش بازنگرداند، گشوده خواهد ماند.


حضرت رابعه بصري رحمها الله

۱ ـ لکه شمعه چې ځان ویلې کوي او نورو ته رڼا ورښيي تاسې هم ځان د هغې په څېر وسوځوئ چې نورو ته مو ګټه ورسيږي.

۲ ـ ستنه که بربنډه هم ده د نورو جسمونه پټولی شي.

۳ ـ په دې کې شک نشته چې یوه ښځه هم پیغمبره شوې نه ده، خو په یاد ولرئ چې د خدايي دعوه يې هم نه ده کړې او ټول پیغمبران، ولیان، صدیقین او شهیدان د همدوی په غېږ کې ستر او روزل شوي دي.

۴ ـ خپل زړه په خپل لاس کې ساتل او د نفس له هوسونو ځان ژغورل په خپله یوه مېړانه ده



په شیرزادو کې ددښمن عبرتناک شکست

حبیب مجاهد

د روان میلادي کال داګست په دوهمه نیټه دننګرهار په شیرزادو او

خوګیانو ولسوالیو مجاهدینو ستره بریا درلوده ، چې په نتیجه کې یې ددښمن هغه ستر کاروان چې سیمې ته دعملیاتو په موخه روان وو دمجاهدینو دعملیاتو ښکار شو ، لسګونه عسکر یې ووژل شول ، او ګڼ شمیر پوځي وسائل او وسایط یې له منځه یوورل شول داچې ددې تاریخي پیښې او ددښمن دعبرتناک شکست سیاق او سباق څه وو په لاندې کرښو کې ورته اشاره کوو .

تردې پیښې څلور ورځې وړاندې دشیرزادو او خوګیانو په سرحدي سیمه کې محلي اربکیانو دطالبانو په یوځایي سرګروپ (بلال) چې له یوه بل مجاهد سره په موټر کې روان وو ، برید وکړ ، بلال یې په شهادت ورساوو و او دنوموړي ملګری یې په ټپي حالت کې ژوندی ونیو چې وروسته یې په سخت ظلم او قساوت په شهادت ورساوو .

داربکیانو دې ظلم او قساوت په سیمه کې دمجاهدینو احساسات وپارول ، او دشیرزادو په بلل خیلو سیمه کې یې په پرتو اربکیانو چې دیوه سیمیز ملک ترمشرۍ لاندې یې فعالیت درلود ، دبرید تابیا وکړه ، طالبانو په شیرزادو کې په اربکیانو عملیات پیل کړل ، څرنګه چې ددې سیمې اربکیان کمزوري وو ، نو په جلال اباد کې یې له اردو او پولیسو څخه مرسته وغوښته ، دننګرهار والي داربکیانو مشر ته وویل ، چې تاسو په جاده خپل جنګ ته دوام ورکړئ ، زموږ قواوې به ډیر زر مرستې ته درورسیږي .

طالبانو دشیرزادو دبلل خیلو او مرکي خیلو په سیمو کې په اربکیانو په برید سره تر ۲۰ زیات اربکیان له منځه یوورل ، خو لا هم اربکیانو مقاومت ته دوام ورکاوو ، په دې لړ کې دننګرهار له مرکز او خوګیانو ولسوالۍ څخه په ګڼ شمیر حکومتي قواوې چې لسګونه پوځي موټر ورسره وو دشیرزادو په خوايې حرکت پیل کړ ، دامهال دخوګیانو او شیرزادو مجاهدینو په ګډه دلارې په اوږدو کې د زاوه ، قیلغو ، خدرخیلو او دهاشم خیلو په سیمو کې ددښمن دغې سترې قوې ته کمینونه ونیول .

کله چې ددښمن قوا دمجاهدینو دکمینونو سیمو ته داخل شوه ، نو په مختلفو سیمو کې وربانديې بریدونه پیل شول ، دا جګړه چې ترساعتونو

ساعتونو یې دوام درلود ، ددښمن پولیسو ، اربکیانو او پوځیانو ته په کې خورا درانه تلفات واوښتل .

داسلامي امارت ذبیح الله مجاهد د سیمه ایزو مجاهدینو په استناد وویل چې په دې جګړه کې ددښمن ٦١ تنه عسکر په خوګیانو او ۲۳ تنه په شیرزادو کې وژل شوي دي ، دغه راز مجموعا ددښمن ۸۹تنه عسکر ټپیان شوی دي .

دننګرهار دمجاهدینو په وینا مجاهدینو په جګړه کې ١٦ رینجر موټر روغ نیولي ، او ۲۳ عرادې پوځی موټر یې سوزولي یا زیانمن کړي دي ، طالبانو تر ۴۰ میله زیاته سپکه او درنه وسله، مخابرې او نور پوځي وسائل ولجه کړي دي ، په جګړه کې پنځه تنه مجاهدین هم شهیدان شوی او ۴ نور ټپیان دي .


دننګرهار ولایتي چارواکو رسنیو ته ویلي چې په جګړه کې یې ۲۲ تنه عسکر وژل شوي دي ، خو دسیمې یوه عیني شاهد افغان اسلامي اژانس ته ویلي چې دحکومتي وژل شویو عسکرو شمیر تر ۵۰ زیات دی ، چې مړي یې په تیاره کې د چورلکو په واسطه له سیمې ایستل شوي دي .

دپیښو د څارونکو په باور دا جګړه دننګرهار په ولایت کې په نږدې کلونو کې ترټولو ستره جهادي پیښه وه ، چې حکومتي قواوو ته په کې بیساری د سر او مال زیان اوړي .

د یوه خبریال دسترګولیدلی حال

سره له دې چې دشیرزادو په جګړه کې دښمن ته دسر او مال اوښتی زیان خورا درونډ وو او دښمن له سخت عبرتناک شکست سره مخامخ شوی وو ، خو بیا هم دښمن هڅه کوله په دروغجنو ادعاوو او څنګلوري ازره او حصارک کې دسیمرغ په نامه دناکامو عملیاتو په بریالي اعلانولو سره خپل شکست پټ کړي .

خو څرنګه چې حقیقت هیڅکله نه شي پټیدلای له پیښې څو ورځې وروسته مجاهدینو یو شمیر خبریالان سیمې ته وردعوت کړل ترڅو هرڅه په خپل سترګو



ووینې، ددې خبریالانو په جمله کې دپژواک اژانس په نامه د نیمه حکومتي اژانس خبریال محبوب شاه محبوب هم وو چې خپل دسترګو لیدلي حالات یې په راپور کې داسې راونغاړل (د ننګرهار د شېرزادو په ولسوالۍ کې د تېرې اونۍ له جګړې وروسته هر لوري ته دولتي سوځول شوي ټانکونه او رینجرې لیدل کېږي او ځلې ځلې وسله وال طالبان په رڼا ورځ په ټوله ولسوالۍ کې ګرځي.

شېرزادو ته په رسیدو په لومړنۍ څلورلارې کې مو د پولیسو پر یوه سوځېدلي ټانک سترګې ولګېدې، له ټانګه شپږ اوه ځوانان راټول وو او پر رنجونو یې ترې اوسپنې د کباړ د خرڅ لپاره بېلولې.

د دې سیمې یوه اوسېدونکي اختیار الله پژواک خبري اژانس ته وویل، چې د ویجاړ شوي ټانګ چلوونکی پولیس څو قدمه وړاندې د وسله والو پر دزو کې ووژل شو. له دغه ټانګ سره په لس مترۍ کې د ملي پولیسو یو رینجر موټر هم چپه مخ پروت و، اختیارالله وویل، چې د دغه موټر چلوونکی د وسله والو له لوري ژوندی نیول شوی دی.

د څلورلارې لوېدیځ لور ته په څو مترۍ کې یو بل د اربکیانو پوځي موټر چې نیمایي د کلي ځوانانو کباړ کړی و، پروت و، دغه سیمه صدرخېل دوه بندۍ نومېده، له دغه رینجر موټر لږ وړاندې یو بل رینجر موټر هم سوځېدلی پروت و.

د څلورلارې شمال خوا ته د ستر کلي چکاو په نوم یوه سیمه ده، دې سیمې ته په لاره بل سوځېدلی رینجر پروت و، پر دغه ټانګ هم څو ځوانان راچاپېر وو او وسپنې یې ترې د خرڅون لپاره بېلولې.دسیمې خلکو ویل ، چې په نښته کې لسګونو اربکیانو او پولیسو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د دې سیمې په لاندې خوړ کې هم درې سوځېدلي رینجر موټر پراته وو، له دې سل متره وړاندې په خوړ کې له یوه کرولا ډوله موټر سره پنځه تنه طالبان ولاړ وو . له خوړ نه پورې غاړې د سیمه ییزو پولیسو درې نور رینجر موټر تخریب شوي ولاړ و، چې له هغوی هم ګڼ ځوانان تاو وو او هر یوه یې د ځان لپاره وسپنه راویستله.یوه هلک پژواک ته وویل: ((غواړم دا وسپنه خرڅه کړم او ځان ته د اختر خرچه پیدا کړم.))

له دې سیمې شاوخوا تر یو نیم ساعت پلې مزل وروسته کله چې بلې سیمې ته ورسېدو، نو هلته لسګونه طالبان مېشت وو.له یادو ټولو وسله والو طالبانو سره راکټ، پیکا، کلاشینکوف، برچې او داسې نور جنګي وسایل وو، او ځانونه یې داسې چمتو کړي وو، لکه چې همدا اوس جنګ ته روان دي، په دې ډله کې مو د وسله والو درې قوماندانان هم ولیدل.

یو یې ځان زرقاوي معرفي کړ، چې څه موده مخکې یې دولتي ځواکونو د وژل کېدو خبر ورکړی و، ورسره په خواکې یو بل سپین ږیری کشمیرخان قوماندان ولاړ و، د کشمیر خان د وژلو خبر هم څه موده وړاندې یو شمېر رسنیو د دولتي سرچینو په حواله خپور کړی و، خو موږ ولیدل چې دغه خبرونه بې اساسه او دوی دواړه اوس هم ژوندي او په سیمه کې فعال دي .

په دې سیمه کې دطالبانو یوه بل قوماندان پژواک ته وویل، چې په یاده نښته کې د دوی پنځه ملګري وژل شوي دي.هغه ویل: ((که څوک وایي چې دا دروغ دي همدا اوس هدیرې ته ځو او وبه ګورو چې پنځه قبرونه دي او بس.))نوموړي وویل، چې د سیمه ییزو پولیسو قوماندان او یو شمېر نور ملګري یې پر یوه کور ور ننوتي وو او ماشومان یې د سپر په توګه کارول.


له پېښې وروسته

د شېرزادو په پېښه کې که څه هم دښمن ته درونډ زیان واوښت خو دښمن ظاهرا هڅه کوله خپل تلفات پټ کړي ، مګر ډېر ژر دا راز رابرسېره شو او هغه داچې له پېښې یوه اونۍ وروسته د اګست په لانیټه دکابل چارواکو دننګرهار محلي امنیتي مسؤلین تورن کړل ، چې دې چارواکو په جګړه کې په بې احتیاطۍ سره عسکر له تباهۍ سره مخ کړي دي .

په همدې نېټه دکورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې دننګرهار محلي امنیتي چارواکي یې دپولیسو دقتل عام او څرګندې ناکامۍ په تور ځارنوالۍ ته معرفي کړي دي ترڅو ورسره حساب وشي .

باید وویل شي چې دا لومړی ځل دی چې حکومت له خپلو چارواکو سره محاسبه کوي ، چې له دې معلومېږي چې دښمن ته خورا درونډ زیان رسیدلي او ګڼ عسکر یې له منځه تللي دي .

په ننګرهار کې دداخلي عسکرو عبرتناک شکست او ددوی دعملیاتو معکوسې نتیجې وښوده چې دنړیوالو یرغلګرو هغه خیالونه بیځایه دي چې فکر کوي دخپلو پوځیانو له ایستلو وروسته به مسؤلیت داخلي قواوو ته وسپاري او په دې توګه به دنیابتي جنګ په توسط خپل اهداف وپالي ، ځکه دې جنګ وښوده چې ددوی جوړ شوي امنیتي ځواکونه تر وروستي حده آسیب پذیره او ناتوانه دي چې له مجاهدینو سره دمخامختیا تاب نلري .



دمصريانو قاتل (السيسی) څوک دی ؟

لطیف عزم

جنـرال عبـدالفتاح السـيـی ، چې دامريکااواسـرايلوپه قومنـده اوخـاص هـدايت يې دمصـر۱۵ زره تنـه مظلـوم مسلمانان چې دعظـيم الشان قـران لـه نسخوپرته يې بل څه په لاسوکې اوجيبوکې نه لـرل ، پـه يـوه ورځ (داګست) پـه ۱۴نيټه دهوايي اوځمکينوعملياتوپه ترڅ شهيدان اوزخميان کړل ، سيسی دجولای پـه ۳ نيټه دمصرمنتخب ولسمشر ديوې کودتا په ترڅ کې له واک نه ليري اوزندان ته يې وليږه .

دمصـرداخوان المسـلمين ډلـې چـې شـميرې لـه ۲۰ميليونـو تنـواوړي دمرسي له ليري کيدو ورسته په سرتاسري لاريونواومظاهرولاس پوري کړی اوهوډيې ښوولی چې ترڅو مرسي بيرتـه قـدرت تـه نـه وي راغلی دوی خپلو اعتراضونوته دوام ورکوي .

اوس راځوديته خبري ته چې جنرال عبدالفتاح السيی دی څـوک چې هـم يـې منتخـب نظـام ړنـګ کـړ اوهـم يـې پـه يـوه ورځ کـې ۱۵زره تنـه مظاهرچيان په خپلووينولت پت ، شهيدان اوژوبل کړل ؟

جنرال عبدالفتاح السيی : چې ۵۸ کاله عمرلـري لوړي زدکړې يې پـه امريکااوبرتانياکې سرته رسولي ، نوموړی دمصرپه قاهرې کې پيداشوي اوپه کـال ۱۹۷۷کې عمـلا دپـوځ ليکوتـه داخـل شـوی ، هغـه پـه کـال ۲۰۱۲ کې دمحمدمرسی له لوري چې کله هغه دواک په ګدی کيناست دغـه ناڅوانه څيره يې د(سپهبد محمد حسين طنطاوی) پـه ځـای د مصـرددفاع وزيرپـه توګـه غـوره اووټاکـه ،لـدې نـه وړانـدې السيسـی دپـوځ دنظـامي استخباراتومشرو.


هغه چې ددندې پرمهال دمصرداخوان المسلمين دډلې اومشـرانوپه اړه کافي معلومات درلودل داسې ويل کيدل چې دحسنی مبارک دنسکوريدوپه پاڅون کې چې په ۲۰۱۱کې ترسره شو سيسي له اخوانيانوسره يواندازه نيږديوالی هم په ډاګه کړی وو ، همدغـه تمايـل ووچې مرسی لـه خـوش بـاوري نـه کارواخيست او نوموړی ددفاع وزيرپه توګه انتخاب کړ .

ويل کيږي چې جنرال السيسي له امريکااوغرب سره ډيرې تودې اړيکي لـري اوګـڼ سفرنه يې ترسـره کـړي پـه دې سـربيره يې دنظامي استخباراتو ځانګړې زدکړه هم په امريکاکې ترلاسه کـړي ، دغـه راز د۲۰۱۱کـال داکتوبرپـه مياشت کې داسرائيلي بندي (ګلعاد شاليت) چې لـه حمـاس سـره اسيرووپـه خلاصون کې يې مهم رول لوبولی وو.


کله چې سيسي دمرسي رژيم ړنګ کـړ او دهغـه پلويـانو پـه لويـو لاريونو لاس پوري کړ ، يوې اسرائيلی ورځپاڼې «هاآرتص» يې په اړه وليکل : سيسي به تنها دمرسي په ليري کيدو بسنه ونکړي ، بلکي ټول صلاحيت اوځـواک بـه پـه کارواچوي چې داخوان المسلمين ډلـه منحـل اودسياست لـه صحني بـه يې حذف کـړي ؛ چې دادی کـټ مـټ داسرائيلو دغـه خـوب دمصرااواسلام لـوی دښمن (سيسي) رښتيااوپه عمل کې يې تريوه حده پلی وګرزاوه .

لـه بـل لـوري سپيني مـاڼی ترپايـه دسيسي لـه لـوري دمرسي درژيم جنايت محکوم نکړ اوحتی کودتايې ونه بلله اونه يې هم د۱۵تنو مصريانو پـه مرګ ژوبلې دفرعون لوی جلاد سيسي ته داسې ترخه خبره اوجدي غبرګون پـه ډاګه کړ ، بلکي تووند دريغ اوموقف يې داوه چې دواړه لـوري دي لـه زغـم څخه کارواخلي !!!

پايله : لـه پورتـه ټولـو حقايقـو پـه اثبات ورسيده اوهرڅـوک پـه دې خبره پوه شول چې قاتـل سيسی دچاپـه قومنده اواشاره دمصري مسلمان ولس په مقابل کې چاړه راوويسته اوداخبره هـم هرچاتـه څرګنده شوه چې امريکا غرب اوتاليځتې يې په اسلامي هيوادونوکې له کوم ډول جمهوريت ! ديمکراسی ! اوبشري حقوقوڅخه ملاتړکول غواړي .؟ !



د ۱۶ افغانانو قاتل او نمایشي سزا !!



تیر کال د مارچ په میاشت کې د کندهار ولایت په دوو کلیو کې په یوه شپه ۱۶ تنه مظلوم افغانان چې ښځې، ماشومان او سپین ږیري هم پکې شامل وو د امریکایي وحشي عسکر (رابرت بیلز) له لوري په ډیرې بې دردۍ له تیغه تیر کړل شول.

د راپورونو له مخې پرون د (اګست په ۲۲) نیټه د افغانانو دغه پیژندل شوي قاتل ته د امریکا د واشنګټن یوې پوځي محکمې کې د ۲۰ کلونو د بند یوه نمایشي سزا اوروله.

رابرت، چې په محکمه کې یې په خپل جرم اعتراف کاوه په جریان کې یې کوم داسې ټکي له خولې راونه ویستل چې ندامت پکې ښکاره شوي وي او د ۱۶ افغانانو په قتل عام دې اندیښمن وي، بلکې لوړ مورال یې درلود او هیڅ کوم فشار او تهدید احساس نه کاوه!

په داسې حال کې چې تراوسه د کابل له اجیر رژیم سره امریکایان کوم قضایي مصؤنیت هم نلري او نه یې هغه ګوډاګي امنیتي تړون لاسلیک کړی، خو بیا هم رابرت بیلز ته د یوه داسې جنایت په مقابل کې چې د امریکا په قانون کې ورته لږ تر لږه ۱۶ ځله اعدام او شدید مجازات مقرر دي، د پردې ترشا هغه هم په یوه نمایشي او له تمسخر نه په ډکې محکمې کې د ۱۶ تنو افغانانو د وژنې پوره اوبیه ایله پنځه نیم لکه ډالره او ۱۶ کاله بند اعلان شو.


له بل لوري د رابرت د پوځي محکمې څارندوالانو ویلي چې دوی ځکه نوموړي ته د ۲۰ کلونو د سزا غوښتنه وکړه چې له دوی سره داسې یو تلفوني غږ موجود او ترلاسه کړی یې دی چې نوموړي له خپلې میرمنې سره په تلفون کې د کندهار په قتل عام خوښي څرګندوي او د تمسخر په ډول وایي چې هغه په خپل لاس ۱۶ تنه افغانان په لوړ احساس ووژل او له مرګ څخه یې خوند واخیست !!

خو؛ له همدومره ځناورتوب او مسخه شوي ضمیر باوجود امریکایي ناترسي محکمې په انسانیت پښه کیښوده د افغانانو وینې یې هدر او د بوسو په بیه وشمیرلې او د ۱۶ تنو د مرګ په مقابل کې یې هم یوتن امریکایي عسکر د مرګ او اعدام مستحق ونه باله، بلکې د یوه وژل شوي افغان په سر یې امریکایي قاتل ته ۱ کال او دری میاشتي سزا مناسبه وبلله!؟

د راپورونو له مخې تنها په تیرو شپږو میاشتو کې د خارجي عسکرو له لوري یو نیم زر تنه ملکي افغانان وژل شوي او د واشنګټن پوست په وینا د تیرو ۱۲ کلونو په اوږدو کې ۴۰ زره بې دفاع افغانان د امریکا او ناټو د پوځیانو له لوري وژل شوي او ۷۰ زره تنه ټپیان شوي، خو د دغو دومره قصدي مرګ ژوبلې په مقابل کې امریکایانو ایله یو امریکایي عسکر په یوې انسانیت وژونکې محکمې ته وړاندې کړ او یوه جعلي سزا یې ورته واوروله.

اوس به معلومه شي چې د کابل ګوډاګي چارواکي چې افغانان له امریکایانو سره د امنیتي تړون او قضایي مصؤنیت په اهمیت او تبلیغاتو نور کانه کړل د ۱۶ تنو افغانانو د قاتل په محکمه او سزا څه ډول غبرګون ښیي او په کوم استدلال او ډاډ بیا هم افغانانو ته وایي چې که له امریکایانو امنیتي تړون ولري نو د افغانانو ژوند مصؤن او له هر ډول خطراتو ته محفوظ وګرځول شي.

خو که په چاکې لږ غوندې عقل او شعور هم وي د افغانانو د معلوم الحاله قاتل (رابرت بیلز) په ورستی محکمه او سزا به یوه شي چې امریکایي او کمن افغانانو ته په کوم نظر او ارزښت قائل او خپلې ویني د نورو له وینو سره په څه ډول تلل او ارزول غواړي.؟



ملت ما هرگز ملت غلام فطرت نیست

حبیب الله یوسفزی

مسئله حل بحران افغانستان نسبت به افغانها برای امریکایها بسیار قابل برسيي ونگرانی است ، آمریکا که در تاریخ دوصد ساله خود چنین جنگ طولانی را نه دیده بود بلکی اصلا در این عصر تکنولوژي جدید و مدرن فکر نه میکرد که با این قسم جنگ مواجه خواهد شد که پهنا ودرازی بسیار آز آن دارد که قبلا پیش بینی شده بود ، اکنون ممکن درک کرده باشد که واقعیت ها هرگز طوری نه بوده که آمریکا ازآن مطالعه داشت ، در تاریخ بشریت امپراطورها و کشور های زور گو همیشه از رویش همچو امریکا استفاده نموده اند ، مسائل را بسیار اندک نگرسته و خود را توانمند کنترول وضعیت پنداشته اند.

ازفرعون گرفته تا ابوجهل ، از چنگیز تا انگلیس و اینکه از اتحادجماهر شوروی تا آمریکا همه در آغاز نبرد با گروه کوچک ولی دارای ادیال بلند ، ناتوان ولی با اراده ، مستضعف ولی هوشیار ، کم بضاعت ولی با ایمان و دلیر مسائل را از حجم اصلی آن به مراتب کمتر زیر برسيي وتحقیق قرار داده اند و حالت را نه آنچنان که واقعا بود تصور کرده اند ، اگر فرعون در روز اول آغاز مناقشه با حضرت موسی علیه السلام این را نیز تصور میگرد که روزی در قعر دریایی مصر ناله ء (آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ) را سر خواهد داد هرگز قدرت و امپراطوری خود را از دست نه میداد بلکی حاکمیت خود را میتوانست از انتخاب منفی به گزینش مثبت تغیر دهد و از صدای (أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ) به انا عبدالله تغیر جهت میکرد و دیگر هم به حاکمیت خود بالای ملت مصر ادامه میداد .

همچنان اگر ابوجهل در برابر حق از پست فطرتی و تکبر استفاده نه میکرد بلکی به داعیه حق حضرت پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم می پیوست حاکمیت قریش را از دست نه میداد بلکی خود یکی از با قدرت ترین و با وجاهت ترین اشخاص... باقی می ماند و در آن صورت صفحه درخشان در تاریخ بشریت میداشت.

همین گونه ، چنگیز ، انگلیس ، اتحاد شوروی و اینک آمریکا اگر در آغاز نبرد با افغانهای مسلمان و راد مرد تصور انجام حتمی و راستین قضیه را میتوانستند به حالتی که دوچار هستند هرگزمبتلا نه میشدند ، ولی این ابله های تاریخ نه میدانستند که دربرابر کدام ملت ، کدام اراده ، کدام تیوری ونهایتا کدام ادیولوژی قرار میگیرند ؟


اینها فکر میکردند که میتوانند توسط قدرت مادی خود بنیاد عقیدوی ملت افغان را متزلزل سازند و جنگ با افغانها هم مثل سائر جنگ های بشری خواهد بود که طرفین قضیه اتکاء کامل به توانایی مادی دارند و انگیزه هردو جانب استوار بر منافع شخصی میباشد .

ولی اکنون لازم است که آمریکا همه حقائق را درک کرده باشد ، جنرالهای آمریکایی باید بخاطر آینده بشریت از قصهء های جنگ در افغانستان ، همچنان از مردانگی افغانها سخن گویند ودیگر سبب نجات زور گوهای آینده شوند .

به تصورما امریکا اکنون فقط یک گزینه در اختیار داردآن هم خروج بلاقید وشرط از کشور ما افغانستان است ، ونیز پیشیمانی از خطاء که دوازده سال قبل آن را مرتکب شده بود.

امریکا هرگز توان آن را نه دارد که جنگ افغانستان را به نفَس آرام ادامه دهد ویاافغانها را متقاعد به قبولاندن غلامی نماید ، اگر امریکا تصور داشتند پایگاه های دائمی در افغانستان را مثل که ادعا دارد داشته باشد پس باید متیقن شد که ملت ما هرگز ملت غلام فطرت نیست ونه هم در برابر تجاوز و تسخیر آرام خواهد نشست ، ما به نیرو جوان خود باور داریم که تاآن زمان جهاد را ادامه خواهد داد تاکه آخرین عسکر اشغالگر را نیز از تمام حدود کشورخود براند و صاحب اختیار کلی در مملکت شود .

اگر امریکا هنوز هم ملت غیور، مسلمان و راد مرد افغان را نه شناخته باشد ودر برابر آنها ازادامه جنگ سخن گوید پس منتظر افتضاح بیشتر باشد و روز فرا خواهد رسید که حیثیت باقی مانده خود را نیز به باد خواهد داد و درنهایت راه شرم آور گریز راتوأم به تلفات سنگین خواهد پیمود .ان شاءالله وما ذالک علی الله بعزیز




ایاامریکایان په افغانستان کې دجګړې اصلي عامل اولوری نه دی

اولیا زابلوال

شک نشته چې امریکایانوپه افغانستان کې نوره کلکه ماته خوړلې اودی نتیجې ته رسیدلي چې دجګړې په ډګرکومه لاسته راوړنه اوپرمختګ نلري ، نوغواړي خپل شیطانت اوچالاکي دسیاست په بازارکې دځان په ګټه استعمال اوپه ښه بیه وپلوري اودجګړې رسوایی اوشکستونه پرې پټ اوعامه اذهان په بل لوري واړوي .

امریکایانو دتیرو۱۳ کلونوپه اوږدوکې په پوځي زورازمایی اودډول ډول ستراتیژیودپلي کولوترڅنګ زیاتې هڅې اوهلې ځلې وکړې چې دشمال ټلوالي په مرسته اودغرب له هوټلونو دراوړل شوافغان نماڅیروپه توسط په افغانستان کې دیوداسې رژیم پښې ټینګې کړي چې دطالبانودګواښونواوبریدونو ځواب ووایي اودامریکایانو په ځای دوی روانه جګړه پرمخ بوځي ، اوددې پرځای چې امریکایي عسکرووژل شي اوټپونه واخلي بایدافغان ملي اردودغه باراوغلامي په اوږواخلي ؛ که څه هم امریکایانو په خپلې دغې چالاکی اودام غوړولوسره دملي اردوبیړه غرقه کړه ، دجګړې دمخې سپریي وګرځول ، خودامریکایي وحشي لښکروپه اورمیړواوککرو له څوبرابره زیات دطالبانو مرمی ولګیدې ټانګونوپې دړې وړې شول اوچورلکوپې راوغورځول شوي یاني کوم خنډاوځنډندی پکې راغلي اونه هم دامریکایی عسکرتلفات اودزیانونوکچه ټیټه اوکمه شوي

هرڅوک دامني چې دپنځواودریوکلونو مخکې څخه اوس په دې نیږدې ۲او۳ کلونوکې امریکایانو ته درانه تلفات اومرګ ژوبله اوړیدلي اودغه لړی په تونده په مخ ځي ، مطلب داچې امریکایانو انتهایی کوشش وویست چې خپل غلامان مسلط اوځواکمن وساتي ، ولې الله تعالی په دې کاراوحربه کې هم سخت شرمنده وګرځول اوله خپل



ټول قدرت ، وحشت اوامکاناتوباوجودپه دې بريالي نشول چې تنها دکابل ښار امنيت اوثبات خوندي اوډاډمن وګرځوي !!

له بل لوري امريکايان چې په يوه لويه تيروتنه کې کيوتل هغه داچې دافغانستان په خاوره داتګريزانواوروسانو ديرغل اوتاريخي ماتي سمه اندازه دوی ځانته نه وه معلومه کړي اويايی داسې فکرکړی ووچې افغانستان به هم لکه دخليجي هيوادوپه څيريوهيواداودافغانستان اسلامي امارت قيادت به هم دعربي شاهانوپه څيرپه خوبونو اواستراحتونوکې ډوب خلک اوچارواکي وي چې دقدرت دبقالپاره چې څه امريکايان ورته وايی هغه به مني .

افغانانوامريکايانو ته دروان مقاومت اوجهادپه ذريعه په اثبات ورسوله چې دوي ته دخپلې خاوري اومقدساتو ساتنه اودغيرت ژوندتربل هرڅه غوره اوعزيزدي اوکوم قياسونه اواټکلونه چې امريکايانوکړي ووهغه ټول باطل اونامراده دي اوپه دې يې هم سرخلاص شو چې پرمختللی جنګي ماشين اوپه اصطلاح له فضاڅخه پرځمکه دڅلوراينچه شی ليدونکي تکنالوژی يې هم په افغانستان ړنده اوله کاره وغورځيده .

امريکايان چې کله پوه شول چې جګړه ماري اوخودخواه تګلاري يې ماته وليدله اونورداستعمال وړنده ، نوله طالبانوسره يې دخبرواومذاکراتو لارونيوله ، ولې له مذاکراتووړاندې يې داچالاکي اوشيطانت ترمخ اوعنوان کړچې اصلي جنګ اوجګړه خودطالبانو اوکابل رژيم ترمنځ ده ، دوی به صرف دمنځګړي رول لوبوي !!

عجيبه خبره ده ، دکابل له ګوډاګيانوسره چې ستاسې مرسته اوراشن نه وي اوستاسي ټانګ ، الوتکه ، وسله اوډالريوځای روان ونه وسي دهغوی يوه ورځ په افغانستان کې اوسيدا ممکنه ده ؟ اواياهغوی له همدې ويري په خپلو بيکونوکې دامريکااوبل غربي هيوادسياسي پناه وو اسناداوويزي تياري ندي ايښې اوايافاميل اوبچيان يې وارله مخه په غرب اوامريکاکې ميشته ندي ؟

لدې حقيقت څخه به امريکاڅنګه دخلکوذهن بل لوري ته واړوي چې دتيرو۱۳ کلونوپه اوږدوکې ستاسي جاسوسان اوژباړونکي څوک وو ، تاسې ته لاراوګودري چادرښودلي اويوميلون افغانان موچې په بګرام ، کابل ،ګوانتانامو ، کندهاراودشمال په پټو اوښکاره جيلونوکې شکنجه کړل اودواشنګټن پوسټ په راپور۵۰زره ملکي افغانان موچې ووژل څوک درسره شريک اوملاتړي وواوچادرته ويل چې دادوست دی اودادښمن ؟

اوس چې خبره درنه وشړيده اودتيښتي مرحلي ته ورسيدي لدې ورسته ځان دريمګړی معرفي کوي اودجګړې اصلي لوري طالبان اودکابل اداره بولي ،بنيادي خبره داده چې اصلي جګړماران تاسي ياست اودکابل رژيم ستاسې دجګړې دسون توکي وو

دطالبانودغه دريځ چې هغوی تردې دمه له کابل اداري سره خبروته ندي چمتوشوي اونوموړي اداره بې واکه اوبې صلاحيته ګڼي اوامريکايان دجګړې اصلي عامل بولي له شک پرته دايومعقول موقف اوپرځای دريځ دی ، څکه امريکايان ډيرځله په خپلو تعهداتو اوپريکړو ورخيبړي اونقض کوي يي ، داخبره خوهيڅکله دمنلواوډاډندی چې دامريکاګوډاګيان اوغلامان دي له چاسره توافق اوموافقه وکړي اودوی دې بيامنلوته ځان پابنداومتعهدوشميري !


قاهره کې مظلوم مسلمانان په کوم جرم ددومره ستر قهر ښکار شول ؟

شهيدزوی

نن مصر په نړيوالو رسنيو کې ځکه دسر مقام لري چې هورې په تېرې لنډې مودې کې لوی تحولات رامنځته شول اوبيا د اګست په ۱۴ مې نېټې پکې ستر قتل عام وشو دادمصر اوسنی خورادردونکی تصوير دی او اوس دمصر دنوم سره همدا تصوير مل وي ؛ خونړۍ چې مصر پېژني نوداوسنو پېښو درامنځته کېدلو له امله نه بلکې له دې امله چې دنړۍ په سطحه داهېواد خورا زيات قديم تاريخ لري ، دلته ډېر دينونه او تمدنونه تېر شوي ، داد ګڼو انبياءو دبعثت خاوره ده ، دلته فرعونان تېر شوي ، داددفرعون په شکل کې دستر باطل اودموسی عليه السلام په صورت کې دلوی حق دتاريخي مقابلې ډګر و ، دلته دالله تعالی يوستر پېغمبر حضرت يوسف عليه السلام په کوچنيتوب کې دغلام په نوم خرڅ شوی و ؛ همدلته خدای دنفس پرستو په لومو کې دراښکېلېدو نه ساتلی اودپاک لمنۍ هغه تاريخ يې جوړ کړی و چې دقيامت تر ورځې به يې الله تعالی په ستر کتاب قرآنکريم کې ياد تازه ساتي ؛ دحق پالنې په لار کې دابتلاګانو نه پس همدلته هغه ته الله تعالی لوړ مقام ورپه برخه کړ ی و ، همدلته نيل دی اوهدلته هغه قلزم دی چې پکې فرعون اودهغه لښکر هلاک شوی اودموسی اوهارون عليهماالسلام سره يوځای الله تعالی همدلته بني اسرائيلو ته نجات ور کړی و او داهرامونو په نوم دتعميراتو په نړۍ کې تر ټولو قديم او ستر شاهکار هم همدلته دی .


لنډه داچې دااوګڼ نورلاملونه دي چې دې هېواد ته يې نړيوال شهرت وربښلی دی خو تر کومه چې داهميت خبره ده نو دامريکا ، اسرائيلو ، نورلويديځ لپاره او هم داسلامي نړۍ لپاره ددې هېواد اهميت دلته دسويس دکانال دشتون تر څنګ دفلسطين په خاوره ديهودو دقبضې اودلته داسرائيلي دولت داعلانولوله امله دی ځکه چې په تېرو وختونو کې چې ديهودو دقبضې پرضد اودفلسطين دازادۍ لپاره څومره حرکتونه رامنځته شويدي مرکزاومحور يې مصر دی اوداسرائيلو پرضدچې د۱۹۴۸م ، ۱۹۶۷م او ۱۹۷۳م کوم ۳جنګونه رامنځته شوي نومرکزي ونډه پکې دمصري فوځ وه دابېله خبره ده چې مصري فوځ دخپلو متحدينو سره يوځای ديوموټي اسرائيلو په مقابل کې پدې هر جنګ کې ماتې خوړلی وه .

داروښانه خبره ده چې دمصر اونورو دخپلو فوځونو په مقابل کې بريالیتوب دامريکا اونور لويديځ لپاره مهم و خوددې نه زيات مهم ددوئ لپاره دمصري فوځ دذهنونو نه داسرائيلوسره ددښمنۍ اوجهادي



روحیې ویستل ونوځکه دښمن دمصرپه باره کې خپله تګلاره بدله کړه اوپرځای ددې چې دمصر سره دښمنۍ ته دوام ور کړي په خپلولوموکې دراښکېلولوپه موخه یې مصر ته ددوستۍ لاسونه ور اوږده کړل اودفوځ سره یې نیغ په نیغه روابط جوړ کړل ، زرونه فوځي افسران اوخصوصاًپالیسي جوړونکي ار کان یې دتربیت ور کولو په نوم دامریکا اوبر تانې فوځي اکاډمیو ته بوتلل اوددې ترڅنګ امریکادمصرفوځ ته داسرائیلونه پس تر ټولوزیاتې مرستې ور کړې ، دامریکا د کانګرس دتحقیقاتي مر کز تراوسه د کومک په نوم مصر ته امریکا ۶۸ ملیارده ډالر ور کړیدي دمصر فوځ سره دمخامخ روابطو ، تربیت اوور ته دمرستو ور کولو نتیجه داشوه چې مصر ګاونډی غاصب دولت هم په رسمیت پېژندلی اوهم یې ور سره دامن لوظنامه لاسلیک کړیده چې همداخبره دعربي نړۍ سره دامریکا دروابطومر کزي نکته وه او اوس هم ده ؛ اودمصر فوځ سره دمخامخ روابطو ، تربیت اوور ته دمرستو ور کولو نتیجه داهم شوه چې د۱۹۷م نه تر ۲۰۱۲ یانې دحسنی مبارک دمعزول کېدلو پورې په تېرو ۳۵ کلونو کې په مصر کې داسې فوځ تیار شوچې داسرائیلو په پر تله یې دمصر داسلام خوښو سره دښمني ډېره زیاته ده ځکه خو یې د ډاکټر مرسي په مشرۍ کې د اسلام خوښوواکمني دیو کال نه د زیاتې مودې لپاره ونه زغمله اودمحمدمرسي د ادارې پر ضد دمظاهرو د شروع کېدلو نه لاډېر دمخه یې ددې ادارې د ړنګولو پرېکړه وکړه دامورږ نه وایو بلکې د محمد مرسي په مخالفینو کې یو ډېر مهم مخالف ډاکټر مونامکارم عبید هم اوس دااعتراف کړی. ډاکټر مونا مکارم قطبی عیسائی دی د تېرو ۱۷ کلونو راهیسې په قاهره کې د امریکایې پوهنتون د سیاسي چارو په فاکلټې کې استاذ دی ، د حسنی مبارک د واکمنۍ پر مهال د پارلمان غړی او دهغه د ادارې د له منځه تللونه پس یې په عبوري دولت کې د فوځي شوری غړیتوب درلوده او وروسته دمحمد مرسي دولت کې هم د پارلمان غړی شو چې د قانون جوړونې په کمېټې کې ر کن هم و او د نورو سیکولراو لبرل ار کانو سره یوځای ده هم دمرسي د حکومت په ورستیوورځو کې له خپلې دندې استعفی ور کړه ، د جولای په ۳ یمه نېټه چې د فوځ په لاس د محمد مرسي اداره ړنګه شوه کابو یوه اونۍ پس د جولای په ۱۱ می نېټه د مډل ایسټ انسټیټیوټ نومې ادارې له لورې ((دمصر سیاسی مستقبل)) تر عنوان لاندې جوړشوې سیمینار کې دوینا پر مهال د ډاکټر مونامکارم له خولې داخبره راووتله چې د محمد مرسي د دولت پر ضد د مظاهرو د پیل کېدلو نه لا وړاندې د فوځ مشر عبدلفتاح السیسی دمرسی د مخالفینو په مرسته د دولت د ړنګولو پلان جوړ کړی و ؛ هغه زیاته کړه چې دجون په ۳۰ مې نېټې یانې د فوج د اقدام نه ۴ ورځې وړاندې ځه د حسنی مبارک د نېږدې ملګري او د هغه په اداره کې د ښهر سازۍ وزیر حسب الله الکفراوي کور ته په یومجلس کې د ګډون لپاره دعوت کړم ؛ د ۲۰ نه زیات د لوړې کچې سیکولر جورنالستانو اوداپوزیسیون د مشرانو تر څنګ جنرال فوادعلام هم شتون درلودلو ، (جنرل فوادعلام د حسنی مبارک د اداره کې د داخلي استخبارا تو د ادارې مشرو ، انسانانو ته د تکلیف رسولو په فن کې نړیوال شهرت لري او په تېرو ۲ لسیزو کې د اخوان المسلمون په ګډون د ټولو مذهبي ګوندونو د غړو د نیولو او د تحقیقاتو پر مهال د سختو سزاګانو په ور کولو کې ډېر لوی نوم ګڼلی دی) ډاکټر مونامکارم زیاته کړه چې د مجلس د پیل کېدو سره سم حسب الله الکفراوی په ډېرې رازدارۍ سره وویل چې ځه د فوځی مشر تابه سره په رابطه کې یم او د فوځ مشر عبدالفتاح رانه غوښتې دي چې اپوزیسیون دې دده نه د مرسي د ادارې د ړنګولو تحریري غوښتنه وکړي ؛ د ډاکټر مونا مکارم په وینا د اپوزیسیون د ۵۰ نه زیاتو اشخاصو له لورې امضاشوې غوښتنلیک تیار شو ، د ماسپښین د ۳ بجونه وړاندې فوج ته وسپارل شو او د جنرل الیسی غوښته پوره شوه .

د یادولو وړ ده چې په کومه ورځ چې جنرل السیسی د اپوزیسیون نه دا مطالبه کوله په همدې ورځ دپلان له مخې د محمد مرسي د مخالفینو له لورې د مازدیګر په ۵بجو مظاهرې پیلېدونکې وې یانې کوم وخت چې جنرل السیسی دمحمد مرسي د ادارې د ړنګولو اقدام کاوه او پّه دې اړه یې له اپوزیسیون نه غوښته کوله هغه وخت ولسي وګړي لاپیخې د محمد مرسي پر ضد راوتي نه وو ، ددې نه د مصر د فوج اصلیت ښه روښانه کېږي او دا یقین نور هم قوت مومي چې د مصر دسیکولر فوځ هر اقدام د بل چا په حکم وي ، او دفوځ مشرانو ته د مرستې په نوم د امریکا له لورې دور کړل شوو ملیاردونو ډالرو رشوت په بدل کې فوځ د خپل هېواد او ولس د ګټو لپاره نه بلکې د امریکا او د اسرائیلو د ګټو لپاره د خپل مسلمان ولس پر ضد د وحشت نه ډک اقدامونه کوي ؛ او د ولس مظاهره او مطالبه تشه پلمه ده ؛ که د ولس د مطالبې او مظاهرو خبره وي نو د مرسي پر ضد د زرنو مخالفینو د ۴ ورځنو مظاهرونه پس که د مرسي



اداري رنګول ضروري وونو د مرسي په پلوۍ کې چې مليونونه مصريان سر کونو ته راوتلی دي د ۴۴ ورځو مسلسلو مظاهرو نه پس ولی دولس دغوښتنې احترام ونه شو ؟ او نه يواځې دا چې د غوښتنې احترام يې ونه شو بلکې پر ضد يې د وحشت نه ډک هغه اقدام وشو چې نړۍ يې هکه پکه حيرانه کړه.

هو ! دفوځ له لورې پر محمدمرسي د کودتانه پس د رامنځته شوې موقتې اداري دسيکولر مشرانو په حکم په قاهره کې داګست د ۱۴ مې نېټې دفوځ ، پوليسو ، نيشنل ګارد او دحسنی مبارک دوخت د البلطجيه نومي ملېشو په لاس دمسلمانانو لوی قتل عام رامنځته شو چې پکې دناپيپلو رسنيو په وينا د دوه نيم نه تر ۳ زره يا ددې نه هم زيات مسلمانان شهيدان او تر ۱۵ زرو پورې ټپيان شويدي ، په ټپيانو کې داخوان المسلمون مهم مشر ډاکټر حسام ابوالنجاري هم شامل دی چې حالت يې داندېښنې وړ ښودل شويدی.

په قاهره کې داګست په ۱۴ مه نېټه دمسلمان ولس په بې رحمانه قتل عام داثابته شوه چې رښتياهم دمصر اوسنی رژيم ددې حقدار دی چې فرعوني رژيم وګڼل شي ؛ داېله خبره ده چې دې دولت ته په فرعوني دولت ويلو که دهر فرعون روح خبرېږي سخت به شرمنده وي.


هو! دچارشنبې په ورځ سهار وختي په ټانکونو کې سپرو فوځيانو دمسلمانانو په اعتراضي کمپونو خونړی يرغل وکړ اوله ځانونو سره راوستي بلډوزرونه يې پدې کمپونو وروخېجول ، دځمکني فوځ سره جنګي چورلکې هم ملې وې چې يې دحملې سره سم يې پر مسلمانانو لکه دبهرني خطرناک دښمن ډزې پيل او تر آخره جاري وساتلې ؛ دحملې نه لاوړاندې دشپې له مخې په پټه په زرونو فوځيان او دحسن مبارک ددور البلطجيه نومي بدنامه ملېشه دښار ټولو لوړو ودانيوو ته خېجول شوي ووچې همدوئ زياتره مسلمانان په سرونو ، ځتونو اودبدن په نورو پور تنو برخو ويشتلي اوشهيدان کړيدي ؛ ددې خلکو ګناه داوه چې دفوځ له لورې دلری شوي منتخب ولس مشر محمد مرسي بېر ته واک ته دراوستلو غوښتنه يې کوله ، ددې لپاره يې د تېرو ۴۴ ورځو راهيسې مظاهرې کولې اواعتراضي کمپونه يې جوړ کړي وو ؛ ډېر وحشتناک اوله حده زيات دردونکی منظرو ، په سکندريه ، پورټ سعيد ، النصر اوځينو نورو ښارونو کې هم فوځ په مسلمانانو خونړۍ حملې کړيوې چې پکې ګڼ شمېر مسلمانان شهيدان شوي خو په قاهره کې ېبخي ستره کربلا وه ؛

سر کونه ، لارې او کوڅې له شهيدانو ډکې وې اوله هرلورې د ټپيانو زګېروي پور ته کېدل ؛ ازادو رسنيو کې راغلي چې دقاهرې دټولې لويديځې برخې دځمکې نه دمېرمنو ژړاګانې اوچغې پور ته کېدې اوفضا يې دبارودو تورو لوخړو نيولې وه ؛ العربيه تلويزون وايلي و چې فوځ په العدويه ميدان کې د ۱۰ زرونه زياتې نصب شوې خېمې په منظمه توګه دفاسفورس بمونو او اورلګونکو ګوليو په واسطه سوځولې دي چې پکې تر ۵ زرو پورې مسلمانان سوځېدلي دي سوځېدلو تنانو کې زياتره

ټپيان دي خو ګڼ شمېر پکې مړه شوي هم دي چې له بده مرغه په مړو شويو کې ۳ سوه پاکې مېرمنې اومعصوم کوچنيان دي.

النهار تلويزون ګڼ شمېر هغه عکسونه نشر کړل چې پکې دژوندو انسانانونه داورلمبې راتاوې دي ؛ همدا راز دمصر د الوطن نومي اخبار ويب پاڼې پر اولې صفحې دهغه ويډيو کلپ نشر شوی چې پکې داور په لمبو کې دژوندو ګڼوانسانانو دسوځېدلو سخت دردونکي مناظر ښکارېږي

د اګست په ۱۴ مې نېټې چې دحملې اوله ورځ وه دشهيدانوشمېر له ۲ زره او ۵ سوه نه اوښتی و او ټپيان ۱۰ زرو ته رسېدلي وو ، دړومبۍ ورځې پدې حملې کې دشهيدانو اوټپيانو شمېره ځکه ډېره لوړه شوه چې په کمپونو کې ناست ټول خلک بې وسلې وو خوبر عکس حمله پرې ډېره درنده وه ، دفوځ ، پوليسو او البلطجيه ملېشو سره يوځای ټولې امنيتې اداري هم په حملې کې شريکې وې ؛ د کمپونو نه دوتلو ټولې لارې په ازغنو تارونو سختې بندی شوې وې اودهرې لارې په سر ګڼ شمېر فوځيان اوپوليس ولاړوو چې چاته يې دوتلو موکه نه ور کوله بلکې هر چا به چې دوتلو کوښښ کولو په ډېری بې دردۍ به يې په نښه کولو ؛ په شهيدانو کې داخوان المسلمين دمرشد عام دمرستيال ښاغلي خيرت الشاطر لور او زوم ډاکټر مصطفی حسن ، دنامتو جورنالست اوداخوان مهم غړي محمد البلتاجي لور اسماء البلتاجي ، داطلاعاتو او کلتور وزير احمد عبدالعزيز لور حبيبه ، ۳۰ جيد علماء اودقرآنکريم نامتو مفسر ډاکټر عبدالرحمن العويس هم شامل دي ؛ ډاکټر عبدالرحمن العويس دقاهرې پوهنتون کې دتفسير اوقرآني علومو پروفيسر اودزرونو علماءو استاذ و.



ددرد مقام وچې دټپيانو دپور ته کولو لپاره نه امبولانس و اونه هم دصحت عامې عمله .


هو ! داعتراضي کمپونو پـه ۲ ځـايونو النهضـه ډګـر اود العدويـه مسجدخوا شاميدان کې پر محصورو مېرمنو آفرين چې دګوليوو په روان باران کې يې له ځانونوسره په راوړوعادي وسايلو دټپيانو درملنه کوله ؛ اوچې کله معلومه شوه چې دټپيـانو شمېر لـه اټکلونو ډېر زيـات دی نود اخوان المسلمين مشرانو په عامومسلمانانو غږوکړچې دزخميـانو پور تـه کولو لپـاره دې دخپلوموټروسره لاړوکوڅوتـه راووځي ؛ ظالم فوځ عـام خلـک هـم دټپيـانو پور تـه کولو تـه نـه پرېښـودل اودخلکو تر مخـه يـې دهر شهيدپه پاک جسد تېل پاشل او اور يې وراچولو تر دې چې درابعه العدويـه دستر مسجددننه برخې تـه يـې هـم اور واچولو اودقرآنکـريم دزرونو نسخو سره يوځاي يې پکې ټول شهيدان اوسخت ټپيان وسوځول اوچې وحشي زړونه يې يخ نه شول نو تر روغتونونو ولاړل شهيدان يې ترې راوويستل ، ويې سوځول اوبيـايې چېر تـه نامعلوم لرې ځـای تـه انتقال کړل ؛ د الشروق پـه څېر دازادو رسنيو له لورې هم ددې خبرې تصديق شوی چې فوځيان په زور دټولوروغتونونو نه په مظاهروکې دوژل شويو تنانو جسدونه راوباسي اوچېر تـه پر نامعلوم لوري يې انتقالوي ؛ دروغتونونه دمړو دويستلو اوپر نامعلوم لوري يې دانتقالولو لړۍ تـر وروسـتـه ځلورو ورځـو پـورې دوام لرلـو داددې لپـاره چـې نـړۍ تـه دمړوشمېره کمه ښکاره کړي ځکه خو دولتي راديو اوتلويزون وايي چـې يـوازې ۷۵۰ تنـان دفـوځ اوپوليسوسره دټپرو ۵ ورځو پـه اخ وډب کـې وژل شـويدي ؛ دغاصبې اداري دې دروغـو تـه وګورئ ! لـه يوې خواشمېر دومره کم ښايي اولـه بلې خوادې قتل عـام تـه داخ وډب نـوم ور کـوي تر څوښـه پـه سـپين ستر ګی ستر ظلم هم وکړي اوځان بري هم کړي !؟



درانوعمليـاتو پـه جريـان کـې دنـړۍ لـه ستر ګودتر سـره کېدونکوسـترو وحشتونو دپټولو لپاره دمصر اداري دژورنالستانو پـه ور تللـو هـم بنـديز لګـولی دی ؛ يـوازې دالجزيـره ، الـوطن او الشـروق تلويزونونونمايندګانوخپل ځانونـه دمـر ګ خـولې تـه ور کړيـدي ، پـه مظاهره چيانو کې يې ځانونه پټ کړيدي او دهمدوئ لـه منځ نه خپلو تلويزونونو ته معلومات ور کوي ؛ که بهر نړۍ دمصر دحالاتو نه څه لږه ډېره خبرېږي نو دهمدوئ له لارې خبرېږي ، خودوئ وايي چې دولت يې دنيولو پـه هڅو کې دی اود فوځ اوپوليسوله لورې دومره زيـات اوښکې بهيونکی غاز کارول کېږي چې دمظاهره چيانوسره په يوې سيمې کې نور ددوئ اوعاموخلکولپاره اوسېدل ګرانېږي خودسيمې نه وتل هم دځان نه تېرېدنه ده ځکه چې دډګرنه يو وتونکی هم ژوندی نه پرېښوول کېږي اوفوځ يې خامخاولي؛ دالعدويه جومات پـه ميـدان کې محاصره شوی دالجزيره عکاس احمد ذکي وايي چې دميدان نه وتونکی هرفر دويشتل کېږي ، احمد وايي : زماتر مخه ۱۰ يا ۲۰ نه بلکې پـه سونوهغه تنان فوځ اوپوليسو وويشتل چې درابعه العدويه ميـدان نـه يې دوتلو هڅه کوله ، هغه زياته کړه چې دلته هرڅوک ونيول شي بل ځای ته نه وړل کېږي بلکې همدلته يې سمدستي فوځ اوپوليس دخلکوتر مخه وژني هغه وايي چـې داخـوان المسـلمين يـومهم مشـر ډاکټـر حسـام ابوالنجـار هـم زموږتر مخه فوځ لـه نيولو وروستـه وويشتلو چې اوس پـه روغتون کې دکوما حالت کې پروت دی .

داخوان المسلمين په ويب پاڼه کې راغلي چې دمسلمانو مظاهره چيـانو پر ضـد کارېـدونکی وسلې فـوځ تـه داسـرائيلوله لـورې ور کـړل شـويدي ددې خبـرې دثبــوت لپـــاره دوئ دپوليسو لـه لورې پـر لاريون کونکو دکارول شويو اسرائيلي ساخت اوښکی بهيـونکي غـاز ګولئ هم ښکاره کړې

په قاهرې اونورو ښـارونو کې چـې پـدې دومره وحشت اوبې درد ی دمسلمانانوقتل عام ته وکتل شي هيڅ سړی داتصور نه شي کولای چې دابه په يومسلمان هېواد کې ددولت له لورې په خپلـو هېوادوالـو تر سـره شـوی ظلـم وي بلکـې داسـې ښـکاري لکـه دچنګېزيانوله لورې چې پـدې هېواد ديوې سترې حملې پـه نتيجه کې



داستر قتل عام رامنځته شوی وي ځکه خو جامعة الازهر په يوې خپرې کړې اعلامې کې ددې فوځي عملياتوغندنه کړيده او ويلي يې دي چې د ازهر اداري دداسې خونړو عملياتو تصور هم نه کولو .

دالازهر مشر استاذ اوپه نړيواله سطحه مشهور ځېړونکي محمد عمار ويلي دي چې دعبوري دولت اوسني اقدام مصر دپخواني ديکتاتور حسنى مبارک ددور نه هم ډېر تاريک دور ته يوړو .

دلته داخبره هم ډېره مهمه ده چې داسې نده چې ګېنې داقتل عام له ارادې پرته ياله پروګرام خلاف رامنځته شويدي بلکې پروګرام اواراده له دې هم څوچنده زياته وه ؛ دحملې نه وړاندې دمصر دولتي ورځپاڼې الاهرام ليکلي ووچې دولتي لوړپوړو چارواکوپريکړه کړيده چې دمحمدمرسي په پلوۍ کې دراټولو شويوتنانو کمپونه به ديوې حملې په ترڅ کې له منځه وړي اودحملې په رومبۍ ورځ به ۲۵ زره اخوانيان وژل کېږي .

دحملې نه وړاندې دنومړې ورځپاڼې له لارې د دولت دې اخطار داوښووله چې دا قتل عام دپلان له مخې رامنځته شوی اوپلان ددومره سختې اوسترې حملې و چې بايد د ۲۵ زرونه زيات تنان پکې وژل شوي وای خودا دالله تعالی فضل وچې خبره لسګونوزروته ونه رسېدله .


او داسې هم نده چې ګېنې دمصر بې دينه حاکمان په خپلو اوسنو کړ وپښېمانه دي بلکې ښه پرې خوښ دي اوسره له دې چې کړه يې ټوله نړۍ ستر وحشت بولي ددې اداري دباندنيوچارو وزارت له لورې په خپرې شوې اعلامې کې راغلي دي چې : دقاهرې په ځنيځ کې درابعه العدويه جومات سره اوپه لويديځ کې دنهضه څلورلارې کې داعتراضي کمپونوپر ضد امنيتي قواوې مناسب اقدامات کوي اودولت يې د کړونه راضي دی .

دتر کې سره يوځای دبرتانې ، فرانسې اواسترالیا په غوښتنه دملګروملتونو دامنيت شورى بېړنۍ غونډه هم راوغوښتل شوه ، دامريکاولسمشر بارک اوباما هم ددې قتل عام غندنه کړيده اوددې مياشتې په آخر کې يې دمصر دفوځ ګډې پلان شوې فوځي مانورۍ هم ځنډولي دي ، ډنمارک هم دمصر سره روانې مرستې ودرولې دي خوهر څوک پوهېږي چې دادامريکا اونور لويديځ غولونکې هڅې دي اواصل دريځ يې هماغه دی کوم چې فوځ په عمل کې ښکاره کړ ؛ پدې دمکتب طفل هم پوهېږي چې که دمصر فوځ دامريکا دپټ ملاتړ نه برخمن نه وای هيڅکله به يې هم ديوجمهوري دولت دړنګولو اوددومره لوی قتل عام جرأت نه وای کړی .

نوامريکا اونوره لويديځه کفري نړۍ خوپه مصر کې هسې هم همدا حالت غوښتلو ، دهمدوئ دشوموپلانونو په نتيجه کې داهر څه رامنځته شول ، همدوئ دې هر وحشت ته فوځ هڅوي اوپه ملايې ټپوي ، خوافسوس پدې دی چې پدې دومره حساسو شېبو کې اسلامي نړۍ ولې بې تفاوته پاتې شوه ؟ په يوې دولتي ورځپاڼې کې په ښه ډېرى سپين ستر ګۍ دمصر ددولت له لورې دخپل ولس دقتل عام اعلان رامخې ته کېږي خواسلامي نړۍ يې دمخنيوي لپاره هيڅ اقدام نه کوي اوبيا دا اعلان يواځې اعلان نه و بلکې په ډېر وحشت سره عملي هم شو خو دتر کې په شمول دڅو هېوادونوله لورې درسمي غندنې پر ته بل هيڅ هم نه رامخې ته کېږي ؛ داڅومره دافسوس مقام دی چې په يواسلامي هېواد کې دننه دولس اودولت ترمنځ يوه کوچنۍ ستونزه ده خوټولی اسلامي نړۍ يې دحل لپاره هيڅ ونکړل اوبياد مسلمانانو د نماينده تنظيم ((او . آی . سي)) په حال خوسل کر ته افسوس چې دتل په څېرېې داځل هم پدې حساسوشېبو کې خپل مسئوليت اداتکړ اوپر مسلمانانو ددې دومره سخت حالت سره سره هم دې تنظيم دشرم نه ډکه روژه ماته نکړه .

دسعودي عربستان ددولت نه هم عام مسلمانان عموماً اودمصر مسلمانان په ځانګړې توګه پدې خبرې ډېر ګيلمن دي چې نه يواځې داچې دفوځ اونورو دولتي ادارولة لورې درامنځته شوي قتل عام مخنيوی يالړ ترلږه غندنه يې ونکړه بلکې برعکس يې داخوان المسلمين غړي تروريستان وګڼل او داګست په ۱۴ مې نېټې ترسره شوی عمليات يې تائيد کړل .

ديادولو وړ ده چې دحملې نه دوه ورځې وړاندې داوسنۍ ادارې دباندنيو چارو وزير نبيل فهمي اخطار ور کړی ووچې ,, دمحمدمرسي پلويان به داعتراضي کمپونو نه ډېر ژر پور ته کړ ای شي ؛ که ددوئ سره مذاکرات بريالي نه شول نودقانوني لارې به ددوئ نه داکمپونه خالي کړ ای شي،، نوملګري ملتونه ، دبشر دحقوقو په نوم فعالی نړيوالی ادارې ، امريکااونوره لويديځه نړۍ داپوښتنه ولې نه مطرح کوي چې دنړۍ هغه کوم قانون دی چې په خپل هېواد کې دننه دې پر دولتي ادارې داعتراض کولو په موخه په راټولوشويو هېوادوالو دحملې کولو



اودزرونو ترحده دوژلو اوټپي کولو اجازه ور کړي ؟ دنړۍ کوم قانون د ۳ سوه کوچنیانو اومېرمنو دژوندي سوځولو اجازه ور کوي ؟ دنړۍ کوم قانون وایې چې په روغتونونو اولارو کوڅو کې دې دبې ګناه وژل شویو انسانانو جسدونه وسوځول شي ؟


دلیبیاقبضه چې مطلوبه وه نوامریکا اودلویدیځ لوی شیطاني اتحاد ناټو خودقذافي ددولت په لاس دګوتو په شمېر دیوڅو تنانو په وژل کېدو دقذافي پر اداري یواځې انتقاد اوبندیز نه بلکې حمله کول هم اړین ګڼل خودلته چې ددوئ دلاسپوڅې اداري په لاس په یوې ورځ کې اسلام خوښي لسګونه زره بې ګناه انسانان ټپیان او وژل کېږي نودمنافقت نه ډکو دڅو غولونکو تورو پر ته دوئ نور هیڅ کول اړین نه بولي .

محمدمرسي ته بېر ته دواک سپارلولپاره چې دمصر غیر تمنو مسلمانانو کومه اوږده مبارزه وکړه اوپدې لار کې یې څومره قربانۍ وړاندې کړې په انساني تاریخ کې به څوک دکوم لومړي وزیر یا ولسمشر لپاره دوفادارۍ اوقربانۍ ور کولوداسې ساری وړاندی نکړای شي .

امریکا اونوره اسلام دښمنه لویدیځه نړۍ باید پدې ځانونه پوه کړي چې دمصر دمسلمانانو دابې ساري قرباني واک ته دیوشخص دراوستلولپاره نده بلکې دهغی رښا دراوستلو لپاره ده دکومې دمړه کولولپاره چې اسلام دښمنو غربیانو اوپه اسلامي نړۍ کې ددوئ لاسپوڅو واکمنو شپه او ورځ پر ځانونو یوه کړیده اوداقربانۍ دهغه فکر داحیاء لپاره دي دکوم فکر لپاره چې دتاریخ په اوږدو کې دمصر اودنړۍ مسلمانانو سترې قربانۍ ور کړیدي ؛ تاریخ ګواه دی مسلمانو شازلموتل ددې نور اوفکر مبارکه شجره په خپلو وینو تر وتازه ساتلی ؛ انساني تاریخ پدې هم ګواه دی چې دهرې سترې قربانۍ نه پس داړنامړه شوی نده بلکې وړانګې یې په ډېری تېزۍ لاپسې خپرې شویدي .

زموږ لپاره دمصر اوسنی حالت ډېر دتشویش وړ دی اوپدې ښه پوهېږو چې دفوځ په لاس داوسني قتل عام په رامنځته کولوداسلام اومسلمانانو دښمنان غواړي چې ډېر ژر مصرهم دشام په بر خلیک اخته کړي ؛ داوسنۍ سترې خونړۍ پېښې په رامنځته کولوبه دوئ خپل هدف ته په ورنېږدې کېدلو ځانونه کامیاب ګڼي خوموږ چې دنبوي مبارک عصرنه ترننه خپل تاریخ رامخی ته کړو نو راته دقربانۍ هره داسې پېښه په تور تاریک سمندر کې هغه روښانه جزیره ښکاري چې بالآخره ټول تاریک سمندر دخپلو وړانګو لاندې راولي ؛ موږیقین لرو چې په اوسنۍ پېښه کې دمسلمانانو دسترې قربانۍ په بر کت به دنړۍ اوخصوصاً دمصر مسلمانان خپل دین ته ډېر نېږدې شي ، ددین لپاره دقربانۍ اوجهادي فکر به یکې نور هم قوي شي اوداسلام ددښمنانو اودهغوئ دلاسپوڅوسره به یې په زړونو کې نفرت لاپسې قوي شي ؛ دقوت دسمندر داستر موجونه به نه یواځې داچې پر اسلامي نړۍ دلویدیځ له لورې مسلط شوي لاسپوڅي لاهو کړي بلکې داسلام ددښمنانو تر ساحله به هم ورور سېږي چې بیابه یې ددوئ لپاره مخنیوی ډېر ګران وي

نړۍ ولیدل چې په مظاهره چیانو کې ژوندي پاتې شوي مسلمانانو دسرونو ساتلو اوکورونو ته دتللو هڅې ونکړې بلکې دخور الوړ همت اوغیرت یې ښکاره کړ او دلاریون لپاره دبل ستر میدان په لټه کې شول د ۵ زرونه زیات داخوان المسلمین غړي چې مېرمنې هم پکې شاملې دي دقاهرې نه غرب لور ته ۲۰ کیلومتره لرې جیزه مسجدسره متصل دمصطفی محمود ډګر ته په رسېدلو وتوانېدل ، همدلته یې اعتراضي کمپونه جوړ کړل چې ور ته دراجمع کېدونکومسلمانانو په شمېر کې ورځ تر بلې ډېروالی راغلو ؛ څرنګه چې دحسني مبارک پر ضدپه روانو مظاهرو کې اخوان المسلمون د ۲۰۱۱م کال دجنورۍ په ۲۸ مه نېټه یوم الغضب لمانځلی وه همدارازیې داګست په ۱۴ مې نېټې دوژل شویومسلمانانو په یاد کې دیوې بلې یوم الغضب لمانځلوپرېکړه وکړه اودجمعې په ورځ ددې لپاره په ټول هېواد کې په ۲۸ سترولاریونونو ویستلو بریالي هم شول چې دااو داخوان المسلمین سره دنېږدې ۳۰ سیاسي ګوندونو نو اونورو تنظیمونویوځای کېدل په مصر کې داخوان المسلمین دمقبولیت زیاتېدلوډېر روښانه دلیل دی ځکه خوفوځي مشران اوعبوري ولسمشر سخت ور خطادي ؛ لویدیځ ته خورانېږدې شخص او دمحمد مرسي پر ضد دتمرد په نوم دپیل شویو مظاهرو مخکښ محمد البرادعي چې په عبوري اداري کې دولسمشر مرستیال له خپلې دندې یې استعفی ور کړیده او دالیوم السابع په نوم دمصري اخبارپه وینا اوس دفوځ مشر اوعبوري ولسمشر غواړي چې په عبوري اداري کې دمرسي داداري هغه وزیران شامل کړي دکوموتړاو چې داخوان المسلمین سره دی ، ددې هدف لپاره دسوداګرواوپه بهرنۍ



نړۍ کې دهغه اشخاصو سره هم اړیکې ټینګې شویدي کوم چې داخون المسلمین سره روابط لري ، دمصریومشهور سوداګر نجیب ساوبرس وایې چې ماته عبوري ادارې داخوان المسلمین سره دخبرواتروخواست کړیدی اوراته یې ویلي دي چې پخوانو درې وزیرانو هریو باسم عوده ، یحی حامد اوعمرو دراج ته وزارتونو ور کولو ته عبوري اداره چمتو ده ؛ دوئ درې واړه داخون المسلمین دمنتخب صدراعظم هشام قندیل په کابینه کې دصادراتو ، پانګونې اودبین المللي مرستو وزیران وو ، دوئ دهشام قندیل اداره کې له خورا پوهو وزیرانو څخه ګڼل کېدل او تراوسه پورې عبوري ادارې هم په درغلۍ ندي تورن کړي .

خوداخوان المسلمین ویاند طارق المرسي ویلي دي چې فوځي کودتا په نتیجه کې دمسلطوشوو حاکمانو سره به خبرې ونکړو اونه به هم ددوئ په لاس جوړې شوې ادارې کې شامل شو .

همداراز داخوان المسلمین یوبل مشر عریان وایې چې فوځ دبغاوت له امله داخوان المسلمین دیو کال ټوله خواري د خاورو سره خاورې کړیده ؛ دفوځي بغاوت شاته چې کوم شوم پلانونه دي ولس ته معلوم شویدي ، دولس حمایت زموږسره دی اوموږبه هیڅکله هم دسازش ښکارنه شو .

دالجزیره تلویزون وایې چې داخوان المسلمین په مقبولیت کې مسلسل ډېروالی راغلی دی ؛ دمحمد مرسي په حمایت کې د ۳۰ سیاسي ګوندونو اومدني ټولنو اتحاد تشکیل شویدی چې دمحمدمرسي په حمایت کې سر کونو ته د ملیونونومصریانو په راویستلو کار کوي اوډېر ژر به پرې وتوانېږي ؛ همدې حالت دفوځ اوعبوري ادارې ترڅنګ امریکا هم په تشویش کې اچولې نوځکه یې دولت ته اخطار ورکړی چې په دولت کې داخوان المسلمین دنه شمولیت په صورت کې به حالات نورهم خراب شي .

که امریکا ، نورلویدیځ اودملګرو ملتونو اداره ربښتیاهم دمصر دحالاتو سمون غواړي نوغوره لاریې داده چې دمصر فوځي مشران دې په خپلو کړو اودلویدیځ مشران دې دفوځ دظلم په نا اعلان شوي حمایت دمصري ولس نه ببښنه وغواړي اومحمد مرسي ته ژر ترژره په واک سپارلو دې مصري ولس اونړۍ ته دنورواحتمالي رسېدونکو تاوانونو مخه ونیسي

ایمان زن مسلمان سبب مسلمان شدن داکتر آمریکایی شد

زایمان یک زن عرب مسلمان که در یکی از شفاخانه های آمریکا صورت گرفت سبب پذیرش اسلام از سوی خانم داکتر مسئول زایمان شد.


براساس گزارش روزنامه "الانباء" : هنگامی که این خانم دکتر به نصیحت این زن مسلمان پرداخته، از جمله توصیه می کند که تا ۴۰ روز اول زایمان از همبستری با همسرش خود داری کند، چون این عمل بسیار خطرناک بوده و به التهاب رحم می انجامد؛ و این زن مسلمان در جواب او می گوید : براساس دین اسلام این را بسیار خوب می داند، باعث تعجب شدید خانم دکتر می شود.

و روزنامه بیان می کند که : این باعث حیرت و سردرگمی خانم دکتر گشته، که دانشمندان بعد از تجارب بسیار که سال ها به طول انجامیده به این کشف دست یافته در حالی که اسلام صدها سال پیش این موضوع را مطرح نموده است!

همچنین روزنامه اشاره می کند این خانم دکتر، به دنبال آن که به پدر طفل توصیه می کند که برای تنظیم ضربان قلب طفل ، او را به طرف راست بخوابانند و او در جواب گفته : این را بر اساس سنت شریف نبوی می داند؛ از بیان این مطالب در دین اسلام که علم نوین در سال های اخیر به آن دست یافته ، بیشتر و بیشتر شگفت‌زده شده، به تحقیق درباره اسلام می پردازد و مسلمان می شود.

این روزنامه می افزاید : این خانم دکتر برای یک ماه درخواست مرخصی نموده، به شهر مجاور که دارای مرکز اسلامی بوده رفته، و در آنجا به کمک علما و دعوتگران مسلمان به تحقیق درباره اسلام پرداخته، و با جمعی از مسلمانان عرب و آمریکایی در این شهر دیدار نموده که در آخر با پذیرش اسلام ، مسلمان می شود.

منبع : به نقل از مفکرة الاسلام





راټولوونکی : ع ، حکمت

دسلحشور یاد

ای تـازه جـوان رهـرو دیـن بـاز بپـا خیـز
توفنـده وکوبنـده وباشـور ونـوا خیـز
دشمن شـکن وفـاتح و سـرباز خـدا خیـز
سـنګر هـوس وعاشـق آزادي مـا خیـز
از بهـر خـدا بهـر خـدا بهـر خـدا خیز
از بهر خدا خیز

دا شعر مې دفارسي ادب لـه کوم زاړه دیوان نـه دی را اقتباس کړی ، او نه هم دکوم دودیز افغان ، ایراني یا هندي فارسي شاعر دهنر بیلګه ده ، دا شعر که څه هم پیغام ، آهنګ ، درد او شور په کې داقبال لاهوري دشاعرۍ پروت دی ، او دهماغـه سـتر شـاعر دې شعر تـه پاتـه کیږي چې وایـي (ازخواب ګران خیز) مګر دا داقبال شعرهم نه دی...

دا غریبونیـولي او توپـاني کلمـات ، زمـوږ دهغـه نومـورکي ، مجاهد او غـازي شـاعر د زړه چیغـه ده چې اوس زموږ په منځ کې نشته ، دتاریخي هرات ... دجامي او خواجه انصاري د ټاټوبي... نومـورکی شـاعر سمیع الله سلحشـور یـادوم ، چې دهمدې تبـر کـوچني اختـر پـه مبارکـه شپه یې (۱/۱۰/۱۴۳۴ هـ ق) دشهادت په ګلګونه غیږ کې ، ټوپک لـه اوږې او قلم له ګوتو ولوېد .


(انا لله وانا الیه راجعون)

نور هغه شاعر زموږ په منځ کې نشته چې ویل به یې :

برخیـز کـه هنګـام جهـاد اسـت وشـهادت
هنګـام بـه پـا خاسـتن و آزادي امـت
ای مـرد خـدا دور شـو از آتـش غفلـت
ای چـاره ګـر درد مـن از بهـر دوا خیـز
برخیـز کـه نـاتو و سـپاهش شـده لـرزان
واشـنګتن و لنـدن ازیـن حملـه پشـیمان
ایـن حاصـل بـازوی تـو اسـت ای شـه دوران
چـون شـیر ژیـان سـربکف و دل بـه صـفا خیـز

****

دا د ۱۳۸۸ هـ ش کال دحوت یوه بـاراني ورځ وه ، اتفاقـا دهرات دمجاهدینو په یوه میشت ځای میلمه شوم ، څو تنه مجاهدین چې په پښتو او فارسي یې خبرې کولې په دغه میشت ځای کې راټول وو ، ددوی په منځ کې یو تـن دمنځني قـد ۳۰ کلـن ځـوان هـم وو ، چې ږیـره یـې کونډۍ کـړې وه ، څرنګه چې موږ خورا ظـاهر بین یو ، او ډیری پریکـړې مو دمغـز پـه ځـای پـه پوسـت او ظـاهر بنـاء وي ، نـو ځکـه راتـه د مجاهدینو پـه منـځ کې دغـه شـاوخوا ۳۰ ځـوان چې ظـاهري جوړښت یې له نورو مجاهدینو بېل وو هسې کوم نامطلوب



ځوک وایسېد ، خو ډېر زر پوه شوم ، چې دهراتي مجاهدینو په منځ کې دغه زلمی کوم عادي ځوک نه دی.

ملګرو رامعرفي کړ ، چې دغه ځوان سمیع الله سلحشور نومېږي ، چې ملګري يې ورته شیخ وايي ، دهرات پوهنتون دادبیاتو له فاکولتې فارغ شوی دی او اوس د هرات په ختیځو ولسوالیو ګذره ، پشتون زرغون ، انجیل او نورو سیمو کې دتکړه مجاهد شهید غلام یحیی اکبري دجبهې او مجاهدینو سرپرستي په غاړه لري ، نوموړی نه یوازې دسنګر تکړه مجاهد دی ، بلکې ښه قلموال ، مضمون نګار او شاعر هم دی ، په هرات کې په خپلو ناڅیزو امکاناتو دهمسنګران په نوم یوه مهالنۍ مجله چاپوي ، چې تراوسه يې ۱۲ ګڼې چاپ شوي دي.

په همدې مجلس کې سره شناخته شوو او نوموړي زه هم وپیژندلم چې داسلامي امارت په فرهنګي کمیسیون کې خدمت کوم ، له همدې ځایه مو دادبي ، شاعرانه او جهادي مزاج دمشارکت له امله صمیمي دوستي پیل شوه ، نوموړي چې په جهادي ډګر کې دمطبوعاتي او فرهنګي خدمت په اهمیت او مؤثریت پوهیده کله مې چې ورته دفرهنګي کمیسیون روان فرهنګي خدمات تشریح کړل ، نوډېر خوشاله شو ، او په داسې تلوسه يې پوښتنې کولې لکه کومه ورکه يې چې موندلې وي ، وروسته يې راته وویل چې دهرات ولایت خلک دنورافغانستان له خلکو یوجلا مزاج لري ، چې هغه ددوی فرهنګي مزاج او له ادب ، کلتور او مطبوعاتو سره علاقه ده ، ددې لپاره چې موږ په جهادي مطبوعاتو ددوی تنده خړوبه کړې وي ما دهمسنګران په نوم یوه مهالنۍ مجله پیل کړې چې په خپلو شخصي هڅو يې لومړی په کمپیوتر لیکم او بیا يې دپرینټر په واسطه چاپوم او دهرات په ښار او شاوخوا کې يې په مینه والو ویشم .

له نوموړي سره دهمسنګران مجلې ټولې ګڼې په کمپیوتر کې پرتې وې ، چې وروسته مو په ګډه وکتلې ، په خورا ادبي فارسي خورا معیاري مقالې ، اشعار او مطالب په کې چاپ شوي وو.


سره له دې چې زه ددوی ځای ته دشپې په نیت نه وم ورغلی خو دسمیع الله سلحشور مجلس دومره خوږ وو ، چې بالاخره مې دمجلس داوږدیدو له امله دهراتیانو په مرکز کې شپه شوه ،نوموړي له فرهنګي او مطبوعاتي جهاد سره خورا مینه لرله او ما هم چې دده استعداد او لیکنو ته کتل نو له ځان سره مې ویل چې کاشکې دغلام یحیی اکبري ځای کوم بل مجاهد ډک کړی وای ، ځکه دغه ځوان واقعا د ټوپک له ډګر څخه دقلم په ډګر کې اسلام ته ډېر خدمت کولای شي.

دشپې نرۍ نرۍ باران اوریده ، زیاتره مجاهدین ویده شول ، خو زما او سلحشور مجلس لانه وشلیدلی ، نوموړي خپل لیپ ټاپ کمپیوتر خلاص کړی وو ، او خپلې لیکنې او اشعار يې راته ښودل ، په بیلابیلو ادبي ، کلتوري او فکري موضوعاتو وغږیدو ، په خبرو خبرو کې رامعلومه شوه چې نوموړی پراخه مطالعه لري ، دپوهنتون له ارام ماحول څخه هسې تصادفي دجهادي سخت ژوند ډګر ته نه دی راغلی ، بلکې نوموړی دامت له مسائلو ژور درک لري ، داسلام او مسلمانانو له درد څخه خبر دی ، او په دې پوهیږي چې مسلمانانو ته له دې بحراني حالاتو دوتلو یوازینۍ لار في سبیل الله جهاد دی ، نوموړي شعوري او دسالم فکر په وسله سمبال مجاهد وو ، داقبال لاهوري له شاعرۍ او فلسفې سره يې ژوره مینه درلوده ، بیا بیا يې دنوموړي بیتونه ویل ، او ویل يې چې نوموړي دامت ستونزې ډېرې ښې درک کړي او تشریح کړي دي.

اوس چې داکرښې لیکم ، نو دشهید سلحشور دهماغه مجلس اود خبرو خوږلت احساسوم ، رښتیا هم هغه یوه بیساري شپه وه ، چې دوو شاعرانو ، دوو مجاهدینو او دوو همسنګره ملګرو دخپل علاقې وړ موضوعاتو په اړه سره زړونه تشول او دیوه بل درد او ارمان يې حس کاوو .

شاعر خو وايي چې:

داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کې راځي خو له رقیب سره راځي



خو زه وایم چې داسې بله شپه به بیا رانشي ، ځکه سلحشور نور زموږ په منځ کې نشته ، هغه دابدیت په سفر تللی او موږ ته یې یوازې یادونه پاته دي.

****

د ۲۰۱۳ میلادي کال داګست دمیاشتې نولسم مازدیګر دی ، دیوه خړ کور زنګ وهلې دوازه مې وټکوله ، یو ماشومه نجلۍ چې له څیرې یې معصومیت او دهجرت مظلومیت بادېده راووتله ، پوښتنه مې ترې وکړه : دشیخ سمیع الله کور همدا دی ؟ ماشومې غږ ونه کړ او همداسې پټه خوله بیرته لاړه لږوروسته یو ځوانکی راووت ، څیره یې غمځپلې وه او شونډو یې پترې نیولې وو ، دشیخ سمیع الله دکور پوښتنه مې ترې وکړه ، ده روغبړ راسره وکړ او په ګوډه ماته پښتو یې راته وویل چې زه یې ورور یم.

نوموړي دکور دروازه خلاصه کړه او میلمه ځای ته ننوتو ، که رښتیا ووایم ، زه همیشه دهرکله په پرتله هغه وخت ډیر متاثر شوی او غربو نیولی یم ، کله چې دکوم تازه دم شهید فاتحې ته ورغلی یم ، او دشهید په یتیمانو ، پلار او تش پاته کور مې سترګې لګیدلي وي.

له قرأت وروسته مو دشهید سلحشور روح ته د دعاء لاسونه لپه کړل ، او وروسته مو دشهید سلحشور دژوند او فن بیلابیل یادونه راوسپړل ، ورور یې وویل چې سلحشور دشهادت په مهال شاوخوا **۳۵** کلن وو ، خو واده یې ځکه نه وو کړی چې دجهاد او شهادت شوق په مخه کړی وو ، نوموړي خپل ډیر عمر په سنګر کې تیراوو.

وروسته نوموړي دشهید سلحشور ځینې لیکنې او اشعار راوښودل ، ده ویل چې سلحشور اوس هم له خپلو فرهنګي هڅو لاس نه وو اخیستی او دخپلې سیمې په په سطحه یې د (تفنګ) په نامه یوه محلي مهالنۍ مجله چاپوله ، چې ډیرې ګڼې یې چاپ شوي وي.

له ده څخه مې دسلحشور دلنډ ژوند لیک غوښتنه وکړه نوموړي خپل شهید ورور داسې راوپیژاند.

غلام سخي چې وروسته په شیخ سمیع الله سلحشور باندې مشهور شو ، پنځه دیرش کاله وړاندې دهرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ په قریه یوسف خان کې زیږیدلی دپلار نوم یې غلام رسول دی.


نوموړي لیسه پای ته رسولې او بیا دهرات پوهنتون دژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې داخل شوی دی ، دامریکایي یرغل په لومړنیو کلونو کې چې نوموړی په هرات پوهنتون کې وو نو د رخصتیو په شپو کې به له خپله ملګرو سره په پټه کونړ ولایت ته تلو او هلته یې دامریکایانو او دهغوی دمزدورانو په خلاف جهاد کاوو ، دغه راز دپوهنتون دننه یې هم د جهادي فکر او دیرغلګرو سره دمقابلې دعوت همیشه جاري ساته ، او خپل ډیر ملګري یې جهاد ته اماده کړي او د غربي وارداتي افکارو له اغیز څخه ساتلي وو.

کله چې نوموړی له پوهنځي فارغ شو ، دغه مهال دهرات په ګذره ولسوالۍ کې دپخواني جهاد یوه قومندان غلام یحیی اکبري دامریکایانو په خلاف دجهاد اعلان وکړ ، چې سلحشور هم ورسره ملګری شو ، نوموړی دقومندان اکبري دمرستیال په حیث دنده شروع کړه او په دې سیمه کې یې وسلوال او مطبوعاتي جهاد خدمت پیل کړ.

نوموړی ډیره موده په همدې سیمه کې په جهاد بوخت وو او کله چې غلام یحیی اکبري شهید شو ، نو دسیمې په خلکو کې د ډیر نفوذ او ملاتړ له امله نوموړی دهغه په ځای وټاکل شو.

نوموړي له وسلوال جهادي ژوند سره سره همیشه قلمي او فرهنګي جهاد هم جاري ساته او په فارسي شعر او نثر لیکلو کې د ستر استعداد په برکت یې په زړه پورې جهادي اشعار او لیکنې ترمینه والو رسولې.

نوموړي په فارسي شاعرۍ کې لوی لاس درلود ، دغه راز دادبي نثر ، سیاسي او علمي تحلیل په لیکلو کې هم خورا تکړه وو ، چې له شهادت وروسته سلګونه مقالې او اشعار ترې پاته دي.



د شهید سلحشور ځیني اشعار په ځرک ، شهامت او مورچل مجلو کې هم چاپ شوي دي دغه راز يې يو شمير اشعار دتکړه ترانه ویونکي ملا فقیرمحمد درویش لخوا په مترنم ډول هم ویل شوي دي لکه مثلا دا شعر.

باز به سنگر بیا باز به فکر نوین
برسر دشمن بریز آفت روی زمین

او یاداچې وایي:
آمدم تا ظلم و استبداد ظالم بشکنم
فرق خونخواران دهر و جور حاکم بشکنم

او داسې نورګڼ اشعار.

سمیع الله سلحشور په مختلفو موضوعاتو شعرونه لیکل دلته به دنوموړي هغه شعر ولولو چې په دې وروستیو کې یې دامریکایي یرغل دنوې فتنې اربکیانو او اجیرو ملیشو په اړه لیکلی وو.

اربکی

اربکی جان سر برای دشمن دین داده است
سر برای دالر و عشق شیاطین داده است

دین و ایمان را به دالر کرده سودا همچنان
ننگ و غیرت را به چنگال قوانین داده است

ناموس و وجدان و همت از ضمیرش رفته دور
اختیارش را بدست کفر وبي دین داده است

چرس و بنگ و خمر وافیونش مهیا گشته است
دین وعفت را بدشمن باز و چندین داده است

تا نفس در تن بود از بي دینان دارد دفاع
چون برایش کفر سلاح وپول شیرین داده است

پاسداری و حراست میکند از دشمنان
چون به دشمن باور وایمان پیشین داده است

تا عروس فتنه و الحاد ازخود کرده است
ای بسا خون جوانانش که کابین داده است

امریکا گم گشته خویش راکنون با اشتیاق
کرده پیدا و برایش تاج زرین داده است

اربکی ها این نمیدانند که رب ذوالجلال
لشکر اسلام را وعده به تمکین داده است

گر بتاریخ بنگرند حق لشکر اسلام را
فتح پیروزی همیش اندر میادین داده است

عنقریب است ای سلحشور اربکی هارا مدام
ازخجالت بینی هرجا سربه پائین داده است

قطعه

به قبرستان گذر کردم کم وبیش
بدیدم قبر دولتمند و درویش

نه درویش بی کفن در خاک رفته
نه دولتمند برده یک کفن بیش

خبیر احمد





امریکایانو چې نور له افغانستان څخه د تیښتې په حال کې دي او خپله د امریکایي قواوو د وینډوي خبره ده چې د څو تیرو میاشتو راهیسې یې ۹۰ سلنه اډې تخلیه کړې یانې له ۸۰۰ اډو څخه یې ۷۰۰ ویجاړې او له منځه وړې، د دې ترڅنګ امریکایي وینډوي دا خبره ډیره په غرور تیره اونۍ په کابل کې وکړه چې افغان ملي اردو اوس هغې کچې ته رسیدلې چې د طالبانو مخه ډب کړي او مخامخ جګړه ورسره وکړي، هغه زیاته کړه چې په افغانستان کې یې پاتې ۱۰۰ اډې چې تر اوسه د دوی په اختیار کې دي، هغه ډیرې مستحکمې دي او طالبان نشي کولای چې هغو ته ګواښ او ستونزه پیښه کړي.

خو د غزني او کاپیسا په ولایتونو کې د مجاهدینو وروستیو ستر او له هیبت ډکو عملیاتو په اثبات ورسوله چې نه د امریکایانو مستحکمې او پولادي پوځي اډې د مجاهدینو د عملیاتو او جهادي تکتیکونو په مخ کې خنډ جوړیدای شي او نه هم د دوی ملي او ګوډاګي اردو دا توان او جرأت لري چې د مجاهدینو مخ ته تم او یا له خپلو مهمو تاسیساتو او مراکزو څخه دفاع وکړي.

د کاپیسا او غزني په ولایتونو کې په داسې حساسو پوځي مراکزو لوی بریدونه ترسره شول چې د امریکا، ناټو او د کابل د شریدلي اداري زړونه یې په ټکانو او درزا را وستل چې څنګه لسو او یا شلو تنو اتلو مجاهدینو وکړای شول چې له ټولو خنډونو، پاټکونو او د پلټنو له سلګونو امنیتي پوستو له ټنو بارودو ډکې لارۍ او واړه موټر را تیر او د هدف جای ته ځان ورسوي، چې د دغو ټولو بریاوو علت الهي نصرت، د ولس له همکارۍ او د اسلام د لارې د سرښندونکو اتلانو اخلاص او سپیڅلې جذبې ده او که څوک له دې علاوه نور اټکلونه او لاملونه ګوري فکر کوو چې په غلطه او واهیاتو روان دي!!

تاسې وګورئ د غزني ولایت په مرکز کې د (پي آر ټي) دفتر چې امریکایانو ټول غزني ولایت او ولسوالۍ له همدې ځایه اداره کولې د روانې میاشتې (اګست په ۲۸) نیټه ۱۳ تنو فدایي مجاهدینو د ۲ چاودیدونکو لاریو له انفجار وروسته چې دا ستبکار پولادي ودانۍ او حساس مرکز ونه یې په بل مخ واړول په هغو سربیره اتلانو ۸ ساعته مسلسله جګړه وکړه، د کره معلوماتو او د فدایي مجاهدینو د تلفوني راپورونو په اساس امریکایي عسکر او د هغو ګوډاګیان چې څه د نسکورو شوو ودانیو لاندې مړه او یا سخت ټوېل شوي وو څه یې چې پاتې وو او د فیرکولو جرأت یې له لاسه ورکړی وو په هغو باندې فدایانو په ډیره ارامۍ مرمۍ وچلولې او د دوزخ کندې ته یې ور ولیږل

د فدایي غازیانو د توضیحاتو په اساس په لومړي سر کې د دوو لارۍ موټرو په وسیله چې دواړه له منفجره موادو ونه ډکې وې پیل شول، یوه موټر د پي آر ټي نظام قراول او امنیتي پوستې او خوب خونې له منځه یوړې او دوهم موټر د پي

آرټي څنګ ته د داخلي مزدورو عسکرو دقرارګاه نظام قراول په نښه کړ، وروسته ۹ تنه فدایي مجاهدین وتوانیدل چې درېي ارټي انګړ ته ننوځي او داستخباراتي معلوماتو دفتر، د توپچي برخه، دولاړو څرخکوتم ځای یو وسلتون او ډیپو او نور تأسیسات تر کلکو او ویجاړونکو ګوزارونو لاندې ونیسي، دبرید له پیل نه لږ وروسته ۲ بهرنی هلیکوپترې هم په یې آرټي کې کیښناستي چې سم لاسي دګوزار لاندې ونیول شوي او له سپرلی سره له منځه لاړي، دبریدونو په لړ کې دښمن دسر او مال درانه زیانونه ولیدل، چې په دقیق ډول ۱۰۹ بهرني اوکورني غلیمان قتل ګڼ ټپیان، ۲هلیکوپترې، ۶ټانکونه او ۲۰موټرویجاړ کړای شول

دغه راز داګست میاشتي په ۲۶ نیټه دکاپیساولایت دتګاب ولسوالی په جالوخیل سیمه کې ددښمن په لویه قرارګاه دفدایي بریدله امله ۸۰ تنه عسکروژل ووژل شول دعیني شاهدانوپه وینادبریدله امله دقرارګاه په ودانی کې دعسکروتقریباټول هستوګنځایونه اوولاړوسایط په بشپړه توګه ویجاړشول

دکره معلوماتو له مخې دتګاب دملي اردودغه مرکز چې په کلکو حصارونو اودیوالونوکې راښنداورانغاړلی وو اوله شاوخوایې شدیده څارنه کیده اونیږدې ۲۰ سوه تنه عسکریکې میشت وو؛ خوچې کله داخلاص اودیانت په جذبه اوجامه پوښل شوي یوه تن فدایی اتل وغوښتل چې داسلام اوهیواد دغلیمانو دغه مهم مرکز په بل مخ واړوي، الله تعالی خپل نصرت ورسره شامل حال کړاودخپل سرپه نذرانه یې دصلیب ګوډاګیانوته داسې تاریخي درس ورکړ، چې ګرانه ده په تګاب اوټوله کاپیساکې تردیره وخته اجیره اردوهغه دچاخبره للکی وښوروي

دغزنـي اوکاپیسا لـه دغـو معرکـو وروسته مونږ لـه امریکایانو اودکابل اداري له شرمیدلو چارواکو اوپه اصطلاح دملي دفاع وزرات له کاغذي جنرالانو پوښتوچې څه شوي ستاسي هغه مستحکمې اوځواکمني اډې اوڅه شو ستاسي دملي اردوچمتوالی اواحضارات ؟

دابلمه اوبهانه خومونه په غزنـي اونه هم په کاپیساکې جوړیدای چې ګواکې دغه ولایتونه دګاونـډي هیوادپه پوله پراته دی اوطالبان له ګاونـډي هیوادڅخه په زیات مقدارکې راغلـي وو اوپلان یې هم هلته ترتیب کړی وو؛ ځکه هرڅوک پوهیږي چې کاپیسااوغزنـي چیرته موقعیت لري.

اوس نوصرف دایوه تبلیغاتي اوپوچه هڅه په مخ کې لری اوهغه هم اجیرې میډیادکابل اداري له وینډویانوویاندې هغواستعمال کړه چې دغزنـي اوکاپیساپه وروستیوعملیاتوکې ملکـي وګړوته زیاته مرګ ژوبله اوښتي !!

خوعام ذهنیت اوبادرکه افغانان پوهیږی چې دغزنـي د(پـي آر ټـي) په مرکز اویادکاپیسا دملـي اردوپه اډه کـې ملکي وګړوڅه کول اوهلته کوم ښارګوټی ووچې ملکي خلکو هلته کلي اوبانډې پکې لرلي اویایې پلاټونه پکې اخیستي وو اودبریدپه مهال دې هغوی ته مرګ ژوبله اوښتي وي !!

ایا امریکایان به په اربکیو کوم کنهوډ ک کړ ای شي !!!؟

عبید تنویر

دامریکایانو نورپه دې خبره سرخلاص شوی اودې پایلې ته رسیدلي چې نور افغانستان ددوی دهضم او تمرین ځمکه اوهیواد نده ، ځکه دتیرو ۱۳ کلونوپه مهال یې نه داچې طالبان اومجاهدین مات کړای شول اودافغانستان په کومه لویشت ځمکه کې یې دهغودبریدونواو ګوابنونوله بیم نه ارام شپه سباکړه ، خبره دې ځای ته ورسیده چې عام ولس په داورستیو څو کلونو کې په یومخیزډول دطالبانولور ته مخه کړه اوله هغوسره اوږه پر اوږه ودریدل .

امریکایان اودکابل رژیم ګوډاګیان یې پوه دي چې ددوی په وړاندې دطالب له لیکي اوصف څخه تنهادمدرسي اوجومات طالب اومجاهدنه جنګیږي ، بلکې دهغوپوهنتونوپه زرګونه محصلین ا ودلیسوځلمي شاګردان چې لدوی سره رسمیت لري دجهاداوقرباني په میدان کې ولاړاوپه دوی سخت اوله تکتیکونوډک بریدونه سرته رسوي ، نورعام مسلمانان اودمختلفو طبقواواقشاروسره تعلق درلودونکي افغانان خوپه ځای پریږده چې هرڅه یې دجهادپه نیت وقف اوله هیڅ فداکاری اوسرښندنې مخ نه اړوي .

داسې لسګونه حکایتونه مجاهدینوراته کړی چې زمونږ مجاهدوخویندواومیندودلاس ګوتي ، دغاړي امیلونه اونقدي پیسي له خپلو وسي سره سم مجاهدینوته رالیږلي اوورته ویلي یې چې یایې دکوم بندی دراخلاصون په لاروچاروکې ولګوی اویایې هم دامریکایي عسکروکتارونوته دماین په ایښودولوکې مصرف کړي چې ډیرامریکایان ووژل شي اوالله تعالی هغه هم په جهادکې سهیمي وګرځوي اوجنت یې نصیب شي !!؟

له مجاهدینوسره دملت همدغې بې مثاله همکاری اواخلاص امریکایان اوګوډاګیان په جنون راوستل اونورې ټولي لاري اوحربې پرې وټنګیدي ، نوبالاخره یې ترټولوسولیدلی اوپرسوده نیرنګ چې هغه داربکیانوجوړول دي لاس واچاو، ترڅوهغه مخلص اومجاهدافغانان وټکوي اووي کړوي چې له طالبانوسره یونوعه همکاري لري ، شپې ، ډوډۍ اواوبه ورکوي .

که مونږ اوتاسي په خپلو کلیواوبانډوکې وګورو، اربکیان دمجاهدینومقابلې ته چې هسې ورسره مخامخ نشي اودتیښتې لاري پرې ونه دریږي نه راوړاندي کیږي ، بلکې دامجاهدین دي چې شپه



ورځ په اربکیانوپسي ګرځي اوداربکي دتخم دور کولپاره هره هڅه اوهسکه لټوي ،ولې اوداربکیانو مهم کمپاین اودبادارانوله لوري ورسپارل شوی رزالت دادی چې څنګه عام ولس وځوروي ، شتمنی یې لوټ کړي او کورپه کوراوکلي په کلي اړودوړاونفرت رامنځته کړي .

څوورځي وړاندې غالباداګست دمیاشتي په ۲۰ نیټه دغورولایت ددولینه په ولسوالي کې دامریکایی دیمکراسۍ ! خاص اوفرمانبرداره پوځ (اربکیانو) بسته لوی کلي اول وکوچول اوبیایې له یوې مخې چوراوتالان پرې ګډ کړ ، ۶۰۰سوداني پسونه ، ۷۰۰غوایی او۱۵۰ موټرسایکلونه یې له ځانوسره یووړل .

یعني پورته وحشت اوچپاول یې مشت نمونه خروارد ی ، نورانفرادي مظالم اوتیري خوپرځای پریږدي چې لاروته راووځي اوله خلکوجیبونه تشوي ، مبایلونه ترې اخلي ، دلاسو ګړۍ ترې لوټوي اوان دلاس غوټي اوکورسوداوي ترې په بډه وهي !!

نواوس موږ امریکایانو اوګوډاګیانوته یې وایوچې ددغسي حرفوي غلو اوشوکمارواودټولني ترټولوذلیل ترینوافرادوپه استخدام به تاسي کوم کنډوراټینګ اوډک کړای شي ؟اوپه مقابل کې به افغان باغروره ولس له خپل عزم اوهوډڅخه ورسته اووګرځوي ؟چې هیڅکله نه !!.


دابه ومنوچې تاسي دجمهوریت اودیمکراسۍ ددغه ورستي سوغات (اربکیانو) په وسیله به یوڅه باعزته اودرانه افغانان وځورول شي اوشتمنی به یې چور کړي ، ژوندي انسانان به درنجروپه توسط یوې اوبلې خواته کش او اویابه هم مړه جسدونه په ټانګونوپوري وتړي ؛ خوتاسي امریکایان بایدپوه شي چې افغانان دغووحشتونو ته هیڅکله دخپل ایمان اوغیرت وسله په ځمکه نه ږدي ، بلکې نورورسره حساسیت بنیی اوڅوچنده زیاته یې مقابلې ته رادانګي .

افغانانودګلم جمانو ، په سرونو دمیخ ټکوهونکو، همدارنګه دزرداديانواودنظارډلي اوسیافوف دلندغروټول جنایتونه لیدلي خوبیایې هم له خپل دین اوعزت څخه په کلکه دفاع کړي اونه دي ورته تسلیم شوي اوترټولوښکاره اونیږدي حقیقت خودادی چې ننګیالي افغانان دامریکاد(B۵۲) اونوروبې شمیره طلسمونوپه مقابل کې خوراپه نره مقابله وکړه او هیڅکله بې جذبې اوبې مورا له نشول ، دغه اربکي لوچکان خودلوی اومتعال رب (ج) په مرسته هیڅ هم نشي کولای بلکي دملت اراده اودمجاهدینو تصفیوي عملیات به یې لکه خس اوخاشاک دځمکي له مخ نه کال اونیم کې ټولوي اومحوه کیږي به (انشاالله تعالی)

د عثماني خلافت یوه بیلګه

دعثماني خلافت په وخت کي به د هر کور په دروازه د دزوازي د ټکولو لپاره دوه ځنځیرونه ځوړندول چی یو به وړوکی ځنځیر وه او بل غټ دا کار د دی لپاره عام وه چی کله به د چا کور ته میلمه راغی، که میلمنه به ښځه وه نو وړوکي ځنځیر سره به یی دزوازه ټکوله او د کور نه به وز ته ښځه راتله تر څو دروازه ور تله خلاصه کړی او که سړی به میلمه وه نو غټ ځنځیر به یی تکوه تر څو د کور نه ور ته سړی دروازه خلاصه کړی.

کله به چب په کوم کور کي مریض.وه نو د هغه کور خلکو به د دروازي له پاڅه د سرو ګلانو یو. ګیډۍ کیښوده تر څو خلک پوه شي چی په دی کور کی مریض دی او بقالان ، ماشومان او لاروي په کلار تیر شی تر څو د دوی غږ دغه مریض په تنګ نکړی



داخلاقي فساد اوج

سید سعید


ځوورځې مخکې رسنیوخورایوبوږنونکی خبرخپور کړ :په خبرکي ویل شوي چي دتخارولایت دخواجه غارولسوالۍ په هزارباغ سیمه کي پریوځلورکلن ماشوم جنسي تېرى شوى دى ،ځایي پولیسوبي بي سي ته ویلي چي په تېریوکال کي یې په دغه ولایت کي پرماشومانودجنسي تیري ځلورورتـه پیښې ثبت کړي دي .

ځومیاشتي وړاندي دکندوزدامام صاحب ولسوالۍ کي هم پریوځلورکلن ماشومان جنسي تیرى شوى ؤ.دغه رازځیني هغه ښځي چي په دولتي اوغیردولتي ارګانونو کي دندي ترسره کوي شکایت کوي چي دفتردمشرانواوهمکارانودجنسي ځوروني سره لاس وګرېوان دي اوان کله ناکله په زورجنسي تمایل ته اړیستل کیږي . دافغانستان دبشري حقونوخپلواک کمیسیون وایې چي په تېر کال کي یې پرښځواوماشومانو دجنسي تیري ۱۶۰پیښې ثبت کړي دي .

زیاتره وګړي چي په افغانستان کي داخلاقي فسادیادونه کوي معمولادټوپکسالارۍ کرغیړني دورې ته نغوته کوي ،خودتیري لسیزي همداډول ناوړه پیښوته که وکتل شي دپاټکسالارۍ دورې نیمایې ته هم نه شي رسیداى .

داخلاقي فساددخپریدوعمده عوامل درسنیو بې سرحده ازادي اودلوړپوړوچارواکوعملي بداخلاقي ده .دلته دنوري نړۍ پرخلاف رسنۍ دملي ګټو، کلتوري اواخلاقي پولواودیني ارزښتونوهیڅ خیال نه ساتي ،چي خپروني یې وکتل شي ته به وایې چي داخلک داخلاقوا وارزښتونوپه نوم بیخي هیڅ هم نه پیژني ،اوکه دمخنیوي اواصلاح خبره یې مطرح شي ،نوهغوى (برحاله چارواکي)چي څه تمه ترې کیداى شي بیاخپله په همدې بوین ډنډ کي دومره غرق دي چي رسنۍ یې نسوارهم نه دي .

ددولت دځلورګونوقواووخیتي داداري فسادپه شان له اخلاقي هغه هم پړسیدلي دي ،داخلاقي فساد ساري ناروغۍ له اویاکلن قاضي ظهورالدین اودځینورسنیودځښتنانو یوشمېر چلوونکو څخه نیولې تروزیرعمرزاخېلوال ،والي ګل اغاشیرزي ،سفیرسیدطیب جواد ،سناتورپاچاخان ځدران اوعمرخوړلي حقوقپوه کبیررنجبر پوري سرایت کړى دى . دپرچم ګوندپخوانی اودحق اوعدالت ګونداوسنی غړى ،دولسي جرګي مخکینی عضوه اودډیموکراټوحقوقپوهانودټولني مشر(ښاغلی کبیررنجبر) دتېرکال په سرطان کي داختطاف اوجنسي تیري په جرم هغه مهال ځارنوالۍ ته وبلل شو،چي په حرمسراى کي یې یوه نجلۍ چي نهه میاشتي مخکي دکابل ددې سبزڅخه تښتول شوې وه وموندل شوه ،یادي شوي مظلومي نجلۍ ویلي چي :«له ځومیاشتوراهیسي په دغه کورکي درنجبرترجنسي ځوروني لاندي وه !». رنجبر چي دنجیب واکمنۍ په یوه موده کي یې دعلومواکاډمۍ پرمهم پوسټ کارکاوه هماغه وخت هم دروته جنایت مرتکب شوى ؤ،خوهغه مهال یې چاپه اړه دخولې چوله ولوزړه نشوالی کولاى . درنجبرډیري مرکې مي دازادۍ اوبي بي سي راډیوسره یادې دي چي وښځوته دحقونودورکړي ناري به یې وهلې ،خوافسوس ډیرافسوس چي خپله یې دیومشهورحقوقپوه !! په توګه دیوې نولس کلنې افغاني نجلۍ ازادژوندسلب کړى ؤاوپه پرله پسې ډول یې دهغې بشري حق اوعفت ترکاوبایې پټلانه اوروسي بوټونولاندي کاوه .



په کومه ټولنه کي چي دګورپرغاړه ولاړقاضیان او حقوق پوهان داخلاقي فسادپه خوساړنړونوکي غوپه وي ،دملت دېلابیلو قشرونوڅوانانوته به څه وښيي ؟،دفرداوټولني کوم حقوق به ورته توضیح کړي ؟،دبازاراودفترکوم اخلاقي اصل به ورته روښانه کړي ؟،دنراوښځي،مشراوکشر کوم مسؤلیتونه به تشخیص اوورانـدي کـړي ؟!،جوتـه ده چـي همـدډول قاضیان اوحقوقپوهان به کله هم دخپل نس وفرج داشباع اوغوښتنوپرته بل څه ته ازګارنشي .

په ډیرتأسف سره په کوردننه اوبهردهغه ویاړلي هیواد (افغانستان)له بطنه پرله پسي پرښځو،تنکیونجونواو ډیروکوچنیو ماشومانودجنسي تیریوراپورونه اوروچي تاریخ يې په میړانه ،سرښندنه ،حیا،عفت ،ستر ،میلمه پالنه ،سخاوت ،اخلاص او صداقت ښایسته دی .ددې ناوړه پدېدې په وده کي لکه مخکي چي اشاره ورته وشوه ترهرڅاډېرديوشمېررسنیو اودکابل دمنفوررژیم دچارواکو رول جوت دی ،ځکه همدادوی دي چي داسلامي اومشروع کلتوري ارزښتونوسره کاملامخالف وهغوعقیدوي، عنعنوي اوتاریخي منحرف اوخالص فحش سریالونوته دخپریدواجازه ورکوي چي دټولني په اخلاقي انحطاط اوڅوان کهول په انحراف کي يې مخکښ رول لوبولی اولاهم جریان لري ! .


دکابل موجودرژیم چي په اداري فسادکي یې په تېروکلونوکي په پرله پسي ډول په نړیواله کچه لومړی ،دوهم اودریم مقام وګاټه ، اوس نژدې ده چي په اخلاقي فسادکي هم نړیواله جایزه واخلي ،دوی خوافغانستان وشرماوه، سترڅښتن جل جلاله دي ددې شرمیدلوفاسدوچارواکوبیخ هم ژرترژره وباسي چي ټولنه يې له بدنامی ،فساداوشرڅخه خلاصه شي .امین

کیلیانې

خداي پاک دهر مطلوب څیز لپاره کیلي پیداکړې، چې وربانديې پرانستل کېږي

- ✓ د لمانځه کیلي یې: پاکوالی کرځولې
- ✓ د حج لپاره : احرام
- ✓ د نېکۍ لپاره: صداقت او رښتینولې
- ✓ د جنت لپاره : یووالې او توحید
- ✓ د علم او پوهې لپاره: ښه پوښتنه
- ✓ د بریالیتوب لپاره: صبر او زغم
- ✓ د زیاتوالې لپاره: شکر
- ✓ د ولایت لپاره: مینه او یادونه
- ✓ د کامیابۍ لپاره: تقوی او پرهېزګاري \
- ✓ د توفیق لپاره: رغبت او رهبت
- ✓ د منلو لپاره: دعا او غوښتنه
- ✓ د زړه د ژوند لپاره: په قرآن کې فکر او تدبر
- ✓ دسهار مهال خشوع او زاري
- ✓ د روزۍ لپاره: له استغفار او تقوی سره کوښښ
- ✓ او د عزت لپاره: د خداي امر منل او اطاعت کول
- ✓ او د هر شر لپاره: د دنیا مینه او ډېرې غوښتنې

اخځ/ حادي الأرواح ۱۰۰ م



د ولسي جرګې يو شمېر برحاله وکيلانې هڅه کوي، د وکالت دورې تر ختمېدو مخکې د سياسي- امنيتي دوسيو په مرسته لويديځ کې د پناه چانس ومومي.

د ولسي جرګې د تېرې دورې ښځينه غړې پروين مومند په جرمني کې، سونا نيلوفر په استراليا کې، فهيمه احمدزۍ په امريکا کې، نجيبه شريف په ناروې کې، فرشته انوري او ملالۍ جويا له خپلو کورنيو سره په لويديځ کې پناه اخيستې ده.

وېره او د سياسي شعور ټيټوالی هغه لاملونه دي، چې له افغانستان څخه چارواکي او د ولسي جرګې غړي فراري کوي او په بهرنيو هېوادونو کې يې سياسي پناته اړ ايستې دي.


په تېرو دورو کې د ولسي جرګې د غړيو او د افغان دولت د يو شمېر لوړ پوړو چارواکو د دندو تر پايته رسېدو وروسته او يا هم د دندو په جريان کې ځينې يې بهرنيو هېوادونو ته وتلي او يو شمېر يې په دې هڅه کې دي، چې له هېواده ووځي او سياسي پنا واخلي.

پدغه ډله کې د ولسي جرګې غړې فرشتې انوري په لويديځ کې، پروين مومند په جرمني کې، سونا نيلوفر په استراليا کې، فهيمه احمدزۍ په امريکا کې نجيبې شريف په ناروې کې او ملالۍ جويا له خپلو کورنيو سره پناه اخيستې ده.

يوې سرچينې محورته وويل، همدا اوس يو شمېر پخوانۍ او اوسنۍ وکيلانې پدې لټه کې دي، چې څه ډول د وکالت د دورې تر ختمېدو د مخه د سياسي - امنيتي دوسيو په مرسته په لويديځ کې پنا واخلي. دوی ددې څه ښې بېلګې د ولسي جرګې پخوانۍ غړې نورزيه اتمر هڅې يادوي، چې اوس مهال ويل کېږي د کورني تاوتريخوالي له امله د کابل په يوې امن خونه کې ژوند کوي او هڅه کوي، پدې تبليغاتو په لويديځ کې سياسي پنا ترلاسه کړي.

سرچينه زياتوي، د ولسي جرګې يو شمېر اوسنۍ غړې هم دا هڅه کوي له خپلو کورنيو سره په بهرنيو هېوادونو کې مېشت شي. دوی د فاطمې نظري او حبيبې دانش نمونه اخلي، چې استراليا او کاناډا ته يې خپل چمتو کړي اسناد استولي دي.

په ولسي جرګه کې د کندهار د خلکو استازې شکيبا هاشمي، محورته وويل، يو شمېر ښځينه وکيلانې د خپل ولس په رايه او باور معاملې کوي او دوی په راتلونکي کې په ولسي جرګه کې د ښځو چانسونه ضايع کوي.



د حقوقي چارو شنونکی اجمل هوډمن وايي، له افغانستان نه د جګړو په لسيزه کې زيات کسان ناهيلي شوي وو، خو په تېرو لسو کلونو کې ورته تر يوې کچې هيلې ورکړل شوې او ژمنې ورسره وشوې، چې د نه پوره کېدو له دې امله يې اوس د فرار زمينه برابره شوې ده.

دی وايي، ډېر کم شمېر کسان دي، چې مصئونيت نه احساسوي او د خطر احساس کوي، خو زيات شمېر کسان بيا له هېواد سره مينه نه لري، نو له همدې امله په دې لټه کې دي، چې څه ډول د ځان لپاره يو دوسيه جوړه کړي، څو په لويديځ کې پناه واخستی شي:((په دغه ډله کې ډېری د پارلمان وکيلان، لوړپوړي په فساد کې ښکېل چارواکي او ځيني ژورنالېستان هم شته دي، چې په لويديځ کې د سياسي پنا په لټه کې دي.))

خو د ولسي جرګې غړي د پارلماني مصئونيت څخه په ګټه اخيستو دا زمينه سازي کوي. په ۱۳۸۷ کال کې داسې رپوټونه خپاره شول، چې ګويا د کوچيانو استازې پروين مومند او فهيمه احمدزۍ په ولسي جرګه کې د خپل وکالت پر مهال له جرمني او کاناډا څخه د سياسي پنا غوښتنه کړې وه. خو ځينې نورو يې له محور سره په خبرو کې وويل، هېوادنۍ مينې اړ ايستي، چې که و هم مري له افغانستانه نه وځي او د وتلو اوازې يې دروغ دي.

له وړاندې يو شمېر نور لوړ پوړي چارواکي هم د فساد د دوسيو له امله له هېواده فراري شوي دي، چې ښې بېلګې يې: د حج او اوقاف پخواني وزير او د جمعيت ګوند مخکښ غړی صديق چکري، د افغانستان بانک پخواني رييس عبدالقدير فطرت، د آريانا افغان هوايي شرکت پخواني رييس نادر اتش، د ترانسپورت پخواني وزير عنايت الله قاسمي او ځينې نور دي، خو اوس يو شمېر نور له خپلو موقفونو د سياسي دوسيو په وسيله دغه هڅې کوي

روغـــتيــا :

دوينې لوړ کوليسټرول نښې:

د کوليسټرول نورماله يا مطلوبه اندازه ۲۰۰ mg/dl ده چې بارډرلاين يا اخيرې پوله يې ۲۰۰-۲۳۹ mg/dl ده که له دی اندازې څخه دوينې کليسټرول لوړ شی دلاندې ستونزو لامل ګرځی:

۱ – صدری خناق يا دسينې درد چې غاړې، چپ لاس، معدې او شاخواته انتشار مومی.

۲ – دګرځيدو په وخت کې دلينګيو دردونه، چې دوينې دړګونو د تنګوالی له وجی مينځ ته راځی.

۳ – په وينه کې دغوټې يا لختی منځ ته راتلل چې کيدای شی دوينې د رګونو د بنديدو سبب وګرځی او همدارنګه دوينې درګونو پريکيدل يا سوری کيدل.

۴ – دبدن دپوستکی خصوصا دستر ګو په شاوخوا دپنډو زيړ رنګه لکو رامنځته کيدل

دلوړ کوليسټرول خطرونه :

۱ – دوينې درګونو د ديوال سختوالی او تنګوالی .

۲ – دزړه د رګونو ناروغۍ او تنګوالی چه په پايله کې دزړه عضله (ميوکارډ) په پوره اندازه وينه او اوکسيجن نشی ترلاسه کولی .

۳ – کله چې دزړه عضله پوره وينه او اوکسيجن ترلاسه نه کړی دزړه دحملو او حتی دزړه دودريدو او مړينی لامل ګرځی.

۴ – دسينې د درد او ناراحتۍ (صدری حناق) لامل ګرځی.

۵ – دوينې درګونو دناروغيو لامل ګرځی

چوره


چوره، هغه روغتيايي ستونزه ده چې، په هر عمر کې نارينه ته پيداکېږي. کله چې، په نس کې د کولمو يوه برخه له خپل عادي حالت څخه واوړي او بېځايه شي نو دې حالت ته hernia يا چوره ويل کېږي يا هم کله چې، د ځينو لاملونو له مخې د کولمو پر مخ غوړيدلې پرده سورۍ شي نو په پايله کې يې د کولمو يوه برخه بې ځايه او په نوموړې پرده کې له سوری ځای څخه راوزي.

عموما د درنو شيانو دپور ته کولو، پړ مخی وليدل او داسی نور درانهکارونه د چورې لامل ګرځی. درد او نورې ستونزې په سوری شوی برخې پورې اړه لرې که چېرې سوری لوی وي، نو ستونزې هم ډېرې وي او که کوچنۍ وي نو ستونزې يې هم لږې وي، خو د وخت په تېرېدو سره کېدای شي چې، دغه ستونزې ډېرې شي. په دغه وخت کې ناروغ ته سخت درد او کېدای شي چې، د هاضمې ستونزې هم پيداشي.

.چوره که دوجود په هره برخه کې وي، نو څرګندې نښې لري، د بېلګې په توګه که چېرې چوره په نس کې وي نو د نس په پورته يا کښته برخه کې او يا هم له نامه سره وي، يوډول پاړسوب پيداکېږي.

که ددغه پاړسوب برخه ورو وروموښل شي، نو بير ته خپل عادي حالت ته راګرځي، خو کېدای شي چې، دغه پاړسوب بير ته پيداشي."

که تاسو هم له داسې ستونزې سره مخ کيږئ نو کوښښ وکړئ هر څومره ژر چې کيدای شی ځان ډاکتر ته ورسوئ څکه چې په کورنيو درملويې درملنه ناشونې ده



د کابل او واشنګټن د اختلاف تر شا

دفردي مصؤنيت انديښني


سيد اختيار سباوون

د کابل د زاړه ښار د مسګرانو په کوڅه کې د رضا خان پښ دوکان و، هغه به هر سهار د دوکان مخې ته د ځځلو دود جوړ کړی وو، کوم چا ورته وويل علي رضا دا دود د نظره کبدو لپاره کوې که څنګه؟ علي رضا ورته وويل، چې نه دا دود او لوګی ددې لپاره کوم چې خلک زما پر خوا را نشي او د سړک بلې غاړې ته واوړي څکه د دوکان له مخې يې راته پياده رو جوړ کړی دی .

رضا خان بيچاره خو يوازې څو پياده بيچاره ګان له ځانه چپ کول؛ اما زموږ چاروا کو او امريکا د بارودو دودونه جوړ کړي څو د خلکو مخ ورڅخه واوړي، پر موږ مسلطه ورځ او زموږ د ورځني سياست مسير او د هغې د انحراف او انصراف لاملونه ټول په يوه مخه د رضا پښ له فورمول سره سم پر مخ روان دي، هيڅوک له رضا څخه نه پوښتي چې ولې يې ښځايه دودونه جوړ کړي دي او ټوله کوڅه يې د لارې بدلولو ته اړوېستې ده؟ اصل کې د کرزي او امريکا اختلافات د رضا خان دود او لوګي ته ورته دي.

کرزی او د هغې مقابل واشنګټن په څرګنده د يو شمېر داسې شرايطو د شتون له امله په اختلاف واوښتل چې، اصلاً پکې رېښتينولي په پام نه راځي څکه د شرايطو په لړ ليک کې د حرف او عمل ترمنځ توپيرونه له هېچا پټ نه دي، دوی په دې ظاهري اختلاف سره د خلکو سوچ او شعور په بيه اخلي او وينو يې چې د خلکو فکر يې بوخت کړی دی.

د افغانستان د امنيت مسئله، د پوځ د تجهيزاتو مسئله، د مرستو د تداوم مسئله، له کانګريس څخه ددغه تړون د تصويب مسئله او داسې نور مسايل چې د پردې پر مخ د اختلاف باعث شول اما وروسته وروسته د پردې تر شا داسې نا ويلي مسايل مخې ته راغلل چې ګوا کې په اوسنۍ اداره کې د يو شمېر ښاغليو ! د راتلونکې خونديتوب مسئله ددې اختلاف منځنۍ نکته ده او دا کار له امريکا څخه د افغانستان د قوانينو د نقض په حيث يوه غير مرېي غوښتنه ده.




د عامو خلکو سره دا ډول اندېښنې وروسته تر هغې راپیدا شوې چې د کرزي د مشرۍ وخت پای ومومي او کابو او ه اته میاشتې وروسته د نوې ادارې د رامنځته کېدو امکانات شته او په داسې یو مهال له امریکا سره د کرزي اختلاف د رسنیو د سرلیکونو سودا جوړه شوه، پداسې حال کې چې ولس ته نه امریکا او نه هم کرزي د قناعت وړ کومه خبره په شونډو لري.

مونږ پوهېږو، چې جګړه د طبیعي سرچېنو پر سر روانه ده او دغه جوهر تر امریکا په اسیا کې زیات دی لهذا اسیا ته د امریکا مستقیم رانوتل هم اسانه کار نه دی، ځکه دلته هم یو شمېر داسې هېوادونه موجود دي چې په خوله کې زهري غاښونه لري او دغه زهري غاښونه یوازې د بغاوتونو او انارشیو په ایجادولو سره له منځه تللای شي او دا کار امریکا پېل کړی دی. چین ته تبت، مسکو ته چیچن، ایران ته موسویان، هند ته پاکستان او داسې نور... اوس چې امریکا اسیا ته رانوتل غواړي نو دې کار لپاره یې نوې تګلاره تاکلې چې ښه بېلګه یې د ترهګرۍ په نامه روانه لوبه ده، په دغه لوبو ده کې د جګړې تعریف نشته خو تولید یې شته او هغه د جوړو نظامونو ړنګول، د خلکو ترمنځ د قدرتونو د جګړې پېلول، په هره توده نکته کې د استخباراتي میکانیزم پلې کول او په ټوله کې د هغو افرادو او اشخاصو له منځه وړل دي، چې بحرانونو ته پر حل لارو فکر کوي او یا عملاً لاس په کار دي.

په داسې یو تصور والا جګړه کې د وخت په تېرېدو سره انتخاب هم توپیر پیدا کوي او هېڅ پړا و د تضمین او ګارنټۍ صلاحیت نه لري، لهذا که داسې وي چې د امریکا شرایط نور د افغانستان په موجوده اداره کې نه بشپړېږي، نو لازمې ده چې اداره بدله کړي او موجوده جوړښت ورسره بدل کړي، که داسې صورتحال مخې ته راځي، نو احتمالاً شایي نوې اداره د تېرو دولسو کلونو په ترخ کې د تر سره شویو حساباتو یو نری غوندې جاج واخلي او یو عمومي سپیناوي ته خبره راوباسي، په دې کار سره به د یو شمېر ښاغلیو له کرداره پرده هم پورته شي او تور او سپین به هم سره بېل شي. نو بیا په اوسنۍ اداره کې د شتو ښاغلیو ډېرو سره باید د خپل مسؤنیت سوال مطرح شوی وي او دغه اندېښنې به یې وهڅوي چې په دې برخه کې له امریکا سره یو نامشروع معامله وکړي.

په ټولیز اعتقاد، که چېرته امریکا له موجوده ادارې سره د فردي مسؤنیت په اړه کومې هوکړې ته ورسي او یا د یو یا څو افرادو راتلونکی له قانوني تعقیبه بېغمه کړي او یایې مرسته په پام کې ونیسي، نو لومړی خو دا د امریکا قانوني حق نه جوړېږي او بیا دا چې د زرګونو هغو بېګناه انسانانو د وژنې فلسفه به رښتیا هم عمدي وي او د تاریخ جبر ته به یې یو ورځ ځواب ووایي، مګر نن یې افغانان ورسره نه مني او نه د فساد په لومه د ښکېلو کسانو سره د مرستې ملاتړ کوي، ځکه د فردي مسؤنیت په فلسفه کې خپله راتلونکې تر نن هم بدترهویني او له دې امله یې کلک مخالفت کوو



تنکي اتلان

لطيف الله / ع

شهيد ملاسميع الله عمري

دترنم بلبل اونوميالی اتـل شهيدسميع الله عمري چې په نصرت بانـدي يې هم شهرت لاره ، دلوګر ولايـت دمرکـز دپادخواب شانه کلـي پـه يـوه مجاهده اوشهيدپالي کـورني کې يې ۲۴ کاله وړاندې دې نـړی تـه سترګي پرانيستلي ، پلاريـې ملااحمـداالله اونيکه يې ملاغلام نبي نوميږي .

دشهيدملاسميع الله پلار اودپلار تره يې (مرحـوم شهيدصـوفي جيلانـي) دروسـانو پرخلاف په مقدس جهاد کې مهمه ونډه درلودلي اودخپل کلـي جهـادي قومندانان وو

شهيد ، خپلی ړومبنی ديني زدکړې دکلي دجوماتونو له ملا صاحبانو اوعصری زدکړي يې هم دکلي په مکتـب کـې تـراوم ټولګي پوري بشپړې کړي

څرنګـه چـې امريکـايی اشـغالګرو اودنـاټو وحشـي قواوودافغانستان پرپـاک حـريم يرغـل راوړی وو ، نولکـه دهيواددنورو مجاهدوځلميانو اوځوانانوپه څيرشهيدسميع الله هم دجهاد اوغيرت ولولو واخيست ، زدکړي بـې نيمګـړي پريښودي اوعملايې په جهادلاس پوري کړ.

نوموړی چې دميړانې او زړورتيادتګ مناروو ،شپه ورځ بـه پـه دې لټـه کـې وو چـې څنګـه اوچيرتـه پـه اشـغالګرو اوداسلام اوهيوادپـه دښـمنانوزړه تـش کـړي او بريـدپرې ترسره کړي ، دلوګرپه نوروسيموکې بـه هـم تـل پـه جهـادي امورواوعملياتوکې بوخت وو خومهم سنګر يې دعيسی خيلـو سيمه ، دپادخواب شـانه لـه کلـي څخـه پرچپـاولګرو حملـي اودفـاع اودخدرپـه کمپـاين توغنـدويي اودميزايلـو کفرلړزونکي بريدونه وو

شهيدسميع الله به تنهاپه خپـل ولايـت اکتفانکولـه ، بلکي نوروولايتونو ته به يـې هـم سـفرکاوه اولـه ملګروسـره بـه پـه جهـاداو فـداکار يوکې سهيم وو چې يووخـت دکنـدهار ولايت دپنجوايی ولسوالی ته لاړه او هلتـه يـې پـه ګڼـو عمليـاتوکې فعالـه برخـه واخيستله ، ترڅو چې پـه نومـوړي ولسـوالی کـې داجيردښمن له لوري لـه يـوې خـونړۍ جګـړې ورسـته اسيراودکندهارزندان ته يووړل شو ، چې له يونيم کال زنـدان تيرولووروسـته الله پـاک دکندهارزنـدان داتلو اسيرانو دتاريخي معرکي اوتکتيک په پايلـه کـې چـې زنـدان يـې مـات کړلـه سوونونورو مجاهدينوسـره يوځـای راخلاص اونجات يې پيداکړ .

خودحق او ميړانې ددغه سپاهي لـه جهـاد څخـه زړه نـه صـبريده ، هماغـه ووچـې لـه څـه مـودي تيريدووروسـته دلوګردبرکي برک ولسوالی په يوې سيمې کـې دلـوګر ديـوه بل نامتو مجاهدمولوي عبدالله سره يوځای دامريکايـانو پـه يوه چاپه کې ونيول شو ، امريکايانو مولوي عبـدالله بګـرام زندان ته يووړ اوسميع الله يـې پـه کابـل کـې دملي امنيـت وحشيانوتـه تسليم کړ، چې

له ډيروتکليفونو اوشکنجو تيرولووروسته يې دڅرخي پله زندان ورکړ ، دڅرخـي پلـه لـه څـوکلن زنـدان څخـه الله تعالی په داسې حال کې راخلاص کړ چې هلته يې ترورې دوري پـوري کتابونـه لـه اسـيروعلمای کرامـو څخـه ويلـي وو ، شـهيدچې دخـواږه غـږ څښـتن وو پـه زنـدان کـې يـې شعراوشاعری اوترنم ته هم مخه کړې وه او حماسي ترانـي به يې په ډيرزړه راښکونکي انداز زمزمه کولي

کله چې له زندان نه راووت دترنم مينه وال يې دومره ګڼ اوبـې شـميره شـول چـې آن دروان جهـاد دنـامتو ترانـه

ويونکي په کتارکې حساب او په کم وخت کې يې لسګونه دنعتونو اوترانو صوتي اوبصري کيستې اوسيډياني بازار ته راووتلي اولراوبرخوري وګرځيدي

خو! دتاندي جهادي جذبي دغه نوميالى اتل ، په زندانونوکې داسلام ددښمنانو له لوري کړول شوي غازي ، ددرځنو اشغالګرو قاتل مجاهد اودخواږه لحن اوحنجري بلبل (شهيد ملاسميع الله عمري) دروان کال ۱۳۹۲ ل دزمرى دمياشتي په دويمه نيټه د چهارشنبى په ورځ دامريکايي عسکرو په يوه هوايي بريد کې دعيسى خيلو په سيمه کې دشهادت لوړ مقام ته ورسيده اوخپله تنکى اونوراني ځواني يې دالله درضا اوديوه اسلامي نظام دټينګښت په هيله نذرانه اوپه ابدي خوب ويده شو ، ځاى يې فردوس جنت وګرځه او مجاهدي کورنى ته دې الله تعالى جميل صبراونعم البدل په دارينوکې نصيب وګرځوي امين (انالله واناالیه راجعون)

شهيدانجينر ثمرګل

شهيدانجينر ثمرګل چه په حافظ باندې شهرت درلود دحاجي سورګل زوی دحاجی نورمحمد لمسی دپادخواب شانه دکلی اوسيدونکی په کال ۱۳۶۹ لمريز کې پخپل يادپلرني ټاټوبی کې يې دې نيمګړې دنياګى ته سترګي وغوړولې .

نوموړی خپلې لومړنی دينی زده کړې دخپل کلي دجومات له ملاامام څخه وويلي ، بيادمنځنيو عصري زدکړو په خاطر دپادخواب شانه منځنی ښونځی اوليسه وويله ، داهغه وخت وه چې شهيد دځواني منګ ته رسيدلی وه او په هيوادامريکايي اشغال ناولي پنجې خښي کړي وي


شهيدانجينرثمرګل چې له زدکړوسره سره له جهادسره خاصه مينه درلوده دخپل کلي له جهادي مشرڅخه به يې هميش غوښتل چې دجهادلپاره لازمي اسانتياوي ورته برابري کړي ، خو دکلي دلګي مشرورته ټينګارداوه چې دجهادپه خواکې بايدلوړوزدکړوته هم دوام ورکړي

هماغه ووچې نوموړي دخوست پوهنتون ته په لوړونمبروبريالى شواودانجنيري پوهنځي ته ومنل شو، شهيدانجينرثمرګل له جهادسره دبې کچې مينې له امله زياته تلوسه لرله چې په اشغالګرو مخامخ بريدونه وکړي ، امريکايي ټانګونه والوزوي او دښمن په اسانی سره دامجال پيدانکړي چې دپادخواب شانه کلي ته رانئوځي .

شهيدثمرګل که څه هم له لوړزهانت اوپوهي څخه برخمن وواودانجنيرى پوهنځى يې ترددريم کال پوري ولوسته ، خوهميشه به يې ويل چې درس اوپوهنتون ورته لکه زندان غوندي بريښي اوتل دارزولري چې په جهادي اوروکې مصروف اوله اشغالګروسره په معرکه کې بوخت ووسي .

شهيدچې دلوګردمرکز اړونددعيسى خيلو سيمه اوهم په خپل کلي کې دمربوطه دلګي مشرتوب ورله غاړې وو لسګونه داسې عمليات يې په دښمن طرحه اوپلي کړي چې له امله يې اشغالګروته په درځنونو ځاني تلفات وراوړيدلي او ګڼ وسايط اوټانګونه يې له منځه وړل شوي ، چې تيرکال (دالفاروق) دعملياتو په اوږدوکې دده اوديوه بل شهيدورورسميع الله په ږزو داشغالګرويوه هليکفترهم رانسکوره اوله عمليى سره له منځه يووړل شوه

په پاى کې داسلام دغه ريښتينى سپاهي چې داخلاقو ، ديانت ، امانتدارى او اطاعت يو لوى غر او ستره بيلګه وه ، خپله تنکى ځواني يې داسلام په لار کې نذرانه او دروان لمريزکال دجوزادمياشتې په ۲۴ نيټه يې دعيسى خيلو په سيمه کې له دښمن سره ترېوې سختې اوتاريخي معرکې ورسته دشهادت جام په سرواړاوه (اناالله واناالیه راجعون) جنت الفردوس يې نصيب وګرزه) امين ، شاته يې په نورودوستانو اودکورنى په غږوسربيره ، دردمند پلار ، خوارکی مور ، يوه بې بې اودوه لورياني پاته دي .



شخصیت جهادي وعالم بزرگوار وحقجو

نوشته (قاضی عبدالجلال)

مولوی عبدالقدوس رحمه الله

نمیرد هرگز آنکه دلش زنده شد بعشق = ثبت است بر جریدهٔ عالم دوام ما

الحاج مولوی عبدالقدوس رحمه الله فرزند مولوی عبدالرزاق و جدش مولوی محمد جان میباشد.

در سال ۱۳۱۶ ه ش در درهٔ پشه یی ولسوالی پغمان ولایت کابل در یک فامیل متدین و علم دوست چشم بجهان کشود و مرحوم بعد از سپری نمودن ایام کودکی در آغوش والدین نزد پسر کاکایش مولوی صاحب عبدالغنی به تعلیم علوم دینی پرداخت قبل از تکمیل و اتمام علوم و فنون کاکایش مولوی صاحب عبدالغنی رحمة الله چشم از جهان فانی بست ، مرحوم بخاطر تکمیل آرزوهای دینی اش نزد استاد کل جناب شیخ الحدیث الحاج مولوی صاحب عبدالله جان به ولایت میدان وردک رفته بقیه دروس خود را با دورهٔ حدیث نزد ایشان به اتمام رسانید .

مرحوم بعد از فراغت دستار فضیلت را در مدرسه میاه گل جان آغا واقع ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا و سند فراغت را به دست آورد .

مرحوم بار اول بصفت امام و خطیب مسجد جامع هزار بزها واقع قلعه واحد کوته سنگی ولایت کابل تعین و به تدریس و تعلیم جونان پرداخت .

وآن زمانی بود که امواج کفر و الحاد و استعمار گرایی کمونیزم کشور ما را تهدید می کرد ، روز بروز جوانان ما را از جاده توحید عقیده ، ایمان منحرف می ساخت


مرحوم بخاطر ادای حق وراثت و ادای حق وجایب دینی بخاطر تحقق بخشیدن ارمانهای اسلامی شب و روز سعی و تلاش نمود و در سال ۱۳۴۹ هنگامیکه کمونیست های مزدور و نوکران سرسپرده کرملین ، قرآن کریم این آخرین کتاب آسمانی و آخرین معجزه همیشگی اسلام را از لیله پوهنتون کابل به زمین انداختند ، پیامبر بزرگ اسلام راالعیاذبالله بنام مرد نه زنه توهین کردند ، این عمل کفری سبب قهر و غضب علماء عاملین و قهرمانان میدان انقلاب اسلامی گردید مسجد پل خشتی کابل شاهد بزرگترین تجمع علماء متدین این مقتدایان و پیشوایان حقیقی مردم مسلمان افغانستان بود ، مولوی صاحب عبدالقدوس مرحوم عضو راستین فعال و گرداننده این مجلس بود که بالآخره توسط دولت فاسد و ظالم وقت به ۹ ماه حبس محکوم گردید. مرحوم زمانیکه حرکت علماء کرام بنام جمعیت علماء تآسیس شد عضویت این جمعیت را نیز حاصل نمود زیرا از اهداف والا و مقدس مرحوم وحدت امت مسلمه بود و میخواست رابطه جوانان را با علماء کرام مستحکم و قایم سازد تا افراد خود فروخته و اشخاص مزدور با توطیهٔ های گمراه کنند نتوانند بین علماء کرام و جوانان شان فاصلهٔ خاینانه ایجاد کنند.

به اساس همین فعالیت های خستگی نا پذیر مرحوم بود که دولت فاسد و ظالم وقت وی را بار دیگر محبوس کردند .

مرحوم را این تهدید ها و قید و بندها از مبارزه و خطبه های حق جویانه باز نداشت بلکه احساساتش را زنده و تیز تر میساخت زیرا که از کاکاهایش چون قاضی عبدالقادر شهید ، قاضی محمد فضل ، مولوی عبدالخالق ، مولوی عبدالغفار و مولوی عبدالقهار که در جنگ و جهاد استقلال طلبی علیه انگلیس ها رول فعال داشتند درس آموخته بود .

مرحوم بعد از کودتای سیاه هفت ثور ۱۳۵۷ ه ش مجبور به ترک وطن گردید و به کشور همسایه پاکستان هجرت نمود .

مرحوم در ایام هجرت کوشش و تلاش های زیاد نمود تا تنظیم های جهادی را با هم متحد سازد و در این راه از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نورزید.



مرحوم از اینکه با جوانان مسلمان علاقه بیشتر داشت همکاری خود را با حزب اسلامی اعلان کرد .

در حزب اسلامی وظایف ذیل را با کمال صداقت و راستی انجام داد .

۱- عضو فعال شورای مرکزی حزب و کدر رهبری آن

۲- آمریت ولایت کابل بعد از انتخابات آمریت ولایات ها .

۳- آمریت امراء .

۴- عضو کمیسون امورات نظامی .

۵- عضو کدر علمی دار الافتاء .

مرحوم بعد از اینکه ارمان دیرینه مردم مسلمان افغانستان اتحاد تنظیم های جهادی بود و یک اتحاد بین تنظیم های جهادی بوجود آمد که نام آن اتحاد اسلامی برای آزادی افغانستان بود و استاد سیاف آمر همین اتحاد بود و مولوی صاحب مرحوم عضو همین اتحاد بود و به تعهد خود باقیماند و پس آمریت عمومی مدارس و دار الحفاظ ها را به عهد داشت و وظیفه معاون دار الافتاء اتحاد اسلامی را بعهده داشت و همچنان عضو شورای مرکزی اتحاد اسلامی بود .

بعد از سقوط حکومت کمونستی در کابل و اختلافات و جنگ های تنظیمی داخلی از اشتراک در وظیفه رسمی اجتناب کرده و عضویت کمیته اصلاحی را که متشکل از علماء افغانستان ، پاکستان و عرب ها و قوماندانهای جهادی به سرپرستی مولوی صاحب عبدالله ذاکری و عضویت مثل مولوی صاحب جلال الدین حقانی و غیره بودند به عهده داشت و چندین بار بخاطر مصالحه و آشتی تنظیم های جهادی رفت و آمدهای زیادی بین ایشان قایم کرد ولی متآسفانه کشور ما افغانستان در نتیجه جنگ های خانمان سوز و بیهوده به خاک و خون آغوشته شد افراد خود خواو مستبد به اریکه قدرت تکیه زدند ، آرمان جهاد و شهداء مسیر خود را به انحراف تغیر داد .

در همین شرایط اختناق و سراسیمگی و حیران کننده ناگهان حرکت حقانی و متدین و دلسوز بنام حرکت طالبان آغاز بفعالیت نمودند تا افغانستان را از ورطهٔ هلاکت به ساحل نجات بکشانند و مولوی صاحب مرحوم به نداء و صداء التجاء ایشان لبیک گفت و چشم امید خود را بسوی طالبان راستین دوخت .

مرحوم ذریعه خطبه ها و موعظه ها به مجاهدین حقیقی دستور داد با حرکت طالبان بپیوستند و از جنگ دست بردارند .

بعد از پیروزی تحریک اسلامی طالبان در کابل مولوی صاحب مرحوم با سرپرست شورای وزیران امارت اسلامی افغانستان مرحوم ملا محمد ربانی رح چند بار ملاقات کرد پیشنهاد های اصلاحی و سازنده برای ایشان تقدیم نمود و مقامات امارت اسلامی مسؤلیت سرپرستی وزارت شهر سازی را به مرحوم منصوب کردند اما نظر به تکالیف و مریضی که عاید حالش گردیده بود ، نتوانیست این مسؤلیت را متقبل شود مرحوم همچنان مستمر و پر تلاش بخاطر وحدت و اتحاد مجاهدین راستین بود ، گروه هایکه میخواستند نهضت اصیل اسلامی طالبان را بد نام کنند و طالب نما بودند مورد انتقاد شدید مرحوم قرار گرفت و چند بار بخاطر تفکیک صفوف و تشخیص درست مجاهدین از مجاهد نما بحضور امیر المؤمنین جناب ملا محمد عمر مجاهد شرف یاب شد و در نتیجه همین دید و وادید ها بود که بسیاری از پیشنهاد های اصلاحی مرحوم مورد قبول کدر رهبری حرکت طالبان قرار گرفت .

این عمل مرحوم اولین بار نبود بلکه بار ها بخاطر رفع مسؤلیت دینی صدا و نعره وحدت را از طریق خطبه ها و موعظه ها در کانفرانس ها و مساجد جامع دیار هجرت بلند کرد و رهبران جهادی را مورد تنقید شدید قرار داد و مسؤل خون هزاران مجاهدین بی گناه دانست و عمل زشت رهبران را همیشه تقبیح میکرد که در نتیجه همین حق گویی مرحوم چند بار از طرف یکعهده رهبران جهادی تهدید به مرگ گردید ولی مرحوم مردانه وار به انتقاد های اصلاحی خود ادامه می داد .

مرحوم بعد از اشغال افغانستان در مرحله دوم توسط قوای کفری و صلیبی آمریکایی و پیمانی ناتو ، همچنان جهاد را فریضه و حق مردم افغانستان می دانست و حکومت مزدور و غلامان حلقه بگوش استعمار گران غربی و پیروان نظام حیوانی دیموکراسی برسمیت نمی شناخت ، با صراحت جهاد را در برابر ایشان فرض عین می دانست این شاهکاری های مجاهد بزرگ مولوی صاحب عبدالقدوس مرحوم باعث قطع روابط کلی بین وی و رهبران تنظیم های جهادی سابقه گردید .

مولوی صاحب مرحوم دیار هجرت زندگی را در بین مجاهدین همشه ترجیح میداد بالآخره بعد از ۳۵ سال مهاجرت بعد از ۴ سال در بستر مریضی به سن ۷۶ سالگی در شب جمعه المبارک نهم ماه رمضان المبارک ۱۴۳۴ ه ق مطابق ۲۷ سرطان ۱۳۹۲ هش جهان فانی را وداع گفته به لقاء پروردگارش شتافت ، مرحوم در مقبره شهداء و مجاهدین کمپ شمشتو پشاور بخاک سپرده شد روحش شاد و یادش گرامی باد .

سعدیا: مرد نیکو نام نمیرد هرگز = مرده آنست که نامش به نیکویی نبرند .

نمیرد هرگز آنکه دلش زنده شد بعشق = ثبت است بر جریدهٔ عالم دوام ما